# د سرطان کودتا

## د افغانستان د اوږدې بې ثباتۍ

# پيلامه


ليکوال:

**ډاکټر محمد حسن کاکړ**

د کابل پوهنتون د تاريخ پخوانی استاد

بسم الله الرحمن الرحیم

# ځانګړنې


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | :: د سرطان کودتا، د افغانستان د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه |
| لیکوال | :: پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ |
| خپرندوی | :: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه _ جرمني |
| چاپ کال | :: ۱۳۸۸ ل (۲۰۰۹ م) |
| چاپ شمېر | :: ۱۰۰۰ ټوکه |
| د خپرونو لړ | :: (۱۱۶) |
| کمپوز | :: د ټولنې اداره |
| ډیزاین | :: ذبیح شفق |

**چاپ او کمپیوټرخې**

**اسد دانش مطبعه**

د ښلورمې حوزې ښلور لارې. مروارید هوټل ته مخامخ.

ملي مارکیټ. کابل

Cell:0700-449298/0799-209272

www.danishpress.com

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| د خپرندویې تولنې یادښت | |
| سریزه | ۱ |
| د سرطان له کودتاه دمخه | ۵ |
| د سرطان کودتا | ۲۳ |
| محمد ظاهر | ۴۰ |
| د سرطان د کودتا په اړه بحث | ۴۴ |
| د افغانستان لومړی کودتایي حکومت | ۵۸ |
| له وطنپالو او ولسپالو سره ټکر | ۶۴ |
| له اسلامي بنسټ پالو سره ټکر | ۸۲ |
| د نویو سیاستونو په لور هڅې، دننه په وطن کې | ۹۰ |
| د نویو سیاستونو په لور هڅې، له هیواد نه دباندې | ۱۰۲ |
| شوروي اتحاد ته سفر | ۱۰۲ |
| پاکستان ته سفر | ۱۱۹ |
| ایران او ځینو نورو هیوادونو ته سفر | ۱۲۷ |
| د امریکې متحدو دولتونو سره اړیکې | ۱۳۱ |
| د جزا قانون، په کودتا باندې کودتا او د محمد داود پای | ۱۳۷ |
| محمد داود | ۱۴۸ |
| د ځینو اثرونو لنډه پېژندنه | ۱۵۵ |
| منابع | ۱۷۱ |

د خپرندویې ټولنې یادښت:

# د محمد داود خان په اړه مهم ټکي

شهید محمد داود خان د نوي او معاصر افغانستان یو نومیالی او د بحث وړ شخصیت دی، د افغانستان د شلمې پېړۍ په تاریخ کې هغه داسې یوه مطرح څېره ده چې د پېړۍ وروستۍ پېښې یې له شخصیت، افکارو او عملونو سره تړلې دي.

سږکال د افغانستان کلتوري ودې ټولنې پتېیلې ده چې د هغه د ژوند کار او په ځانګړي توګه د صدارت او جمهوریت د دورو په اړه یو څېړنیز سیمینار جوړ کړي، دغه سیمینار به د هغه د زوکړې سلمې کلیزې په ویاړ جوړېږي او د سیمینار لپاره به زموږ ټولنه یو شمېر مهم آثار هم چاپوي.

د نومیالي افغان مؤرخ پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ دغه اثر هم د همدغه هوډ یوه برخه ده او موږ په دې باور یو چې په دې کتاب کې د شهید محمد داود خان د شخصیت او په نوي تاریخ کې د هغه د ونډې او مسئولیت په اړه دقیقه علمي څېړنه او ارزونه شوې ده.

نیاغلي استاد پوهاند کاکړ ته د اوږده عمر دعاګانې کوو، چې په خپلو تاریخي څېړنو کې، په تېره بیا د معاصر افغانستان د تاریخ د پېر نوي ارخونه راوسپړي او د یو دقیق او ملي مؤرخ په توګه یې خپلو هېوادوالو ته وړاندې کړي، د افغان ملي مؤرخ پیاوړی نوم په اوسني افغانستان کې اوس یوازې د هغوی له نوم سره تړل کېږي، خدای ﷻ دې وکړي چې په افغانانو کې داسې نور مؤرخین هم ولرو.

په درناوی

**د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه**

جرمني، د کولن ښار.

۲۰۰۹ ع د مې ۲۲ / ۱۳۸۸ ل، د غبرګولي پنځمه

# سـريـزه

د دغـه اثـر لـومړی لیکـه مـې درې کالـه دمخـه بشپړه کړې وه، هغـه وخـت پـه دغـه فکـر وم چـې د محمـد داود کودتـا، د حفیظ الله امـین کودتـا او د شـوروپانو یرغـل پـه نامـه موضـوعګانې بـه پـه یـوه ځانګړې تـوک کـې بیـانوم، خـو دهغـه لـومړي لیکنـه چـې مـې تمامـه کړه، راتـه مالومـه شـوه، چـې لـه هغـه نـه بـه دغـسې یـو پنډ اثـر جوړ شـي، چـې خپرېـدل بـه یـې د هـر وخـت ونیـسي او لاتـدې او بانـدې کـول او لوسـتل بـه یـې د لوسـتونکو لپـاره ګران وي، نـو مـې هغـه پـه درې توکـو ووېـشله چـې « د سـرطان کودتـا د افغانـستان د اوږدې بـې ثبـاتي پيلامـه »، پـه نامـه يـې لـومړی او تـر هغـو دوه نورونـه کمکـي برخـه ده، هغـه دوه برخـې بـه يـې د ثـور کودتـا او د هغـې ژورې پـايلې پـه نامـه او د افغـان - شـوروي جګړې پـه نامـه لـه دې وروسته یو په بل پسې خپرې شي.

دغـه لیکنـه د افغانـستان د نـژدې تېـرې پـه اړه د تـاریخ يـو اثـر دی، خـو د نـژدې تېـرې تـاریخ لیکـل چـې زمـوږ د خپـل مهـال پېښـې هـم پـه کـې راځـي، ګـران وي. د هغـې پـه اړه دفتـري يـا رسـمي پـاڼې يـانې هغـه پـاڼې چـې د پېښـو پـه اړه وي او د لومړنيـو سـرچينو پـه نامـه يـادېږي يانـه وي، يـا ډېـرې کمـې وي، خـو د هغـه وخـت د نـورو کـسانو لیکنـې چـې ددويمـې سـرچینې يـا دويمـې منبـع پـه نامـه يـادېږي ډېـرې دي؛ لکـه چـې د محمـد داود د ولـسمشرۍ پـه اړه بنـايـسته ډېـرې دي، پـه دغـه اړه لـومړنۍ سـرچينه د دفتـري او

رسمي پاڼو او سندونو په بڼه اوس نه لیدلی کېږي، ممکن هیڅ ونه لیدل شي، هغه به په کورنۍ جګړه کې له منځه تللي وي، یا به باندنیانو هغه وخت وړي وي، چې تر لاس لاندې ډلې یې په کابل کې حاکمې وې.

عبدالجلیل جمیلي، د افغانستان د باندنیو چارو پخواني مامور، په خپلې یوې لیکنې کې چې په کال ۲۰۰۲ کې په افغان – جرمن ډاټ کام کې خپره شوې وه وایي چې روسانو «... تمام اسناد و مقاولاتیکه تا ختم دوره جمهوریت اول افغانستان بامضاء رسیده بود و نیز اسناد و مدارک ارشیف ملي و ارگ و دیگر دوایر را بردند».

په دغه ډول افغانستان د دغه اوسني داخلي جنګ له امله یو خل بیا د رسمي او دفتري پاڼو او لیکنو په برخه کې په هغسې ګاګرې بدل شوی چې لرو ډېر له هر جنګ نه وروسته شوی و، خو افغانستان دغه وخت په دغه برخه کې تر هر بل وخت نه ډېر خوار شوی دی؛ ځکه چې که د مخه زموږ کلتوري لوټماران په خپله افغانان وو، دغه ځل په هغو سربېره باندنیان او په سر کې روسان هم وو، چې پرچمي چارواکو د هغو د خوښې ساتلو لپاره دغسې ارزښتناک شیزونه هم په خوښې ورکول.

له بده مرغه افغانان اوس هم تاریخي شواهدو ته ارزښت نه ورکوي، په داسې حال کې چې هغه د افغان ملت د پېژندنې لپاره دغومره ارزښتناک دي چې د تاریخپوه جان ونست په وینا چېرته چې شواهد نه وي، هلته تاریخ نه وي.

دغه اثر یوازې د محمد داود د ولسمشرۍ دورې د سیاسي، امنیتي او دیپلوماتیکي پېښو په اړه دی ، نه د هغې د ټولو اړخونو په اړه، که ددغې دورې په اړه دویمې لیکنې افاقې

نه دي یا پوره افاقي نه دي، ډېرې خودي او دغه ډېر والی څېړونکي ته موقع ورکوي، چې مالومه کړي، د هغه وخت پېښې په رښتیا څنګه پېښې شوې دي، د هغه وخت لیکنې له دفتري پاڼو او سندونو نه وروسته مهمې وي، لیکوال یې د هغو پېښو په اړه لیکنې کوي، چې د خلکو یا ټولنې په ژوند نېغ اثر کوي او خلک او حکومتونه د هغو پر وړاندې عمل کوي او تاریخ جوړوي، دا نو بیا د تاریخ د څېړونکي دنده ده، چې دغه لیکنې سره پرتله کړي، چاڼ یې کړي او د هغو پر بنسټ تېره شوې زمانه بېرته ژوندۍ کړي او په ژبه کې یې خوندي وساتي.

بیا هم حتمي نه ده چې د هغه تاریخ به آخري، غوڅ او حتی افاقي وي، تاریخ لیکونکي هم د هر بل فرد په شان تعصبونه او ارزښتونه لري، خو دی د خپل مسلک او وجدان په حکم مجبور دی، چې نه یوازې د تېرو پېښو یا زمانې بیا رغونه، بلکې خپل تعبیرونه او حکمونه هم د څېړنې د دقیق میتود له مخې د شواهدو پر بنسټ وکړي، نه د خپل آزاد ذهن او آزاد قلم له مخې.

تاریخ لیکونکي هغومره ازاد او په خپل سر نه دي، چې خینې یې دغسې بولي، دی په واقع کې د ټولنیزو پوهانو په ډله کې تر نورو ډېر محافظه کار یاني هغه څوک دی چې په شواهدو مقید دی.

دی یوازې یوه لار لري او هغه دا چې تېره زمانه یوازې د شواهدو پر بنسټ بېرته ژوندۍ کړي، سره له دې هم دده انځور به پوره او کامل نه وي، ځکه چې شواهد یې پوره نه دي او شواهد د وخت په تېرېدو سره رابرسېره کېږي، له همدې امله ده

چې تاریخ لیکنه یوه پروسه ده او وار په وار وده کوي، نو تاریخ لیکونکي هر څومره حقایق یا شواهد چې په لاس کې لري، کوښښ کوي ، یا باید کوښښ وکړي چې د هغو پر بنسټ تېره زمانه یا تاریخ په خپله ژبه کې انځور کړي، دغه لیکنه د همدغې لارې یو کوښښ دی.

په دغې لیکنې کې د اشخاصو نومونه د اجتماعي او علمي لقبونو نه پرته؛ لکه ډاکټر، خان، ښاغلی، محترم او داسې نور ذکر شوي دي، له دېنه مطلب د چاپې احترامي نه ده، پدغې لیکنې کې هیڅ څوک که څه هم سیاستونه او کړه یې د خلکو او ټولنې په زیان تمام شوي وي، په سپکه یاد شوي نه دي، دلته د شخص احترام خوندي دی، خو سیاستونه او کړه یې د خلکو او ټولنې په ارتباط تر انتقادي کتنې لاندې نیول شوي دي.

په پای کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې او په سر کې د هغې له مشر ښاغلي زرین انځور نه مننه کوم چې زما دغه اثر هم د ټولنې په لګښت چاپوي او خپروي؛ لکه چې دمخه یې زما نور اثرونه هم خپاره کړي دي.

محمد حسن کاکړ

فبروري ۲۰۰۹/۱۳۸۸

کلیفورنیا – امریکا

# د سرطان له کودتاه دمخه

په افغانستان کې د سرطان له کودتا نه دمخه هیڅ چا دولتي واک په کودتا سره تر لاسه کړی نه و، خو د واکمنې کورنۍ په واک لېوالو غړو کله کله د واک په سر جګړې کولې او ولسي خلکو د حکومت پر ضد پاڅون کاوه.

افغان دولت د پاچا امان الله په واکمنۍ کې د لومړي ځل لپاره د لیکلي شوي اساسي قانون پر بنسټ تنظیم شو، خو هغه ژر له منځه یوړل شو. د سرطان د کودتا په وخت کې دولت د پاچا محمد ظاهر په سر والي د دریم اساسي قانون پر بنسټ تنظیم شوی و، چې په ۱۳۴۳ / ۱۹۶۴ کې ایستل شوی و، خو د قانون له مخې د حکومت کولو فکر په افغانانو کې لاهم عام شوی نه و، سره له دې هم د پاچا محمد نادر او ورونو په لومړني زیار سره د یحیی خېلو د پاچایي په څلور څلوېښت کلنې دورې (۱۹۳۰ - ۱۹۷۳) کې دولتي نظام ټینګ و. د دغه ټینګښت غټ دلیل د پیاوړي پوځ او څارندوی شته والی، د دولتي نظام او ټولني ورو ورو عصري کېدل او پرمختګ وو، دغه پروسه په خاص ډول د محمد داود د صدر اعظمی په لس کلنې (۱۹۵۳ - ۱۹۶۳) دوري کې ښه پرمخ ولاړه، په دغې دورې کې د بهر تعلیم کړي افغانان د واکمنې کورنۍ د غړو تر څنګه په دولتي ادارو کې ننوتل او پوځ او څارندوی چې ټول شمېر به یې یو لک و، په

عصري وسلو سمبال شو، دغې پروسې لازمه کوله چې نظامي افسران د شمال ګاونډي هېواد، شوروي اتحاد په تعلیمي موسسو کې لوړه زده کړه وکړي، خو دا په اصل کې دننه په افغانستان کې د عصري پوهنې د پراختیا له امله و چې د سرطان د کودتا په وخت کې پوځي افسران او ملکي تعلیم کړي افغانان په شمېر کې ډېر شول، خو تیت پوري پوځي افسران او څارندوی د تحول لېوال او یو شمېر یې د پاچایي نظام مخالف وو، که څه هم نظام په دغه مهال کې په دې ډول د قانون له مخې چلېده چې دهغه له برکته له حکومت څخه د خلکو عنعنوي وېره له مینځ نه تللې وه او په هېواد کې دغسې دموکراسي چلېدله چې په وطن کې څه چې حتی په سیمه کې یې هم ساری نه لاره.

له حکومت نه ګوښه کړل شوي محمد داود له دغو پوځي افسرانو سره لاس یو کړ او د سه شنبې په ورځ د سرطان د میاشتې په ۲۶ مه په کال ۱۳۵۲ (جولای ۱۹۷۳/۱۷) کې یې، قانوني نظام په کودتا سره نسکور کړ او پر ځای یې جمهوري یا د ولسمشرۍ نظام په پښو ودراوه.

محمد داود چې د پاچا ناسکه تربور او اوښی و او د خپلې کورنۍ د واکمنۍ له پیل نه تر ۱۹۲۳ پورې، له اتلس کلنۍ نه تر دغه وخت پورې په دغسې لوړ اختیار سره حکومت کړی و، چې یوازې د محمد هاشم صدر اعظمي ورسره پرتله کېدلی شي، ولې کودتا وکړه، هغه هم له کورنۍ نه د باندې افغانانو او د چپیانو په ملګرتیا سره؟ ددغې پوښتنې ځواب د واکمنۍ کورنۍ د غړو په تربورۍ کې د محمد داود په واک لېوالتیا کې او خلکو ته د هغه د خدمت کولو په ادعا کې موندل کېدلی شي.

زه دلته دغه ټکی یو ځای تر بحث لاندې نیسم او خپل بحث له هغې مرکې نه پیلوم چې د ۲۰۰۲ د فبرورۍ په دریمه یې له دغسې یوه کس سره کړې، چې د پاچایي کورنۍ غړیتوب له نږدې څخه پېژني، خو نه غواړي چې نوم یې واخیستل شي، دغه کس زه دلته د سپین په نامه یادوم.

د سپین په وینا محمد داود له پاچا محمد ظاهر سره خپل انتساب د «لعنت طوق» یا د «لعنت کړی» ګڼله او داسې یې فکر کاوه چې خلک څخه ده ته احترام کوي چې دی د پاچا اوښی او د تره زوی دی.

نو دی په دې هڅه کې و چې دغه «طوق» نه ځان ازاد کړي.

د سپین په وینا دا چې محمد داود د خپل ناسکه تره شاه محمود په صدر اعظمۍ کې د «ملي کلب» یا «ملي ټولنې» په نامه د نفوذ خاوندان پر ځان ټول کړي وو، په واقع کې د صدر اعظم شاه محمود او پاچا محمد ظاهر پر ضد «توطیې» لپاره و، محمد داود د خپلې صدر اعظمۍ په لس کلنې دورې کې بله چاره نه لرله، خو دا چې له پاچا سره خپل اړیکې ښه وساتي، خو ده په همدغه مهال کې یوه نوې لاره غوره کړه چې په هغې سره یې مخ په انکشاف افغانستان له شوروي اتحاد سره نږدې کړ، د پښتونستان ادعا یې ټینګه ونیوله او د هېواد د پرمختګ لپاره یې دوه پرمختیایي پلانونه په زیاته اندازه د شوروي اتحاد او تر څه حده د امریکې او نورو هېوادو په پیسو او تخنیکي مرستو پلي کړل. پاچا هم له صدر اعظم محمد داود سره په دغې لارې باندې ملګرتوب وکړ، خو له ۱۹۶۱ نه وروسته چې د پاکستان او افغانستان سرحدونه د پښتونستان په سر د یوه او بل په مخ کې د یوه او نیم کال په اوږدو کې وتړل شول او د دواړو هېوادونو

اړیکې سره ترخه شول او افغانستان اړ شو چې په شوروي اتحاد باندې تر پخوا لا ډېره ډډه وکړي، د ۱۹۶۳ په مارچ کې پاچا خپل صدر اعظم محمد داود گوښه کېدلو ته وهڅاوه یا محمد داود په خپله له صدر اعظمۍ نه خان گوښه کړ، دا هغه وخت و چې افغانستان د سیاسي اوښتونونو لپاره اماده شوی و او د پوهنې د پراختیا له امله د تعلیم کړو افغانانو یوه پراخه ډله هسکه شوې وه او له دغه انکشاف سره د افغان سیاست مورفولوجي یا سیاسي بڼه بدله شوې وه، له هغه وروسته د پاچا او محمد داود لارې په څرگند ډول بېلې شوې.

محمد داود تر گوښه کېدلو نه دمخه پاچا ته دوه لیکونه استولي و، په هغو کې یې د مشروطه پاچایۍ په چوکاټ کې د پارلماني دموکراسۍ او گوندي حکومت تجویز وړاندې کړی و، په دې ډول چې پاچا به د نوي اساسي قانون له مخې یوازې پاچایي کوي نه حکومت، او د واکمنۍ کورنۍ غړي به په حکومت کې گډون نه کوي، محمد داود خان د پاچایي کورنۍ غړی نه باله. (۱)

پاچا دغه تجویز رد کړ او فکر یې کاوه چې محمد داود غواړي په هغه سره خپل د ملي کلب کړنلاره پلي کړي، چې د میر محمد صدیق فرهنگ په ژبه «تشکیل حکومت و نظام د کتاتوری برهبری عین شخص امانه بعنوان عضو خانواده شاهی بلکه بعنوان رئیس حزب یا بعبارهٔ دیگر احیای مجدد نقشه کلوب ملي دوازده سال پیش شاه این نقشه را رد نمود و رد شدن آن موجب استعفای محمد داود خان گردید.» (۲)

خو محمد داود له حکومت نه دغه گوښه کېدل د یو څه وخت لپاره گڼل، د مؤلف صباح الدین کشککي په وینا

«...محمد داود وقتی استعفا کرد، در نظر داشت موقتاً از صحنه بیرون باشد و امید وار بود بعداً در راس یک حزب سیاسي قرار گرفته امور کشور را از دور اداره کند.» (۳)

دلته ددغه ټکي په پام کې نیول ضروري دي چې محمد داود یوازې له حکومتي مقام نه خان گوښه کړ، نه له سیاست نه. دغسې چلند له محمد داود نه چې تول بالغ عمر یې په زغرده حکومت کړی و، خوان هم و «دی دغه وخت څلور پنځوس کلن و» او په پوخ او حکومت کې یې د پر پلویان هم لرل، عجب نه مالومېږي، د همدغه نقشې له امله به و چې تر گوښه کېدلو نه دمخه یې یو شمېر سیاسي بندیان د عبدالرحمن محمودي او براتعلي تاج په گډون د دهمزنگ له زندان نه ازاد کړل، دا هم درسته ده چې محمد داود په واکمنۍ کورنۍ کې د خپلو مخالفانو له امله په ازاد ډول حکومت نه شو کولی، له همدې امله هغه په یوه لیک کې پاچا ته څرگنده کړې وه چې «این طرز اداره مملکت و این فضای خانداني ... برای من [ دیگر] قابل قبول نیست.» (۴)

فرهنگ ددغه مخالفت په اړه وایي چې «... همچنانکه بیست سال پیش از ان محمد داود خان در داخل اردو هسته مخالفت را با عمش سردار شاه محمود خان تشکیل کرده بود، اکنون سردار عبدالولي خان قوماندان قوای مرکز پسر عم و داماد شاه چنین هسته را در برابر او بوجود اورد.» (۵) کشککي لاوایي چي پاچا محمد ظاهر چې له محمد داود نه پنځه کاله کشر و، غوښتل د سیاست په ډگر کې خپله مخکښ وي. «محمد ظاهر شاه که مقام سلطنت را به سن نزده سالگي اشغال کرد و برایش از طرف کاکاهایش (محمد هاشم و شاه

محمود) و سپس محمد داود موقع داده نشده بود تا مستقیماً از اختیارات خود استفاده کند در سال ۱۹۲۳ احساس میکرد وقت آن فرا رسیده تا از قدرت خود مستقیماً کار بگیرد... شاه ولي و عبدالولي به نوبه خود مصمم بودند محمد داود را کاملاً از میدان سیاست بیرون کشند. رقابت ها وخصومت ها میان ایشان ریشه عمیق داشت، لذا پدر و پسر استعفای محمد داود را به حیث رحمتی تلقی کردند.» (۵ الف)

محمد داود خپل تربور پاچا ته یو ډول چیلنج شو. پاچا ددغه چیلنج د بې اثره کولو لپاره په پوخ کې خپل د اعتماد وړ زوم او تره زوی عبدالولي ته د مرکزي خواکونو د قومندان په توګه پوره واک قایل شو. د مولف امین اله دریخ په وینا: «محمد ظاهر شاه در اخیر سلطنتش ... مجبور شد تا شخصی را چون سپر در مقابل مزاحمت داود خان رشد داده واسباب فراغت خود را فراهم سازد.» (۲)

بل مهم او اساسي کار یې دا شو چې خپله پاچایي مشروطه کړي، په دې ډول چې د نوي اساسي قانون له مخې به واک د اجرائیوي، مقننې او قضایي څانګو ترمینځ ویشل شوی او په خپله دی به سلطنت کوي، نه حکومت.

د امیر حبیب الله د پاچایي له اولو کلونو نه تر دغه وخته پورې دا د مشروطه غوښتونکو افغانانو غوښتنه وه. محمد داود هم لکه چې ولیدل شو، د خپلې صدر اعظمی په وروستي وخت کې د هغه غوښتونکی شو، که څه هم دی په واقع کې زور واک او له دیموکراسۍ او دیموکراتانو سره یې نه لګېده، اوس په خپله پاچا هم ددغه تجویز حامي شو. پاچا بیا د ازادي پالو، دموکراتانو او قانون پوهانو په مرسته په ۱۹۲۳ کې یو

نوی جامع اساسي قانون وایست او خپله پاچایي یې مشروطه یا قانوني کړه. په افغانستان کې دا لومړی ځل و چې سلطنت له حکومت نه بېل وبښودل شو او دولتي واک د اجرائیې، مقننې او قضایي څانګو ترمینځ ووېشل شو. په مشروطې پاچایي کې د ملي شورا د ولسي جرګې غړي دوه ځل په سراسري انتخاباتو کې د خلکو په نېغو رایو سره د چارواکو په ډېرې کمې لاسوهنې سره غوره شول.

په پورته ډول د پاچا امان الله له وخت نه وروسته د قانون په چوکاټ کې دننه د ازاد ژوند کولو او په قانون سره د حکومت کولو یوه نوې دوره پیل شوه، چې په هغې کې د حکومت عنعنوي زېږه او زورواکه څېره نرمه شوه او په خلکو کې دا زادۍ روحیه وتوکېده، خو د محمد داود لپاره دغه کال د هغه دسیاسي ژوند پای و.

د اساسي قانون له مخې دی او د هغه ورور محمد نعیم د سلطنتي کورنۍ غړي وګڼل شول او د سلطنتي کورنۍ غړي د حکومت او سیاست له کولو نه منع وبښودل شول. د اساسي قانون په ایستلو کې د محمد داود مخالفانو هم برخه لرله او دوی او پاچا پالو دغه تجویز په واقع کې ددې لپاره ونیوه چې محمد داود له سیاسي ډګر نه بېرون وي.

پر دې سربېره محمد داود په واکمنې کورنۍ کې دننه د عبدالولي په سلوک سره پارول کېده. عبدالولي چې تر محمد داود ځخه ډېر کشر او پر پاچا ګران و، د کورنۍ په غونډو کې یې په دې ډول د هغه بې احترامي کوله چې لکه غواړي سپک یې کړي.

د سپین د وینا له مخې په واکمنې کورنۍ کې تربوري له

پخوانه د کړکیچ غټ عامل و او دغه کړکیچ د پاچا محمد نادر له وژل کېدلو نه وروسته څرګند شوی و. صدر اعظم محمد هاشم او محمد عزیز (د محمد داود او محمد نعیم پلار) سره سکه ورونه او پاچا محمد نادر، صدر اعظم شاه محمود او شاه ولي سره سکه ورونه او د هغو دوو ناسکه ورونه وو. دوی ټول سره یو موټی وو، خو محمد هاشم په خپلې اولس کلنې صدر اعظمۍ کې محمد داود او محمد نعیم چې سکه وریرونه یې وو، په لوړو حکومتي مقامونو په پوره اختیار سره وګمارل او خپل ناسکه وراره پاچا محمد ظاهر یې دتنه په ارګ کې د عیش کولو لپاره ازاد پرېښود. دا چې محمد داود او محمد نعیم له سیاست سره ټینګه علاقه پیدا کړه او پاچا محمد ظاهر ورسره علاقه ونه ښووله، په اصل کې د صدر اعظم محمد هاشم د همغه تووبیر ناک چلند له امله و. بیا هم که محمد داود «مشروطه پاچایي» غوښتلای؛ لکه هسې چې یې پاچا ته وړاندیز کړی و، د نوي قانوني نظام د ټینګښت لپاره به یې له پاچا سره لاس یو کړی وای، خو هغه نه یوازې دغسې ونه کړل، دهغه د نسکورولو لپاره یې په پټه کوشش پیل کړ، دا هغه وخت و چې د نوې دموکراسۍ له برکته چې په خلکو کې د ژوند د ښه کولو په لور د نویو کېبونو د کولو هڅه پیدا شوې وه، ګوندي سیاست کوونکو تخریبي فعالیتونه کول. له بده مرغه په افغانستان کې چې هر وخت خپه کوونکې دوره د ازادۍ په دورې بدله شوې، بې مسئولیته اوازونه جګ شوي او بې مسئولیته کړه تر سره شوې. د قانوني پاچایۍ په ازادۍ دورې کې هم همدغسې وشول، په تېره په ۱۹۷۱ – ۱۹۷۲ کې په غور کې د وچکالۍ او قحطۍ او بیا له ایران سره د هلمند د اوبو

پر سر له موافقې نه وروسته. په لومړۍ پېښه کې د صدر اعظم عبدالظاهر حکومت پاتې راغی او په بلې کې د صدر اعظم موسی شفیق حکومت په مقصد ورسېد. خو مخالفان یې لا هم ډېر شول، په دوارو موضوعګانو کې مخالفانو حکومتونه بېه وتکول.

د قانوني پاچايي له پیل نه سیاسي ګوندونو په تېره چپي ګوندونو، لکه شعله جاوید، پرچم او خلق او داسې هم افغان ملت او تر څه حده د جمعیت اسلامي تنظیم نږدې په هرې موضوع کې د لوړو تعلیمي موسسو هغه ښځینه او نارینه محصلان او حتی د ښوونځیو زده کوونکي چې یې په خپلو ګوندونو کې تنظیم کړي وو، که څه هم هغه لاقانوني نه و، د مظاهرو او اعتصابونو د کولو لپاره هڅول او له درس نه محروموول. په ۱۹۶۸ کې د صدر اعظم نور احمد اعتمادي په وخت کې چې څارندویانو د پوهنتون په انګړ کې پر محصلانو ودانګل (حتی زه یې هم ووهلم که څه هم زه استاد وم.) د ۱۹۶۵ کال د عقرب د ریمه پېښه چې په هغې کې درې تنه تلف شوي وو، د چپي ګوندونو له خوا هر کال لمانځل کېده او د هغې په یاد به مظاهرې او پاروني کېدلې؛ لکه په اوومې پېړۍ کې چې د وژل شوي خلیفه عثمان کمیس د هغه د وراره معاویه د شام د والي له خوا د خلیفه علي په مقابل کې د پاروني لپاره څرول شوی و، لاریونونه د کابل پوهنتون اود زرنګار پارک یوه برخه شوې او دغه پارک د لندن د هایډ پارک په شان دسیاسي وینااوو لپاره ډګر شوی و.

یو خل حتی د ملي شورا ولسي جرګې هم د پوهنتون د محصلانو ملاتړ وکړ، چې په کالني ازموینه کې یې د نومرو

اوسط شپېته په مقابل کې مظاهرې کولې، په داسې حال کې چې دا یوه درسي موضوع وه او د پوهنتون لوړې شورا دغه مقرره د تعلیمي سویې لوړلو لپاره ایستلې وه. مظاهرې او اعتصابونه که څه هم یوازې سیاسي ګوندونو ته منسوبو محصلانو کولې، نه ټولو محصلانو یا نورو افغانانو خو هغه په پرله پسې ډول کېدلې او درسونه یې په ټپه درول او ذهنونه یې ګډ وډ کول او انارشي یې پیاوړې کوله.

یو خل د همدغو مظاهرو له امله کابل پوهنتون د شپږو میاشتو لپاره وتړل شو. بیا هم دغه مظاهرې د نظام لپاره په هیڅ ډول خطر نه و، هغه د ډیموکراسۍ او ازادۍ خاصه وه، چې په لویدیځې نړۍ کې هم دودې وې؛ لکه چې د ۱۹۶۸ په مې کې د فرانسې په ملیونونو محصلانو یوه ورځ په ناڅاپي ډول په مظاهرې لاس پورې کړ. د افغانستان پاچايي نظام ته چې خطر متوجه شو، په اصل کې د هغه له چلوونکو څخه پېښ شو، چې په سر کې یې پاچا محمد ظاهر و.

د قانوني پاچايۍ غټه خانګړتیا یا په دقیق ډول نیمګړتیا داوه چې د صدر اعظم په مشرۍ اجرائي څانګه پیاوړې او اغېزناکه نه وه، د دیموکرات نظام ترڅنګ چې سیاسي ګوندونه او فردونه له ازادۍ نه بهره من او غوښتني او فعالیتونه یې ډول، ډول او ابتکاري وي، حکومت باید د قانون له مخې پیاوړی او غیزناک وي.

که داسې نه وي دیموکراسۍ او ټولنه د انارشۍ په لور درومي، په افغانستان کې د قانوني پاچايي په وخت کې همدغسې وشول، د قانوني پاچايۍ په لسیزې کې پنځه حکومتونه راغلل او له مینځه لاړل او صدر اعظمان یا د پاچا له

خوا ګوښه کېدلو ته وهڅول شول، یا یې په خپله خانونه ګوښه کړل، حتی د قانوني پاچایي پیل له انارشۍ او نا ارامۍ سره ملګري و، مظاهرې او اعتصابونه د سیاسي ګوندونو او مظاهره کوونکو محصلانو په نظر هدف ته د رسېدلو وسیلې وګرځېدلې، په اصل کې د محصلانو او زده کوونکو د لاریونونو او فشار له امله وچې د عقرب دریمه پېښه رامینځته شوه او صدر اعظم محمد یوسف که څه هم له ولسي جرګې نه یې د باور رایه تر لاسه کړې وه او د حکومت کولو وړتیا یې هم ثابته کړې وه، ګوښه کېدلو ته وهڅول شو. خای ناستي یې صدر اعظم محمد هاشم میوندوال چې د کار په پیل کې په پوهنتون کې په یوې عامې غونډې کې محصلانو ته وعده ورکړه چې «تمام مسببین حمله بر محصلین را از کار برطرف ومحاکمه مینماید.» (۲) متعهد محصلان په دې فکر شول چې مظاهره په حکومت باندې د فشار راوړلو ښه وسیله ده. د نا ارامۍ لوی یا شاید اصلي عامل محمد داود دی، چې د ملي مصئونیت له سردار جنرال رسول نه یې په خپل کور کې وغوښتل چې «مبلغ پنج میلیون افغانی نقد حاضر است باختیارت میګذارم، توسط آن اشخاصی مانند مجید کلکانی، ببرک کارمل، سید ظاهر و بعضی از وکلای چپ ګرا را تشویق نمایی که در داخل مملکت و در مجالس ولسی جرګه بی نظمی و هرج مرج را بوجود ارند..» دی اضافه کوي چې «... پولش را قبول نکردم اما ګفتم که اینکار را میکنیم و بوعده خود وفا کردم.» (۲ الف)

یوازې دا هم نه و، ددغې دورې د صدر اعظمانو او وزیرانو صلاحیتونه چې په اساسي قانون کې محدود شوي وو،

د پاچا له خوا په عمل کې نور هم محدود کېدل، ځکه چې سیاست ګوندي نه و، صدر اعظمان فردي کسان وو او د پاچا په خوښه غوره کېدل او د ولسي جرګې له منني نه وروسته قانوني کېدل. په دې ډول صدر اعظمان په اصل کې د پاچا په خوښه صدر اعظمان کېدل، خو دوی د خپلو وزیرانو په غوره کولو کې ازاد نه وو. د صدر اعظم عبدالظاهر وینا وه چې « وی از هیچ یک اعضای کابینه خود اطلاع نداشته، صرف لست داده‌شده [وزرا] را اعلام کرده است.» (۷)

په دغې تولې دورې کې پاچا یوازې یو کس جنرال خان محمد دملي دفاع وزیر په توګه ساتلی و او هغه د نظام د نسکورېدلو مخه ونه نیولی شوه. پاچا یوازې نور احمد اعتمادي ته موقع ورکړه چې نسبت نورو ته د اوږدې مودې لپاره حکومت وکړي، که څه هم دی د اساسي قانون د هغې مادې مخالف و چې محمد داود یې له سیاست کولو نه بې برخې کړ. پاچا شاید هغه په دغه مقصد د صدر اعظمۍ لپاره غوره کړی وي، چې محمد داود له نظام سره پخلا کړي، خو دی په دغه کار بریالی نه شو. په هغه سربېره له ولسي جرګې او قضايي څانګې سره یې اړیکې هم خراب شول. اعتمادي په داسې حال کې چې د پرچمیانو پر فعالیتونو سترګې پټولې، د هغه پر خلاف د اطراف دیني عالمان یې د کابل له ماجتونو نه د پوځیانو په زور وایستل، چې د کمونېستانو پر ضد یې لینن ته د درود ویلو په موضوع کې په کابل کې مظاهرې کولې. د همدغو کړکیچونو له امله به و چې «... اعتمادي در اواسط حکومت خود دست به خودکشي زده میخواست خود را در بند قرغه مقابل منزلش در آب غرق نماید ولی نجاتش دادند.» (۸)

لـه دغـې پېښې نـه وروسـتـه اعتمـادي د مـوثر حکومـت کولـو تـوان لـه لاسـه ورکـړ، خـو پخـوا لـه دې چـې حکومـت يـې د ولـسـې جرګـې د بـې اعتمـادۍ پـه رايـې سـره نـسکور شـي اسـتعفی وکـړه. وريـسې د صـدر اعظـم عبـدالظاهر حکومـت هـم لکـه چـې د مخـه يې ياونـه وشـوه پـه زياتـه انـدازه د وچکـالۍ او قحطـۍ پـه وخـت کې د عمومـو د هيلـې پـر خـلاف پـه خپلـې وظيفـې کـې پـاتې راغـی ارلـه صـدر اعظمـۍ نـه يـې خـان ګوښـه کـړ. پـه دې ډول د قـانوني پاچـايي د لـسيزې حکومتونـه د موسـی شـفيق تـر صـدر اعظـم کـهدلو پـورې کـه څـه هـم زيـاتره وزيـران يـې وړ او ډينـاميـک ديموکراتـان، لبـرالان او مـسلکي کـسان وو، خـو پـه زغـرده او اغيزنـاک ډول يـې حکومـت کـولی نـه شـو، د حکومتـونـو دغـه بـې اغيزتـوب د نظـام مخالفـانو پـه تېـره متعهـدو او ګونـدي چپيـانو تـه موقـع ورکـړه چې خپلو ورانکاريو ته دوام ورکړي.

د حکومتـونـو د بـې اغيزتـوب سـرچينه پاچـا و، چـې يـې نـه غوښـتل صـدر اعظمـان چـې د اساسـي قـانون لـه مخـې بايـد غيـر خانـداني افغانـان وي، ملـي شخـصيتونه شـي. يـو صـدر اعظـم کـه څـه هـم وړ او ډينـاميـک وي، د صـلاحيت پـه نـه لرلـو سـره پـه اغيزنـاک ډول حکومـت کـولی نـه شـي، خـو پاچـا محمـد ظاهر د غيـر ګونـدي سياسـت پـه حـال کـې چـې د اساسـي قـانون پـر بنـسټ د غـوره کولـو او صـلاحيت ورکولـو شـخص و، پـوره صـلاحيت ورکولو ته زړه نه کاوه.

پـه نتيجـه کـې حکومتونـه ضـعيف او نـاتوان وو، پاچـا د محمـد داود پـر خـلاف پـه خپلـې کـورنۍ کـې هـم اداري شـخص نـه و، ده کـه څـه هـم پـه خپلـه خوښـه سـلطنت لـه حکومـت نـه بېـل او ځپـل صـلاحيت محـدود کـړ، خپلـه کـورنۍ يـې هـم پـه بنـه ډول اداره

کولی نه شوه. دی لاد مخه په دې کې پاتې راغلی و چې خپل اولاد او داسې هم د خپلو ترو اولاد چې په شمېر کې ډېر وو، د هدفمن ژوند لپاره دننه په وطن کې یا د باندې په ملکي او پوځي ساحو کې د لوړو زده کړو کولو لپاره وهڅوي او په دې ډول په دولتي څانګو کې ددغسې کسانو په ګمارلو سره د نظام دادمن ملاتړان ډېر کړي. پاچا محمد ظاهر لکه چې د شوروي اتحاد په ګاونډیتوب کې د خپلې پاچایي راتلونکې خړه لیدله یا یې د پاچاهۍ یو ډول ژوند زړه وهلی و یا د افغان پاچاهۍ کولو ور نه و، هر څه چې و لکه چې مولف عاصم اکرم وایي پاچا محمد ظاهر «بیش تر علاقمند کتاب، شکار و ګلکاري و تا حدی معماری و مهندسی بود و در مسایل سیاسی کشور انقدر دقت که لازم بود بخرج نمیداد.» (۹).

پاچا محمد ظاهر د صدر اعظم عبدالظاهر له ګوښه کولو نه وروسته د یوه ټینګ حکومت په فکر شو او ددغسې حکومت د لرلو لپاره یې محمد موسی شفیق د صدر اعظمۍ لپاره ونوماوه. په دغه وخت کې چې پخوانی حکومت د وچکالۍ او قحطۍ نه را پیدا ستونزو په حل کې پاتې راغلی و، نه یوازې د حکومت اعتبار زیانمن شوی و، د سلطنت په اړه هم شک پیدا شوی و. پاچا محمد ظاهر موسی شفیق ته تر هر بل صدر اعظم نه په حکومتي چارو کې ډېر اختیار قایل شو او موسی شفیق چې ځوان او ډینامیک او نوښتګر شخص و او تر دغه وخت پورې د وزیرۍ تر مقامه پورې په اداره او سیاست کې د تجربې خاوند هم شوی و، په کم وخت کې وښووله چې په بحراني وخت کې هم پېښو او سیاست ته نوی لوری ورکولای او په اغیزناک ډول حکومت کولی شي. شفیق لیکوال او شاعر و، د مصر د

ازهر په پوهنتون کې د اسلامي حقوقو او د امریکې د کولمبیا په پوهنتون کې په بین المللي حقوقو کې له ماسترۍ نه پورته درجې زده کړه کړې وه.

په پښتو، فارسي او انګرېزي ژبو مسلط و، په ټولیز ډول دی د یوه منطقي او مقناطیسي شخصیت خاوند او د قانوني پاچايي نظام ټینګ ملاتړ و. پاچا محمد ظاهر د موسی شفیق په شته والي کې خپل ایډیال صدر اعظم میندلی و. صدر اعظم موسی شفیق د اوو میاشتو په بهیر کې په داسې حال کې چې حکومتي ذرې ګوني څانګې له نسبي خپلواکۍ نه بهره منې وې او د کابل سیاسي فضا هم پوره انتقادي وه، په خپل خاص مهارت او نوښت سره دغو مره کارونه وکړل چې بل صدر اعظم په هیڅ دورې کې په دغو مره لنډې مودې کې نه وو کړي.

موسی شفیق له ولسي جرګې نه په دوو ورځو کې د اعتماد رایه وګټله، په داسې حال کې چې پخوانیو صدراعظمانو په دوو اونیو کې ترلاسه کوله. هغه د پاچا موافقه هم تر لاسه کړه چې د سیاسي ګوندونو، ولایتي او ښاروالي شوراګانو لایحې چې ډېر د مخه پاس شوې وې، لاسلیک کړي. د ۱۹۷۲ ـ ۱۹۷۳ مالي کال بودیجه یې چې نهه میاشتې یې تېرې شوې وې، له ولسي جرګې نه تېره کړه.

د یو شمېر هېوادونو نه د پورونو په اړه چې پخوانیو حکومتونو له هغو نه د استفادې په اړه څه نه وو کړي، د ولسي جرګې موافقه تر لاسه کړه. له مقننه قوې نه صلاحیت هم ترلاسه شو، چې له باندنیو منابعو سره ۷۴ توافق لیکونه لاسلیک کړي. د ملکي مامورانو د استخدام لایحه چې د ژبو د مسئلې په سر څو ځلې بدله شوې وه تصویب شوه او هغه اختلاف چې په هغې سره

رامینځ ته شوی و، په حیرانونکې ډول حل شو.

حکومت ځرګنده کړه چې هغه ماموران به ګوښه شي چې خپلې دندې نه شي تر سره کولی، له بېسوادۍ سره د مبارزې په هکله یې د ملګرو ملتونو په مرسته یوه اداره تاسیس کړه. د کتابونو په واردولو باندې مالیه لغو شوه او له جاپان سره د تلویزیون د نصبولو موافقه لاسلیک شوه. داسې هم د کرنې د ښه کولو لپاره د کرنې د نامتو متخصص عبدالوکیل په نوبت مهم کارونه وشول او د تازه میوو د صادرولو په اړه اساسیاوې برابرې شوې.

ددغو ټولو کارونو له امله په ۱۹۷۳ کې عایدونه په بسیاري ډول ډېر شول. په همدغې دورې کې و چې د کابل ښار په ختیځ کې د صناعتي سیمې بنسټ کېښودل شو او د افغانستان د کانونو د سروې کولو لپاره لایحه وایستل شوه. د دیني عالمانو او روحانیانو او په دین ټینګو افغانانو د راضي کولو لپاره چې د صدر اعظم نور احمد اعتمادي په چلند سره ناراضي شوي وو، په کابل راډیو کې د پنځه وخت اذان کولو د ستور ورکړل شو او هغه کلیسا ړنګه شوه چې په کابل کې دمخه جوړه شوې وه.

موسی شفیق په حقه درک کړه چې په وچه چاپېر افغانستان کې پرمختیایي پروژې پرمخه تلی نه شي، خو په هغه حال کې چې له ګاونډیو هېوادونو په تېره له پاکستان او ایران سره یې اړیکې د دوستۍ وي.

موسی شفیق ددغه منظور لپاره له ایران سره د هلمند د اوبو په اړه د ۱۳۵۱ کال د کب په ۲۲مه یوه نوې موافقه لاسلیک کړه، چې د هغې له امله ددواړو هېوادونو په دوستۍ

کې بـه والـي راغـي. ددغـې مـوافقې پـوره بيـان د مولـف امـين الله دريـخ پـه کتـاب کې راغلـی چـې د «افغانـستان در قـرن بيـستم» نومېږي.

لــه پاکــستان ســره د افغانــستان اساســي ســتونزه د پښتونستان د کشالې پر سر وه او صدر اعظم شفيق عزم کړی و چې د هغې په اړه هم لـه پاکستان سره پوهـاوي تـه ورسېږي او لـه دغـه هېـواد سـره د افغانـستان اړيکـې چـې څـو اړخيـزه دي ښـه کـړي. هغـه پـه عـين حـال کې لـه شـوروي اتحـاد سـره د افغانـستان دوسـتي تـه دوام ورکـاوه او نـه يـې غوښـتل چـې دغـسې څـه وکـړي چې پـه هغـه سـره شـوروي اتحـاد وپـارول شـي، نـو د څلـورم اقتـصادي پـلان د پلـي کولـو لپـاره د هغـه سـل ميليـون روبلـه پـور ومانـه. دا پـه دغـسې حـال کې و چـې موسـی شـفيق د ناپيلتوب عنعنـوي سياسـت او داسـې هـم لـه لويـديځې نـړۍ او عربـي نـړۍ لـه حکومتونـو سـره د افغانـستان د دوسـتۍ اړيکـې وار پـه وار ټينګول. (۹ الف)

د موسـی شـفيق پـه اغيزنـاک ډول حکومـت کـول د پاچـايي نظـام مخالفـان پـه تېـره چپيـان انديښمن کـړل، انديښنه دا وه چـې کـه دې پـر خـای پـاتې صـدر اعظـم وي نظـام بـه وار پـه وار ټينګېږي او ښـې لـوري او لويـديځې نـړۍ تـه بـه نـږدې کېـږي، چـې پـه هغـه حـال کې بـه دوی تـه ګرانـه وي، چـې پـر ضـد يـې څـه وکـولی شـي. دا هغـه وخـت و چـې سياسـي ګونـدونو پـه ملـي پـوځ کـې يـو شـمېر افـسران تنظيم کـړي وو، خـو د حسن شرق پـه ژبـه «آنهـا (امـير اکبر خيبـر و نـور محمـد تـره کـی) بـه تعهـد خـود بـه شـاه در عـدم مداخلـه و جذب در ميان صاحبمنصبان اردو صادق بودند.» (۱۰)

ببـرک کارمـل خـو پـه وار وار خپلـه وفـاداري پاچـا تـه څرګنـده کـړې وه، خـو تجربـو ښـوولې چـې پـه کمونـستانو بانـدې اعتمـاد

کول هسې ساده توب دی. دوی خپلې موخې ته د رسېدلو په لاړ کې نه یوازې د وعدو بلکې د اخلاقو پروا نه کوي.

په هر حال یوازینی پېژندل شوی شخص چې د پوځ ناراضي افسران د پاچايي نظام پر ضد په هغه باندې تولیدلي شول، هماغه پخواني صدر اعظم محمد داود و، چې د صدر اعظمی په وخت کې یې افغان پوځ په نویو وسلو سمبال کړی او عصري او پیاوړی کړی و. دده په وخت کې په ۱۹۲۰ کال کې و چې د افغان افسرانو لومړۍ ډله د لوړو زده کړو لپاره شوروي اتحاد ته استول شوې وه، له هغه وروسته هر کال افغان افسران شوروي اتحاد ته استول کېدل، خو له دوی سره په وطن کې چې په دغه وخت کې د یو نیم زر په شاوخوا کې وو تبعیضي چلند کېده. «سبب تبعیض این بود که فارغان نظامي از شوروی را حکومت آن کشور بدون اجراء دروس عملي بافغانستان دوباره عودت میدادند و حتی باوشان اجازه نمیدادند که کتاب و نوتهای مسلکی شان را از درسخانه بیرون بکشند و یا با خود بوطن بباورند. بعضاً انها در شوروی بعوض دروس مسلکی به فراگرفتن مضامین ایدیولوژیکي مصروف ساخته میشدند، و وقتیکه بوطن برمیگشتند کاري از او شان ساخته نبود.»

په دغه حال کې دغه افسران له هغو امتیازاتو نه محروم وو چې نورو لرل: «اینان نفر خدمت نداشتند و با صاحبمنصبان بالای یک میز غذا صرف کرده نمیتوانستند. اما کار و فعالیت زیادي بر آنها تحمیل گردیده بود، خلاصه خورد ضابطان مانند یک جمعیت نا ملموس زندگی میکردند.»(۱۱)

دغه افسران چې تول یې د اطراف او یو شمېر یې تحول غوښتونکي او د نظام مخالف د نظام په نسکورولو کې د محمد داود ملګري شول.

# د سرطان کودتا

د سرطان کودتا د محمد حسن شرق او غوث الدین فایق په اثرونو کې بیان شوې ده، دوی محمد داود ته بښه منلي او د ګوښه توب په وخت کې ورته وفادار پاتې وو. په ولسمشري نظام کې لومړني د هغه مرستیال او وروستي د فواید عامې وزیر شو، خو شرق او فایق سره وران وو، فایق په اصل کې خپل کتابګوټي د شرق د کتاب په رد کې لیکلي او هغه یې پرچمي اوشوروي پال ګڼلي او سخت غندلی دی. شرق د ببرک کارمل په وخت کې چې د شوروي تر لاس لاندې رجیم سروال و، په دهلي کې د افغانستان سفیر اود نجیب الله په دوره کې صدر اعظم شو، په داسې حال کې چې فایق په دغه وخت کې اول بندي شو او بیا یې په کابل کې د یوه عادي افغان غوندې ژوند کاوه. دواړو خانونه ټینګ جمهوري پالان بښولي، شرق وایې چې ده دغه نظام د عقیدې له مخې منلی و، (۱۲) په داسې حال کې چې فایق وایې چې دی په پاچايي نظام کې «بجرم خواستن حقوق ترفیع و تبدیلی ام علاوه بر آنکه ۹ سال بیک رتبه ماندم بیک سال حبس نیز محکوم شدم.» دی پسې زیاتوي چې «این ظلم و بیعدالتی ها سبب تحریکم در سقوط دولت شد.» (۱۳).

هر څه چې و د پاچايي نظام په نسکورولو کې دواړه فعال وو، دوی لا په کودتا کې خپلې ونډې دغومره مهمې بښولې دي چې لکه هغه ددوی په نوښت او تدبیر سره سرته رسېدلې وي.

شرق د فراه ولایت د انار درې اوسېدونکی او د کابل

پوهنتون د طب پوهنځي فارغ و، ده د خپل کتاب په دوهم چاپ کې څه بدلونونه راوستي او په دې ډول یې د خپل اثر اعتبار زیانمن کړی دی، په داسې حال کې چې فایق چې د ګلبهار اوسېدونکی او د حربي پوهنتون فارغ دی د خپل اثر او ځان په رښتینتوب ټینګ ولاړ دی او ادعا کې چې که شرق او داسې هم د اردو او سیاست د اثر ظاهري لیکوال نبي عظیمي خبر وای، چې دی په کابل کې ژوندی دی، لیکنې به یې په هغه ډول نه وای چې دي، نو فایق د دوی اثرونه د اعتبار وړ نه ګڼي. زه دلته د دغو ټولو ټکو په نظر کې نیولو سره له هغو چې د کودتاچیانو دلیکنو په شان اوله درجه اهمیت لري په احتیاط سره استفاده کوم.

د شرق په وینا د پاچایي نظام د نسکورولو لپاره جلب او جذب په دغو ټکو پیل شو: یو هغه ټکی دی چې محمد داود له خپلې کودتا نه وروسته خلکو ته په خطاب کې بیان کړی، چې جوهر یې د ټولنې زیاترو خلکو ته د خدمت لپاره د جمهوري نظام په پنځو درول او د «قلابي دیموکراسۍ» یا تقلبي دیموکراسۍ پر ځای د «معقولې دیموکراسۍ» راوستل دي. بل یې د ناپېیلتوب سیاست او درېیم ټکی یې محمد داود د رهبر یا لارښود په توګه منل دي.(۱۴)

شرق دا هم وایي چې محمد داود یوه ورځ ده ته وویل چې زموږ خلک د دغه نظام له لارې له اجتماعي او اقتصادي بدبختیو او د واکمنې کورنۍ له دننیو کړکیچونو نه ژغورل کېدلی نه شي، نو باید «هر دوی ما در این باره فکری سنجید و راهی [نجات] راجستجو کرد.» (۱۵)

ددوی د ژغورنې لاره دا شوه چې «هر دوی ما بیک تحول آنی و قاطع که بجز از راه عسکری امکان پذیر نیست عقیده مشابه داریم.» (۱۲)

تحول په ماهیت کې «قاطع او فوري» نه وي، خو له دغې افادې نه مراد نظامي یا عسکري کودتا وه او دوی ښکه په هغې لاس پورې کول غوښتل چې د پخواني صدر اعظم او د مساوات د ګوند سرو ال محمد هاشم «میوندوال و رفقایش ... برای کودتا [نمودن] در تلاش افتیده بودند.» (۱۷)

دا چې میوندوال په رښتیا کودتا کوله یقیني نه ده خو په کابل کې په اصطلاح د سر چوک اوازه همدغسې وه، شرق ددغه مهم تصمیم نیټه هم نه ورکوي او په هغه سربېره د فایق روایت ورسره توپیر لري او هغه د باور وړ هم ښکاري.

فایق وایي چې څنګه چې ده دمحمد داود د صدراعظمۍ په وخت کې په صداقت او زړورتیا کار کولو سره ورته منلی شوی و او د ګوښه توب په وخت کې یې په منظم ډول د هغه په کور کې ورسره لیدل د لومړي ځل لپاره یې ورته وویل چې د هېواد وضع خرابه ده او موږ ته ښایي هغسې کار وکړو لکه په مصر او عراق کې چې نورو کړي دي.

دده مقصد په مصر کې په کال ۱۹۵۲ کې د ملک فاروق پاچا پر ضد د جمال عبدالناصر او په عراق کې په کال ۱۹۵۸ کې د پاچا فیصل پر ضد د جنرال محمد قاسم کودتاګانې وې، خو محمد داود فایق ته په خواب کې وویل چې «جنرالان پرورده من انقدر مردم جبون و ترسو اند که جرئت گذشتن از پیش روی خانه ام را ندارند چه رسد که بامن داخل تماس به مفاهمه شوند.» (۱۸)

محمد داود بل وخت د فایق ددغې وینا په اړه چې یې د بهر کسان د ببرک کارمل او محمد حسن شرق په ګډون روزلي دي، خو اوس هغوی دده پوښتنه هم نه کوي، وویل چې «من در زمان حکومت کاکایم شاه محمود خان ... یک عده جوانان روشنفکر را از قبیل محمد صدیق فرهنگ، عزیزالله واصفي، داکتر محمد رحیم محمودي، ببرک کارمل بنام ویش زلمان در خفا رشد داده حمایه میکردم، بعد از استعفایم از صدارت بعضی از آنها مرا از یاد بردند وبرخی حلقه اجنبی بگوش اویختن [اویختند] و ببرک نیز از ان جمله است.» (۱۹)

ماته چې په ویښ زلمیانو کې وم مالومه نه وه چې دغه کسان په هغه وخت یا وروسته په ویښ زلمیانو کې وو، د محمد داود د ناهیلي توب سره سره فایق ورسره لیدل کول.

فایق په دې نظر و چې څنګه چې محمد داود په ټول هېواد کې یو پېژندل شوی شخص و، د نظام مخالفان پرې تولیدلی او پاچایي تسکورولی شي، نو یې په بلې لیدنې کې ترینه پخوانۍ غوښتنه په ټینګه بیا وکړه او محمد داود دغه ځل د هغه غوښتنه ومنله خو ورته یې وویل چې «... محتاطانه باستعانت و یاری پروردګار بجلب و جذب اشخاص طرف ضرورت عسکري و شخصیت های اجتماعي اقدام کنید.»

دی چې په دغه وخت کې جګتورن یاني یو ښکته رتبه نظامي افسر و، جلب او جذب یې له ټیټ رتبه افسرانو څخه پیل کړ. دده تشخیص دا و چې په پوځ کې اجرائیوي قدرت د همدغسې افسرانو په لاس کې دی، ده محمد داود ته لا دمخه ویلي و چې «برداشتیکه من از اردو دارم شما در بین افسران خورد رتبه محبوبیت و جایګاه خاصی دارید، قدرت اجرائیوی

همچو امور در دست خورد رتبه ها است، تا جائیکه من از روحیه اردو واقفیت دارم همه از اوضاع کنونی خفه و ناراضی اند.)) (۲۰)

دا شاید د ۱۹۲۵/۱۳۴۴ کال و خکه چې دی وایي چې ((... از سال ۱۳۴۴ الی ۱۳۵۲ ... من در ظرف هشت سال در راه تغییر نظام سلطنتی و ایجاد جمهوری سعی وتلاش ها کرده ام.)) (۲۱)

ددغه کار لپاره به دی په خپل بایسکل سره یو ځای بل ځای ته او له جذبولو نه وروسته به یې نویو جلبیانو ته وظیفې ورکولې چې یوه یې د نورو کسانو جلبول او بله یې د ضرورت په وخت کې له کور نه د نظام د مطلوب کس ایستل او په کوم ټاکلي ځای کې بندي کول و. ده به دا هم ورته ویل چې ((دیگر همکارانت در لحظه اخرین و شروع بکار معلوم میشود.)) (۲۲)

د فایق د جذبولو لاز داوه: ((هر افسر با احساس را که اهلیت همکاری و مصاحبت شدنش را میدیدم سر صحبت را از اوضاع ناگوار و بی عدالتی کارکنان دولت و وضع پریشان ملت باز [نموده] و راه بیرون رفت از این حالت و براه انداختن یک انقلاب و ایجاد جمهوریت سخن میگفتم)) ده به هغو ته دا هم ویل چې دا د خطر لاز هم ده: ((ما و شما در یک راه پر مخاطره که مرگ و اسارت در پیش روی ما قرار دارد محض برضای خدا، خدمت بوطن، بدون در نظر داشت چوکی ومقام و رتبه و پاداش مادی بنفع وطن قدم برمیداریم.)) خو ده به هغو ته داډ ورکاوه چې ((نظر به اوضاع نابسامان دولت سیل خروشانی برای یک تحول در جهت تغیر دولت در جریان است.)) (۲۳)

په دغه ډول د سرطان تر کودتا پورې د فایق د لیکنې له

مخکې څه باندې شپېته افسران جلب شوي وو، دوی ټول واړه افسران یاني بریدمنان، جګتورنان او تورنان وو، دوی په ګروپونو یا ډلګیو کې منظم شول او هر ډلګی د یوه سر ډلګي په مشرۍ موظف شو چې په خپل وخت کې پاچا محمد ظاهر، پاچا زوی احمد شاه، د مرکزي ځواکونو قومندان عبدالولي، د دفاع وزیر خان محمد، صدر اعظم موسی شفیق، د ریشخورو د فرقې لوی قومندان عبدالحکیم کتوازی، د هوائي ځواکونو قومندان مرتضی قل او د قرغې د اتمې فرقې لوی قومندان محمد کبیر له خپلو کورونو نه وباسي او په یوه ټاکلي شوي ځای کې بندي کړي. (۲۴)

د شرق د لیکنې له مخې دا دی و چې د جلب او جذب کار یې د لومړي ځل لپاره پیل کړ، په داسې حال کې چې فایق وایي چې «... اقای حسن شرق ... قطعاً در انقلاب مذکور سهم و رولی نداشت.» (۲۴ الف)

په هر حال د شرق د لیکنې له مخې دده په لومړنیو جلبیانو کې متقاعد ډګروال غلام حیدر رسولي، تورن سرور نورستاني او ټانکېست مولاداد (فراهي) وو چې دده په وینا یو ځای بل ځای یې په تصادفي ډول لیدل او د هغو د محمد داود په لاربنودنې د کودتا کول منلي وو.

شرق وایي چې د جلب او جذب کار د ۱۳۵۱ کال د وږي په میاشت کې (۱۹۷۲، اګست- سپتمبر) په تینګه ونیول شو او ددغه مقصد لپاره د سید عبدالله یا مولاداد یا کله کله د نورستاني په کورنو کې غونډې کېدلې او هلته به د ټولو سیاسي ګوندونو له اساسنامو څخه چې د وطن په جریدو کې خپرې شوې وې استفاده کېده. له هغو او نورو څخه به هغه څه

غوره کېدل چې د ولسمشري نظام يې پر پاچايي نظام غوره باله.(۲۵)

دی دا هم وايي چې د موسی شفيق په کارونو د «صدر اعظم په توګه له باندې سره د هغه تړلتوب» چې د هغو له امله د «روښانفکرو» ياني چپيانو فکر ترېنه اوښتی و او د پخوانيو حکومتونو د ناوړتيا په سبب په تېره د عبدالظاهر له حکومت نه چې د قحطۍ او وچکالۍ په موضوع کې پاتې راغلی ، خلک ډېر ناهيلي شوي وو. په دغه وخت کې د دوی د جذب او جلب کار پرمخ ولاړ. دی وايي چې په همدغه وخت کې دوی په هوايي قوتونو کې په فعاليت پيل وکړ او د پاچا ګل وفادار او د انجينر عبدالحميد محتاط له جلب نه وروسته سر ګروپونه جوړ شول. شرق وايي چې دوی ته دربار توجه نه کوله، لويو افسرانو ته يې توجه کوله «حالانکه دوستان ما را پايان رتبه ترين صاحبمنصبان اردو تشکيل ميدادند.» او حکومتي کسان «رفته رفته درباره ما بی اعتنا شده بودند.»(۲۲)

په همدغه حال کې و چې د بالاحصار د کماندو له قطعې نه فيض محمد جلب شو.پداسې حال کې چې د پاچايي ګارد د ټانک د قطعې او د ښار د انضباط قوې قومندانان او نور د مخه جلب شوي وو، په دغه ډول د شرق په وينا «به اول جوزای ۱۳۵۲ [مې ۲۲، ۱۹۷۳] به تمام نقاط کليدی اردو تسلط داشتيم.»(۲۷)

شرق په دغې وينا کې د څرخي پله څلورم او پنځلسم لمبر زغرور قوتونه هم شمېري او ليکي چې «در اخير حکومت داکتر عبدالظاهر ماه عقرب ۱۳۵۱ توانسته بوديم با قدرت و اطمينان کامل بر قرای ۱۵ وقوای ۴ زرهدار حاکميت داشته و

در هر زمان آن را مورد ازمایش قرار داده بتوانیم [ میتوانستیم .] » (۲۸)

دې په خپل کتاب کې دوه خایه نور هم همدغسې ګرېږي، خو فایق ددغه تکي په سر د هغه برعکس غږېږي. دی وايي چې د ۱۳۵۲ کال د جوزا په دریمه (مې ۲۴، ۱۹۷۳) غلام حیدر رسولي چې د محمد داود له خوا له ده سره د ارتباط غړی ټاکل شوی و، ده ېې دېته وباله چې په څلورمه کارته کې په یوه کور کې د شپې په اتو بجو حاضر شي. هلته محمدداود د زغررو قوتونو پنځه تنه افسران د تورن محمد سرور نورستاني په ګډون ده ته وروپېژندل، خو دغو افسرانو په خواشینې سره څرګنده کړه چې د څرخي پله زغرور قوتونه تر ټینګې څارنې لاندې نیول شوي او دوی هیڅ ډول مرسته نه شي کولی. محمد داود بیا وویل چې « از اینکه برادر های زرهدار از همکاری معذرت میخواهند دیگر بالای موضوع سنگ گذاشته یادی نکنید. » (۲۹)

فایق وايي چې د ۱۳۵۲ کال د غبرګولي (جوزا) په میاشت کې وروسته له دې چې لومړی بریدمن حبیب الله د ارګ د ۱۴ مې مفرزې ټانک مرستیال د احضاراتو پوره ډاډ ده ته ورکړ ده یو اجرائیوي یاد عمل پلان وایست، (۳۰) چې د هغه له مخې به لور حکومتي نظامي او ملکي کسان د ګروپونو له خوا نیول کېږي. محمد داود په یوې غونډې کې له فایق نه د وسلو په اړه پوښتنه وکړه او هغه ورته وکړه چې « از دیپوی شهرارا و یا از کلوله پشته دو نفر افسر برایم وعده [سلاح] داده اند. » داود بیا ورته وویل چې « یک نفر لومړی برید من احمد ضیاء نام، از قطعه انضباط شهری از وزیر اکبر خان مینه گفته ام که به شما

سلاح بدهد.» (۳۱)، خو د فایق د لیکنې له مخې احمد ضیاء د وسلې له ورکولو نه اوړه خالي کړه او ده وسله له بل خای نه تر لاسه کړه او په ملګرو یې وویشله. (۳۲) دا چې ده دغه وسله له کوم ځای نه او څومره تر لاسه کړه، په دې اړه څه نه وايي.

په همدغه وخت کې و چې پاچا محمد ظاهر د سترګو د علاج لپاره د جون د میاشتې په ۲۵ مه د اروپا په لور روان شو، د څرخي پله په زندان کې د پاچا یوه پخواني موټر چلوونکي ماته وویل چې ملکې د کومې موضوع په سر په هغه باندې د بیاتي په وار کولو سره د هغه سترګه زیانمنه کړې وه. په هر حال د معمول په شان مشر زوی یې احمد شاه د پاچا د نایب په توګه د هغه په غیاب کې پاچايي کوله. دا هغه وخت و چې په کابل کې د کودتاګانو اوازې خپرې وې او پاچا د محمد داود د کودتا کولو په نیت خبر و، په دغه حال کې سر ګروپونه د کودتا کولو لپاره د محمد داود امر ته سترګې په لار وو، خو هغه ښکاره کړه چې «در غیاب او کودتا نخواهم کرد، زیرا این حرکت معقول و مردانه نمیباشد.» (۳۳)

محمد داود فایق ته هم ویلي و چې «انقلاب زمانی صورت گیرد که شاه و سردار ولی در کابل باشند.» (۳۴)، خو سر ګروپونو ته دا معقوله وه چې د پاچا په غیاب کې په کودتا پیل وشي؛ ځکه چې دوی ویریدل چې د کودتا د نه کولو په حال کې حکومت ممکن د دوی په پلان خبر شي، چې بیا به دوی وطن او پاچا ته د خاینانو په توګه محاکمه کېږي، د سرګروپانو په دغه تینګار فایق او شرق په یوه خوله دي، د شرق په وینا غلام حیدر رسولي او سرور نورستاني لاورته څرګنده کړه چې «اګر محمد داود با ما یکجا اشتراک نکند ما بدون او اقدام خواهیم کرد.»

دی دا هم وایي چې ده هم محمد داود ته وویل چې که دی د کودتا امر نه ورکوي دی هم مجبور دی چې د اکثریت په پلوی ورسره یو ځای شي.(۳۵)

فایق وایي چې عبدالولي په دوی شکمن شوی او د سرطان په اتمه یې دی وغوښت او له محمد داود سره یې د هغه د تړاو په اړه وپوښته، خو ده په دغه ډول قانع کړ چې «بخدا و قرآن اگر بین من و سردار محمد داود کدام رشتهٔ قرابت باشد.» دی دا هم وایي چې ما د هغه د ډاډینې لپاره په ټینګه وویل چې « من بنوابغ و قهرمانان ملی و تاریخی وطنم علاقه خاص دارم، کسانیکه متوفی اند بزیارت قبور شان رفته اتحاف درود و دعا منیمایم و کسانیکه در قید حیات اند در صورت امکان بدستبوسي شان رفته ادای احترام میکنم، در صورت عدم امکان طول عمر صحت و سلامتی شانرا از خدا می طلبم مانند میرویس نیکه که وطن مارا از چنگال گرگین خونخوار نجات داد و بنیان یک دولت مرکزی و ملی را در افغانستان اساس گذاشت و هکذا احمد شاه بابای غازی که سرحدات کشور مارا بدهلی رساند.»

فایق د ستایلو په لړ کې پاچا امان الله او پاچا محمد نادر ته هم بېدریغه اخلاص وښود او په ظاهري معصومیت سره یې محمد داود هم په دغه لړ کې راوست او ویل یې چې «کسانیکه مانند سردار محمد داود خان حیات دارند که در دوره صدارتش با ایجاد پلان های انکشافی خدمات ارزشمندی را مانند تونل سالنګ، سړک ماهیپر و تنګ غارو و بند برق نغلو و کانال ننگرهار و بنیانگذاری یک اردوی عصری و مدرن میکانیزه و غیره خدماتش زیاد علاقمند هستم، زمانیکه امکان مسیر

شود حضور شان رفته اداى احترام ميکنم.» سره له دې هم عبدالولي ورته وويل چې «... خود را بشناسی» او ده په ځواب کې ورته وويل چې «بخدا سردار صاحب من وطنم و فرد فرد وطن حتی سنگ و کلوخ وطنم را دوست دارم.» (۳۶) فايق چې په دغسې ستاينو سره عبدالولي تېر ايسته او ځان يې له خطر نه وژغوره په هماغه ورځ يې محمد داود له موضوع نه په بوي ليکنې سره خبر کړ او ورته يې سلا ورکړه چې «کشيدن انتظار [عودت] شاه را مصلحت نميبينم، احتمال گرفتاری من و رفقايم تحميلی [حتمی] است.» (۳۷) محمد داود بيا مجبور شو چې له خپل نظر نه تېر شي او د سرګروپونو نظر ومني او د کودتا امر ورکړي، خو د کودتا د نېټې او عمل طرز په اړه اختلاف شته.

شرق د کودتا فيصله او نېټه په ناڅرګند ډول ښيي:« و روز ۲۵ سرطان فيصله بعمل آمد که به ساعت يکنيم شب [روز] سه شنبه ۲۲ سرطان حرکات قطعات بدين ترتيب شروع گردد.» (۳۸) فايق په دې اړه په مشخص ډول غږېږي او داسې ښکاره کوي چې د کودتا نېټه او عمل طرز ده تجويز او محمد داود ته په خپل ياد شوي ليک کې ادامه ورکوي چې « ما الی شب ۲۵ سرطان احضارات خود را تکميل و شب مذکور بعمل اقدام خواهيم نمود، ۱۲ بجه روز همان شب از اقدام خود بشما خبر ميدهيم.» (۳۹) فايق دا هم وايي چې ده خپل ټول ملګري په دغه اړه خبر کړل، خو د کودتا نېټه يې يوازې سرګروپانو ته څرګنده کړه او «همهٔ رفقا با شور و شعف از احضارات خود ها برايم اطمينان دادند.» (۴۰) غلام حيدر رسولي هم ده ته په يوه ليک کې داډ ورکړ چې « در صورتيکه خطر گرفتاری شما و

رفقای تان موجود باشد و احضارات داشته باشید. نظر شما مورد قبول است، مشروط براینکه ۱۲ بجه روز از اقدام شب خود بمن خبر دهید.)) (۴۱)، خو د سرطان په نولسمه شپه کومه نظامي لوا په بل کوم مناسبت بالاحصار ته روانه وه او دغه حرکت د فایق په ژبه (( در ذهنیت رفقا شک، تردید و ناباوري خلق کرد در [نتیجه] در شب ثاني انقلاب اکثر رفقا حاضر نشدند.)) (۴۲)، دی د سر په کسانو کې چې د کودتا په شپه کې د وظیفې سرته رسولو ته حاضر نه شول دغه کسان بنیي او سخت یې غندي: احمدضیاء مجید، عبدالاه، غلام حیدر رسولي او محمد حسن شرق. دی وروستي (( مغرور، خدعه گر)) او د ک ج ب (( صادق خدمتگار)) بنیي چې (( بخانه یکی از محمدزایی ها به بهانه شطرنج خود را مهمان ساخته بود [و] بقول آنها الی ساعت یکنیم بجه شب [روز] با ما سرگرم شطرنج بود.)) (۴۳) فایق نه څرگندوي چې د کودتا د ستور محمد داود ورکړی وي، په دې اړه شرق په مشخص ډول وايي چې د کودتا د دستور مرکز د محمد داود کور و په دې ډول چې عبدالحمید محتاط، پاچاگل وفادار، مرتضی قل او محمد آصف د مخابرې یو صندوق له هوائي قوتونو څخه دده په واسطه د محمد داود کور ته اوبل یې د انضباط په قومنداني کې ضیاء مجید ته ورسوه، نور نو دده په ژبه: (( ساعت یکنیم بجه شب [بامداد] ۲۲ سرطان از طرف محمد داود به قطعات تانک کوماندو – و انضباط امر حرکت داده شد [و] بعدا زیک دقیقه صدای حرکت ماشین های تانک و موترهای زرهدار در ارگ و بالاحصار شنیده میشد.)) (۴۴)، له بلې خوا فایق د کودتا د پیل حرکت د سباوون یوه بجه بنیي او

وايي چې «با توکل بخدای لایزال انقلاب را با گرفتاری خان محمد وزیر دفاع و عبدالولی خان، قوماندان قوای مرکز از ساحه وزیر اکبرخان مینه ساعت یک بجه شب [صبح] اغاز کردیم.» (۴۵)

فایق وايي چې حبیب الله زرمتي د ارګ له سهیل لوېدیځ خوا څخه ټانکونه چالان کړل او «طبق هدایت ۱۲ تانک به محاصره گرفتن قطعه قوماندو به بالاحصار و یک تانک بمنزل وزیر دفاع و یکی بمنزل سردار عبدالولی خان به همکاری گروپ های گرفتاری روان شده انجام وظیفه نمودند.» (۴۲)

د عمل له کسانو نه به مطلب شاید پاچا ګل وفادار، فیض محمد او زرمتي وي، د وفادار په وینا دوی د هوايي کماندو او د ټانکونو د قوتونو لارښوونه په غاړه لرله. وفادار وروسته مولف عبدالرزاق فراهي سره په مرکه کې دا هم وايي «چې ما د مخابرې آله د محمد داود په کور کې فعاله کړه او ده دغې آلې په وسیله د شپې په یوې نیمې بجې د کودتا هدایت صادر کړ، ولې موږ تر هغه د مخه د شپې پر دولسو بجو د کودتا عملیات پیل کړي وو.» (۴۷)

په دې ډول کودتاچیانو په څوارلسو ټانکونو سره د کودتا په لومړۍ مرحله کې بری ترلاسه کړ. خو دوی یو هم نه وايي چې کودتاچیانو هم مخابرې لرلې او دا چې محمد داود هغو ته په کومو عبارتونو سره د کودتا دستور ورکړ.

په هر حال؛ فایق نیمه ګړۍ او وفادار یوه نیمه ګړۍ پخوا تر هغه چې محمد داود د کودتا دستور ورکړي په کودتا بې عمل لاس پورې کړی و. د عبدالولي د نیولو په اړه وفادار فراهي ته دا هم وویل چې «زه او فیض محمد دواړه د سردار

عبدالولي د نیولو لپاره دده کور ته ورغلو، فیض محمد د پرچم غړی دی او زه دده دعقیدې سره مخالف یم، ولې دی ډېر زړور سړی دی، هغه وخت چې دی د سردار عبدالولي کور ته ننوتی، ده کله شینکوف چپه غاړې ته اچولې و او ده پر سردار عبدالولي باندې ږغ وکړ چې ټک ونه کړې چې وژل کېږې او سردار عبدالولي هم ټک ونه کړ او ما دده د لاسه څخه تفنګچه واخیسته.» (۴۸)

دشرق په وینا «ساعت دو و ده دقیقه پادشاه ګل خبر دستګیری سردار عبدالولي را آورد.» (۴۹)

د دوو او شلو دقیقو په وخت کې مرکزي مخابره له کار نه وایستله شوه او په درېیو بجو کې پاچا یې ګارد تسلیم شو او تر پنځو بجو پورې ټول هغه حکومتي کسان چې باید نیول شوي وای په خپلو کورونو کې ونیول شول او په کارته پروان کې د عبدالقدیر نورستاني په کور کې بندي شول، له عبدالولي او خان محمد نه سربېره نور بندي شوي حکومتي کسان دا وو: پاچا زوی احمدشاه، مارشال شاه ولي د عبدالولي پلار، صدر اعظم موسی شفیق، د هوایي مدافع قومندان، جنرال ګلبهار، د سلطنتي ګارد قومندان جنرال غلام محمد، د توپچي د لوا قوماندان جنرال قمر الدین ناصر، د کوماندو د قطعې قومندان ډګروال رحمت الله سایې، د ریشخورو د فرقې قومندان جنرال عبدالحکیم کتوازی، د اتمې فرقې قومندان جنرال حسین، د ژاندارم او پولیسو عمومي قومندان ډګرمن عبدالحنان او د کابل سرمامور ګل نبي. (۵۰)

فایق وایې چې جنرال کتوازی او صدر اعظم موسی شفیق دده په سر ګروپي سره ونیول شول. (۵۱)

دا چې دغه جنرالان او نور لوړ رتبه پوځي او ملکي کسان په لږ وخت کې او په اسانۍ سره ونيول شول، يو علت يې دا و چې فايق د مخه سرګروپان او نور موظف کړي وو چې د هغو د کورونو او د هغو د ننوتلو او وتلو د لارو په اړه د قيق مالومات تر لاسه کړي او دوی همدغسې کړي وو. ددغو کسانو په بندي کېدلو سره چې نږدې ټول يې د پوځي او پوليسي قوتونو آمران وو او وظيفه يې د پاچايي نظام او امنيت ساتنه وه، کودتاچيان د ۱۳۵۲ کال د سرطان په ۲۲مه (جولای ۱۷-۱۹۷۳) د سهار په شپږو بجو د ښار په ټولو قطعو مسلط شول او کودتا سرته ورسېده او پاچايي نظام د پاچا محمد ظاهر په سر والي نسکور شوه.

د کودتا د برۍ بل علت دا و چې په هغه سپېده سباوون کې چې کودتا پيل شوه د نظامي او پوليسي قطعو آمرانو ته موقع په لاس ورنغله چې خپلو قطعو ته خانونه ورسوي، مؤظفو کسانو يا پهره دارانو هم ونه شو کولی يا ونه غوښتل چې د کودتا کوونکو مخه ونيسي په دغه حال کې د کابل سړکونه د کودتا کوونکو د ټانکونو پر مخ بې خنده لازې وې.

محمد داود د سهار په اتو بجو له کابل راډيو نه افغانانو ته خپل غږ په دغه ډول ورساوه:

«من برای سعادت اینده وطن خود جز قایم ساختن یک دموکراسی واقعی معقول که اساس آن بر خدمت به اکثریت مردم افغانستان برقرار باشد، راه دیگری را سراغ نداشته و ندارم.» ده د پاچايي نظام «فاسد» او موجوده دموکراسي «قلابي» يا تقلبي وبلله او اضافه يې کړه چې نظام تر دې حده پورې فاسد شوی و چې د اصلاح اميد يې نه و، نو ځکه دده په

ژبه « همه وطن پرستان خصوصاً اردوی وطن پرست افغان تصمیم گرفت که دیگر باین نظام فاسد خاتمه داده شده ووطن از این وطر بدبختی نجات یابد.» ده وعده ورکړه چې « نظام نوین طبعاً با خود ریفورم های بنیادی [همراه] دارد.» (۵۲)

د محمد داود په وینا سره په خلکو په تېره د کابل په خلکو کې د خوښۍ څپې هسکې شوې او خلکو خپله خوښي په ډول ډول بڼو وښووله، دهېواد په هېڅ ګوټ کې د پاچايي نظام او د پاچا په پلوي چا اواز او ګام پورته نه کړ. پاچا چې تر دغه وخت پورې د خدای تعالی سوري ګڼل کېده، نور نو د هغه سوري نه ګڼل کېده. په کودتا کې تلفات بېخي لږ وو، لومړی بریدمن حبیب الله زرمتي او یو یا دوه ملګري یې د ټانک په چپه کېدلو سره له منځه لاړل. یو څو تنه نور هم تلف شول. دا په واقع کې یوه بې مقاومته او په افغانستان کې په خپل ډول یوه بېساري بریالۍ پوځي کودتا وه. له یادو شویو کم شمېرو پوځیانو نه پرته بل چا پکې نبغه ونډه نه لرله. کودتا په پنځو یا شپږو ګړیو کې سرته ورسېده، په نړۍ کې هم شاید چوره ونه لري په دغې کودتا سره د څه کم دوه نیمو پېړیو پاچايي نسکوره شوه او پر ځای یې د ولسمشري یا جمهور نظام په پښو ودرول شو. په دې ډول په افغانستان کې د یوه نوي دولتي نظام بنسټ کېښول شو، خو په دغې کودتا سره دغسې نظام نسکور شو چې د ملت د استازو په خوښه په لویې جرګې سره تاسیس شوی او په سراسري ملي انتخاباتو سره تثبیت شوی و او په دې ډول یې افغانانو ته مشروعیت لازه بلکه خانګړتیا یې دا وه چې هغه د دغسې پوځیانو له خوا په ټانکونو او وچ زور سره نسکور شو چې نژدې ټول یې ټیټ رتبه بې تجربې ځوان پوځي افسران او یو شمېر یې

مسکو پلوه کمونیستان وو.

پاچا محمد ظاهر هم چې په دغه وخت کې په ایټالیې کې له یوه لنډ خنډ نه وروسته دغه کودتا ومنله او خپله هغه لوړه بې ترپښو لاندې کړه چې د اساسي قانون د دفاع په اړه یې د ملت د استازو په مخ کې کړې وه، ده د زمري د میاشتې په ۲۱مه د خپل گوښه کېدلو لیک په روم کې د افغانستان سفیر نور احمد اعتمادي په لاس محمد داود ته واستوه، په دې ډول:

برادرم جلالتماب رئیس جمهور

از موقعیکه خبر جریانات اخیر را شنیدم، تا اینندم فکرم متوجه وطن من بود و برای آینده آن نگران بودم، مگر همینکه دریافتم مردم افغانستان بغرض اداره آینده امور ملی خود از رجیم جمهوریت با اکثریت کامل استقبال نموده اند، با احترام از اراده مردم وطنم خود را از سلطنت افغانستان مستعفی میشمارم و بدینوسیله از تصمیم خود بشما ابلاغ میکنم، درحالیکه آرزوی من سعادت و اعتلای وطن عزیز من است، خود را بحیث یک فرد افغان زیر سایه بیرق افغانستان قرار میدهم.

دعای من این است که خداوند بزرگ و توانا همواره حامی و مددگار وطن و هموطنان وطن من باشد. (۵۳)

# محمد ظاهر

معاصر افغانستان وروستي پاچا محمد ظاهر تر هر بل افغان پاچا نه اوږده پاچايي کړې ده، دی په ۱۹۳۳ کې د خپل پلار پاچا محمد نادر له وژل کېدلو نه تر ۱۹۷۳ پورې څلوېښت کاله د افغانستان پاچا و، دی په دغه کال کې نولس کلن و، خو دی تر ۱۹۶۳ پورې په نامه پاچا و، دی د خپل یوه تره محمد هاشم په اوږدې صدراعظمۍ کې او د بل تره شاه محمود په صدراعظمۍ کې د پاچايي چارو د اجرا لپاره ونه هڅول شو. ده د خپلې خوانۍ نهه دېرش کلونه په دغه ډول تېر کړل، چې د پاچايي چارو په اړه د تجربې خاوند نه شو. د محمد داود په لس کلنې صدر اعظمۍ کې (۱۹۵۳-۱۹۶۳) له هغه او دهغه ورور محمد نعیم سره په ګډه دعملي سیاست ډګر کې فعال شو، خو په داسې حال کې چې پاچا دی و د سیاست نوښتګر او عامل محمد داود و. نو ویل کېدی شي چې محمد ظاهر تر نهه څلوېښت کلنۍ پورې په بشپړه او ازاد ډول پاچايي نه ده کړې. په دغې دورې کې او بیا تر ډېر وخت پورې ده د امیر حبیب الله په شان، خپل زیات وخت د پردیو نجونو په فکر کې هم تېر کړی، څنګه چې له هغو سره د هغه نږدې والی په پټه او د عرف او قانون پر خلاف و او څنګه چې دی تر نهه څلوېښت کلنۍ پورې

د پاچايي په چارو کې د تجربو خاوند نه و شوی، دی هغسې زړور او ريښتنی منونکی شخص نه شو چې افغان واکمن بايد وي. پر هغه سربېره څنګه چې ده پښتو ويلی نه شوه، که څه هم پښتو د افغانستان د زياترو خلکو ژبه ده، له پښتنو سره يې ډېره نه لګېده.

لامهمه دا ده چې دده په پاچايي کې واکمنه کورنۍ چې په اصل کې پښتنه وه فارسيوانه او له پښتنو نه بېګانه او اشرافي شوه، نو ويل کېدلی شي چې پاچا محمد ظاهر که څه هم د افغانانو پاچا و، افغان تولنه ښه نه پېژندله.

سره له دې هم محمد ظاهر که د خپلې واکمنۍ په وروستيو لسو کلونو کې د افغانانو لپاره هغسې ازاده او دموکراته تګ لاره غوره کړه چې بل هيڅ افغان واکمن نه وه غوره کړې. دده په هڅونې او دستور سره يو شمېر دموکراتو، قانون پوهو او کارپوهو افغانانو د سيد شمس الدين مجروح په مشرۍ د محمد داود له ګوښه کېدلو نه وروسته د پاچا محمد نادر د وخت اساسي قانون په دغه ډول واړوه چې د درې ګونو قوتونو په ځرګند بېلولو سره يې د قانون پر بنسټ د ازاد ژوند لپاره لاړ هواره کړه چې په هغه سره فردي ازادي او دموکراسي په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره په پراخه اندازه ممکنه شوه. که د اوسني افغانستان کومې پېښې ته د انقلاب نوم ورکول کېږي هغه بايد يوازې دغه تحول ته ورکړل شي، ځکه چې په دغه تحول سره د فردي ازادي او ابتکار او کسب او کار دغسې دوره پيل شوه چې په هغې کې حکومت د محکمې له حکم نه پرته هيڅ افغان ځارلی نه دی، بندي کړی نه دی او اعدام کړی نه دی، که محکمې د وژنې په موضوع کې وژونکی په اعدام

محکوم کړي، پاچا کوښښ کړی چې د وژل شوي کورنۍ وژونکي وبښي.

پاچا د اعدام مخالف و او په معاصر افغانستان کې یوازې په دغې دورې کې حکومتي جاسوسان تر اخري ممکن حد پورې کم شوي وو.

د قانوني حکومت او قانوني چلند له امله په ټول افغانستان کې د امنیت او ډاډینې دغسې فضا مینځته راغله چې دهغې په سوري کې په خپله پاچا محمد ظاهر هم د یوه عادي افغان په شان په کابل ښار او اطراف کې ازاد گرځېده.

«د پاچا همدغه ازاد گرځېدو سره په ۱۹۷۱ کې د آی خانم باندې ته نژدې یو یوناني ښار ومونډل شو. یوه کلیوال ورته یوه غیر عادي تووړلې شوې ډبره وښووله، پاچا بیا په افغانستان کې د فرانسې د کېندنې هیئت وگماره او هیئت د دغسې یوناني ښار اثار رابرسېره کړل چې ۳۰۰ م کې د سلوگوس نیکاتور په واکمنۍ کې ودان شوی و.»

دقانوني نظام په تاسیسولو کې د پاچا محمد ظاهر ونډه چې ازادي پال، دموکرات او ارامې خوښوونکی شخص و، اساسي وه، خو په دغه وخت کې په افغانستان کې دغسې یوه پراخه تعلیم کړي منځنۍ ډله د ښځو په گډون هسکه شوې وه چې دغسې نظام یې غوښته.

پاچا محمد ظاهر له دغې ډلې سره په اتحاد سره چې هغه د اوږدې مودې د امنیت او د عصري پوهنې محصوله وه، دغه نظام رامنځته کړ، خو د اساسي قانون له مخې په عمل کې یې سلطنت له حکومت نه بېل نه کړ، په نتیجه کې لکه هسې چې په تېرو مخونو کې یې بیان شوی، د موسی شفیق تر صدراعظمۍ

پوري حکومتونو ونه شو کولی، پر هغو پېښو، لاس برې ومومي، چې د نوي دموکرات نظام زېږنده و. دغه حال به د پاچا د هغه چلند له امله هم و چې به هغه سره د واکمنې کورنۍ غړي حتی تر حکومتي لوړپوړو چارواکو نه هم لوړ ګڼل کېدل او په دې اړه شکايتونه هم نه اورېدل کېدل. دغه حال د انارشۍ او د حکومتونو د بې اغېزتوب لامل شو، چې ګوندونو ترېنه ګټه اوچته کړه او د یاغي توب روحیه يې خپره کړه.

په دغه حال کې حتمي وه چې امنيتي ځواکونه چې د نظام او امنیت ساتلو وسیلې وې، د ډاډ وړ وي، خو د هغو د سر کسان د مرکزي ځواکونو قومندان عبدالولي او د ملي دفاع وزیر خان محمد چې پاچا دواړو ته پوره اختیار ورکړی و ونه شو کولی چې افسران تشخیص او بې اثره کړي، دغه افسران که څه هم يو څه سیاسي شوي او د نظام مخالف وو، حتمي نه وه چې هغوی به نظام نسکور کړي. د عامه ذهنيت پر خلاف؛ لکه هسې چې په مخکې پانو کې ولیدل شول، له کودتا نه لږ دمخه د یوې لوا په تصادفي انتقال سره هم کودتاچیان پټ شول او په ټاکل شوي وخت کې د وظیفې اجرا ته حاضر نه شول، په واقع کې دا د پاچا محمد ظاهر بې تجربه ګي وه چې لږ و ډېر اويا کودتاچیانو په څوارلسو ټانکونو سره دغسې نظام نسکور کړ چې د څه کم یو لک عصري او موټوریزي پوځ خاوند و. له بده مرغه د دغه نظام په نسکورېدلو سره د هېواد وضع دغومره ګډه وډه شوه چې امنيت تر اوسه (۲۰۰۹) هم تینګ شوی نه دی او افغانستان په پرله پسې ډول د فرد، ډلې او ملت په توګه په ډول ډول مصیبتونو اخته شوي دي.

# د سرطان د کودتا
# په اړه بحث

تر دې خایه پورې دا وویل شول چې د سرطان کودتا څنګه سرته ورسول شوه اوس به په دې اړه بحث وشي، چې د هغې د بري علتونه څه وو. په پورته پاڼو کې په دغه اړه هم یو څه ویل شوي، خو له دې وروسته به په هغه پوره بحث وشي او بحث به د محمد ظاهر او محمد داود ترمینځ له اړیکو نه پیل شي.

د سپین په وینا محمد داود که څه هم له اول نه خپل اړیکې له پاچا سره «دلعنت کړي» ګڼله، خو سره له دې هم د خپلې صدراعظمۍ تر پایه پورې یې ورسره په ګډه کار وکړ او د دوی په همکارۍ سره افغانستان تر بل هر وخت نه وړاندې ولاړ او ودان شو او په نړۍ کې هم د اعتبار او حیثیت خاوند شو، خو د قانوني پاچایۍ له پیل سره ددوی ترمنځ کړکیچ څرګند او تریخ شو، څو چې محمد داود کودتا وکړه.

د کړکیچ سرچینه د اساسي قانون ۲۴مه ماده وه چې د محمد داود مخه یې نیولې وه چې په سیاسي ګوند کې فعالیت وکړي، صدر اعظم یا وزیر یا د شورا یا سترې محکمې غړی شي. محمد داود که څه هم د پاچا د تره زوی و، د پاچایي کورنۍ غړی وګڼل شو او د سلطنتي کورنۍ د نورو غړو په شان د ژوند تر پایه پورې له سیاسي ژوند نه بې برخې شو، په داسې

حال کې چې یو نا سکه تربور یې پاچا او بل نا سکه تر بور یې د مرکزي ځواکونو قومندان و، په بله ژبه د محمد داود دغه ناسکه تربوران په دولتي چارو بوخت وو او دی په کور کې گوښه کړل شوی و. په ظاهر کې ۲۴مه ماده ددې لپاره ایستل شوې وه چې سلطنت له حکومت نه بېل وي او پاچا سلطنت وکړي؛ نه حکومت، خو په عمل کې لکه چې دمخه ولیدل شول، سلطنت له حکومت نه هغسې چې اساسي قانون تاکلې وه، بېل نه و او پاچا د قانون پر خلاف صدر اعظمانو ته هدایتونه او دستورونه ورکول. له بلې خوا ۲۴مه ماده هغومره پراخه نیولې شوې وه چې محمد داود او ورور یې محمد نعیم په سیاسي لحاظ بې اثره شوي وو، دا په ځو لحاظ یوه غټه تېروتنه وه چې په پای کې یې نه یوازې حکومت او نظام ته بلکې جامعې ته هم زیان ورسوه، یو دا چې پاچايي کورنۍ د پرنسیپ له مخې په خپله په پاچا یانې په محمد ظاهر ځرخېده، نه د هغه په نیکه محمد یوسف چې پاچا نه و، د پاچا محمد ظاهر تربوران یا تربورانې د هغه د هستوي یا اصلي کورنۍ غړي نه وې، بله دا چې دغومره ډېر کسان له دولتي لوړو مقامونو او سیاست نه محرومول د هېواد په گټه نه و. دغه ماده ددوی په حق کې بېعدالتي وه، ۲۴مه ماده باید یوازې د پاچا د خپلې کورنۍ د غړو په اړه وای او محمد داود باید د یوه عادي افغان په توگه په نظر کې نیول شوی وای.

مهمه دا وه چې څوک داده کېدلی شو چې محمد داود به ددغې مادې درناوی وکړي. د محمد داود په اړه دغه څو اساسي واقعیتونه ټولو ته ځرگند و: دی په هغه وخت لاهم ځوان و «درې پنځوس کلن، ټول بالغ عمر یې د حکومت په کولو کې

تېر کړي و، حکومت کول یې مسلک شوی او په کې د تجربو خاوند شوی و.

د معمارۍ له چارو اخوا او له خپلې کورنۍ سره له ژوند کولو نه پرته بل مصروفیت او ساعت تېري یې هم نه لرله. د پاچا پر خلاف له پردیو ښځو سره د نږدې کېدلو شوقي هم نه و، د څمکو، کورونو او د شتمنیو د ډېرولو په لټه کې هم نه و. ددې پر خلاف وطن او وطنوالو ته د خدمت کولو ټینګ لېوال و، دی په ټول هېواد کې یو پېژندل شوی شخص و او په پوخ کې یې پلویان هم لرل. ددغه واقعیت اهمیت په دې کې و چې په افغانستان کې د قانون له حکومت نه د شخص حکومت مهم ګڼل کېده او لاهم ښه ګڼل کېږي.

دا هم مالومه وه چې هغه دخپل ګوښه کېدلو په لیکونو کې د دموکراسي د راوستلو او د پاچایي نظام د نوي کولو لپاره وړاندیز کړي و، دغه وړاندیز ښووله چې محمد داود غوښتل له پاچایي نظام سره همکاري وکړي او لکه چې د مخه مې ویلي هغه له صدر اعظمۍ نه خان ګوښه کړ نه له سیاست نه او مطلب یې دا و چې په نوي نظام کې د کوم ګوند په سروالي یا په کوم بل ډول د سیاست په ډګر کې بیا فعال شي. له همدې امله به و چې محمد داود له خپل ګوښه کېدلو نه وروسته له صدر اعظم محمد یوسف سره د همکارۍ لاز ونیوله، په رسمي ملمستیاوو کې یې ګډون کاوه او حتی د ځینو سرته نه رسېدلو دولتي ودانیو څارنه کوله او محمد یوسف ته یې د صدر اعظمی مبارکي هم وویله. په اصل کې دا محمد داود و چې پاچا ته یې د هغه د صدر اعظم کېدلو سپارښتنه کړې وه. (۵۴)

نوي صدر اعظم هم په خپلې لومړنۍ وینا کې ځرګنده کړه

چې «د ده حکومت هغه اهداف په نظر کې نیسي چې محمد داود خان یې پیشنهاد کړی و.» (۵۵).

خو د اساسي قانون د لیکلو کمېټې چې د محمد داود هیڅ پلوی پکې غړی نه و د پاچا په هدایت کار وکړ، د هغه د یوه غړي سید قاسم رشتیا په وینا د پاچا هدایت و چې کمیسون دې ازاد وي او کوم خاص وړاندیز دې په نظر کې ونه نیسي او هغه څه دې په اساسي قانون کې ځای کړي چې د افغانستان په ګټه وي. (۵۲).

د محمد داود وړاندیز دا و چې «د پاچا د اکا زامن د سلطنتي کورنۍ غړي نه دي» او «په ولسي جرګې کې د اکثریت حزب مشر د پاچا له خوا د حکومت په جوړولو مامور کېږي.» (۵۷).

د محمد داود وړاندیزونه ونه منل شول او پر هغه سربېره په لویې جرګې کې چې د نوي اساسي قانون د منلو لپاره بللې شوې وه په ۲۴مې مادې کې دا هم اضافه شوه چې «اعضای خانواده پادشاهي حیثیت خود را بصفت عضو خانواده پادشاهی مادام الحیات حفظ میکنند.» له هغه وروسته د مولف فراهي په وینا «محمد داود خان متیقن شو چې ده پر ضد په دولت کې دسیسې کېږي، نو دی د سلطنتي نظام دښمن شو.» (۵۸).

له پاچا سره د محمد داود اړیکې هم وشکېدل، پاچا په کال ۱۹۷۰ کې فراهي ته چې هغه وخت په ولسي جرګې کې د فراه ولایت استازی و، ویلي و چې «د محمد داود سره زما فامیلي روابط پرې شوي دي او دا څلور کاله کېږي چې ما خپله خور چې د محمد داود مېرمن ده، نه ده لیدلې» (۵۹).

دا باوري نه ده چې د اساسي قانون ۲۴مه ماده د چا په فکر دغومره پراخه ونیوله شوه، د هغې تینګ پلویان او د ځینو په روایت واضعان سید قاسم رښتیا او میر محمد صدیق فرهنګ وو، چې دلومړني کمېټې غړي او د محمد داود مخالفان وو. هر څه چې و دغه ماده لکه څنګه چې د مخه مې استدلال وکړ د افغانستان په زیان تمامه شوه، له هغه نه غیر دغه اساسي قانون لکه هسې چې فرهنګ وایي «به تناسب قانون های قبلی افغانستان و نسبت به قانون های اساسی سایر کشورهای در راه رشد از جمله همسایگان افغانستان، ایران و پاکستان گامی بزرگ بسوی دموکراسی بود، زیرا که اختیارات گسترده پادشاه را محدود ساخته، دست خانواده شاهی را از مداخله در امور دولتی کوتاه میکرد، مصؤونیت فردی و ازادی های بنیادی مردم را تضمین مینمود و با خارج ساختن دو قوه تقنیني و قضایي از زیر سلطه قوه اجرائیه، اصل تفکیک قوا را که شرط اساسی حکومت قانون میباشد تضمین میگردد.» (۵۹ الف)

په دغه حال کې له سیاسي او امنیتي نظر نه حتمي وه چې محمد داود تر خارني لاندې نیول شوی وای، په تېره وروسته له هغه چې د پاچا شخصي کوښښونه د محمد داود د پخلا کولو لپاره سرته ونه رسېدل. (۵۹ ب)

پاچا محمد ظاهر ته به مالومه وه چې په افغانستان کې د قدرت په سر تربوران څه چې حتی ورور د ورور او کله زوی د پلار په مقابل کې هم جګ شوی دی ده ته به دا هم مالومه وه چې په افغانستان کې د قانون تر حکومت نه د شخص حکومت لوړ ګڼل شوی دی او اساسي قانون او قانوني نظام په خپل ذات کې

د امنیت د خوندیتوب ضامن کېدلی نه شي، د امنیت د خوندیتوب لپاره د قانوني نظام نه د خلکو په ملاتړ سربېره د ډاډ وړ امنیتي خواکونو شته والی حتمي دی. په دموکراتو هېوادونو کې هم سره له دې چې حکومتونه په ازادو انتخاباتو سره منځته راځي او مشروع وي همدغسې وي او خلک له خپل قانوني نظام نه دفاع کوي، خو افغانانو هېڅ وخت له خپل قانون او خپل نظام نه دفاع نه ده کړې. نو ویل کېدلی شي چې دافغانانو د ستونزو سرچینه له قانون او مشروع نظام نه دفاع نه کول او د هغه پر خلاف د شخص او زور حکومت ته درناوی کول دي، که څه هم هغه به د قانوني نظام په نسکورولو مینځ ته راغلی او نامشروع وي، خو محمد ظاهر د پاچا په توګه د اساسي قانون له مخې د خپلې دندې په تر سره کولو کې په اساسي ټکو کې پاتې راغی.

لکه چې د مخه وویل شول ده له موسی شفیق نه د مخه صدر اعظمانو ته د اساسي قانون له مخې صلاحیتونه ورنکړل او بیا چې د مظاهرو او د حکومتونو د بې اغیزتوب له امله په وطن کې انارشي راغله، پاچا د انارشي د رفع لپاره هم ټینګ او غوڅ عمل ونه کړ، په دې اړه یې د صدر اعظم د مرستیال صمد حامد مشوره هم ونه منله چې د هغه د یوې پوښتنې په خواب کې ورته ویلي وو، چې « افغانستان په خطر کې دی او باید ژر په هېواد کې اضطراري حالت اعلام سي چې په دغه حالت کې به د شورا صلاحیتونه له مینځه ځي، د ملي جرایدو نشرات به متوقف سي، پر سیاسي ډلو به قیود وضع سي، تر هغه وروسته به په اساسي قانون کې تعدیلات راسي، د دیموکراسي اساسات به په تدریجي ډول تر اجرا لاندې ونیول

سي.)) (۲۰)

د موسی شفیق په وخت کې د کودتاګانو اوازې هم روانې وې. د عبدالولي له خوا د محمد هاشم میوندوال له خوا او د محمد داود له خوا اوس مالومه شوې چې دغه اوازې د محمد داود په تحریک خپرې شوې وې په دغه مقصد چې حکومت تېر وخي او اغفال شي. (۲۰ الف)

د لومړیو دوو تنو کودتاګانې هسې اوازې وې او د محمد داود د کودتا کولو په نیت د حکومت لوړ کسان خبر وو.

د ملي دفاع د استخباراتو مشر ډګروال عبدالغفور وايي چې (( در باره فعالیت های داود خان، رفقایش و مجالسی که تشکیل میدادند، راپورهای بمن رسیده بود، حتی نامنویس کسانیکه در این راه با داود خان همکار بودند باداره استخبارات مواصلت ورزیده بود، من این گزارش ها را به وقت و زمانش دو مراتبه [مرتبه] به شخص وزیر دفاع ملی تقدیم کرده بودم، وزیر دفاع آن را نزد خود قید کرده و بعد از مدتی که باصرار از و خواستم تا درباره هدایتی بدهد... اوراق را از دوسیه بیرون کشیده در ذیل آن این جمله را نوشت. و این یک تهمت ناروا بهٔ شخص والاحضرت سردار محمد داود خان است، اجراات ندارد، حفظ شود )) (۲۱)

ډګروال عبدالغفور چې د لغمان او زما دوست و، دغه خبه ماته هم په همدغه ډول ویلې و. لوی درستیز جنرال غلام فاروق ته هم دغسې خبرونه رسېدلي وو، خو هغه هم رښتیا نه ګڼل: (( از وقوع یک کودتا جسته و گریخته اطلاعاتی میرسید و بعضاً چنین خبر میدادند که داودخان در راس کودتا قرار دارد اما باور ما نمی آمد، هیچ دلیلی وجود نداشت که داود خان بر

علیه سلطنت چنین اقدامی نماید.)) (۲۲)

جنرال عبدالولي چې د مرکزي خواکونو قومندان او په واقع کې د پوځ اول لمبر شخص او د نظام ټینګ پلوی و، هم د محمد داود د کودتا کولو په نیت خبر و، ده مولف جنرال سراج ته چې د خوریې په توګه ورته نږدې و، په ۱۹۸۹ کې په جرمني کې د هغه په هستوګنځي کې ویلي و چې ((بلی! من از تحریکات داود خان اطلاع داشتم و برای بدست اوردن اطلاعات موثق سه نفر از صاحبمنصبان جوان را وظیفه داده بودم که در حلقه همکاران داود خان داخل شده بمن از جریانات خبر دهند. از این سه نفر صاحبمنصبان دو نفرش زنده است، که نمیخواهم نام ببرم، نفر سوم که تورن صاحب جان خان است، قومندان گارد داود خان بود از طرف رژیم کمونستی کشته شده است، هر سه صاحب منصب مذکور تازه ترین خبرها را با نوارهای گفت و شنیدهای جلسات داود خان بمن اوردند من نوارهای ثبت شده را با علیحضرت شنوانده و بعرض رساندم تا بمن اجازه دهند که همه این تحریکات را در ظرف یک شب از بین برده و داود خان را شخصاً بمنزلش رفته و توقیف نمایم، اعلیحضرت گمان میکردند که نظر به نفرت و انزجاری که من از داود خان دارم، در صدد انتقام گیری ازو میباشم، ازینرو بمن چنین دستور دادند: ((نی اغا لاله به هیچ تشبثی دست نخواهد زد. غرضدار او نباشید. این جریانات چند دفعه تکرار شد و نتیجه باز هم همان بود که گفتم.))(۲۳)

مولف سراج د عبدالولي د وینا په اړه وایي چې ((من در صدق گفتار جنرال عبدالولی هیچ تردید ندارم او میتوانست جلو کودتا را بگیرد. اما اینکه پادشاه نمیخواست این کار

عملي شود، رمزي است که تا امروز از پرده بیرون نیافتاده است.» (۲۴)

دغه «رمز» د لوخولو لپاره نظرونه وړاندې شوي دي، یو نظر د پاچايي کورنۍ د یوه غړي همایون شاه اصفي دی چې له کودتا وروسته په روم کې یې پاچا ته امادګي ښکاره کړه چې له کودتاچیانو سره په افغانستان کې مبارزه وکړي، خو پاچا ورته وویل چې «نه، بافغانستان بروید و با همکاری سردار داود خان به وطن خود خدمت کنید، اگر سلطنت را درمیان پتنوس طلایي گذاشته و بمن تقدیم کنند، نخواهم پذیرفت.» (۲۴ الف)

آصفي دا هم وايي چې څنګه چې په پاریس کې د افغانستان سفیر عبدالغفور روان فرهادي د پاچا د سفر خرڅ پیسې قید کړې وې، د پاچا لاس تنګ و او یوازې لس زره ډالر ورسره وو. بیا دا اوازه وه چې کودتا د واکمنې کورنۍ په مصلحت شوې، ددې لپاره چې انارشي له منځه یوړله شي او لوړواک د واکمنې کورنۍ له یوه بل غړي سره وي که څه هم د واک بڼه به بدله شوې وي. بل تعبیر دا دی چې د کودتا سرچینه د کریملن واکمنان وو، ددغه تعبیر له مخې شورویانو په سهیلي آسیا کې د افغانستان انارشي او له هغې نه را پیدا «سیاسي تشبا» د شوروي په زیان لیدله او داسې یې ګڼله چې هغه ممکن د لویدیځ پلوو افغانانو له خوا ذکه شي؛ لکه چې په ایران کې همدغسې شوي وو او د محمد مصدق حکومت نسکور شوی و، نو شورویانو ددغسې شوروي پالو افسرانو له خوا کودتا غوښتله چې په افغانستان کې ثبات ټینګ کړي او د شوروي د هغې طرح پلوي به کوي چې داسیا د ټولیز امنیت لپاره یې

دمخه وضع کړې وه او پاچا محمد ظاهر دغه طرح د افغانستان په ګټه نه وه بللې او خپل نظر یې د شوروي اتحاد د لوړ رتبه هیئات ته ښکاره کړی و چې د نیکولای پودګورني په سرواليي د موسی شفیق په صدر اعظمي کې کابل ته راغلی و. د وروستي تعبیر سرچینه د اعتبار وړ شخص دی، چې نه غواړي نوم یې یاد شي.

دا ټول په واقع کې د فردونو تعبیرونه دي یا نې په شواهدو بنا واقعیتونه نه دي، خو هغه د محمد ظاهر او محمد داود شخصیتونو ښکارندویې کوي؛ لکه چې د مخه لیدل شوي، محمد ظاهر د سولې او ارامۍ شخص و، نه د جګړې او مقابلې؛ له دولتي چارو سره یې د زړه مینه هم نه وه. د پوهنې پخواني وزیر عبدالمجید په روایت پاچا لاغوښتل د صدراعظم شاه محمود په وخت کې له پاچایي نه ځان ګوښه کړي او په افغانستان کې د ولسمشري نظام حاکم شي. (۲۴ب)

خو څنګه چې پاچا محمد ظاهر د غوڅ عمل شخص نه و، د خپلې پاچایي له قانوني او مشروع کولو نه پرته یې بل هیڅ غټ سیاسي ابتکار او عمل نه دی کړی، نو دغه ادعا د منلو وړ نه ښکاري چې محمد ظاهر پاچایي نه غوښتله. هغه پاچایي غوښتله خو په هغه حال کې چې ټول ورسره موافق وي او چې محمد داود کودتا وکړه مقابله یې ورسره ونکړه یا یې کولی نه شوه که څه هم د ایران پاچا رضا شاه پهلوي او دپاکستان صدر اعظم ذوالفقار علي بهوټو د پاچایي په بېرته خپلولو کې د مرستو وعدې هم ورسره وکړې. (۲۴ب)

محمد داود د محمد ظاهر پر خلاف د غوڅ عمل، او ریسک منلو شخص و، خو د پاچا په شان یا تر هغه زیات په

ملي چارو او د قدرت نیولو په لار کې له باندنیو سره د جوړې کولو شخص نه و. دی پر خپل خان ولاړ یو ټینګ مغرور شخص او په واک چلولو او حکومت کولو باندې مین و او وطن او وطنوالو ته خدمت کول یې خپل ژوند لاره ګرځولې وه او واک چلول یې د آمر او «رهبر» یا لارښود په توګه غوښتل. د «رهبر» کېدلو په لار کې د پاچایي نظام اساسي قانون دده په مخ کې خنډ و، دی ددغه خنډ د لرې کولو لپاره په دې لټه کې شو چې ددغه نظام محور یانې پاچا محمد ظاهر له سیاسي ډګر نه ګرد سره لرې کړي، پاچایي د هیواد د ستونزو سرچینه ګڼله، په کال ۱۹۷۲ کې حتی مولف عبدالغفار فراهي ته، که څه هم متعهد ملګری یې نه و، ویلي و چې «د هیواد د ټولو اوسنیو بدبختیو عامل په خپله پاچا دی، تر هغه وخته چې د پاچا چاره ونه شي، تر هغو به په افغانستان کې ښه ورځ رانه شي.» (۲۵). محمد داود په خپل دغه فکر دغومره ټینګ و چې د هغه لپاره یې د نظام داخلي مخالفان چې په هغو کې د مسکو په لیکې روان کمونست ډوله چپیان هم پر خان ټول کړل. نو د مولف سراج دغه فکر پر ځای ښکاري چې وایي «شناختی را که من از داود خان دارم [این است] که او شدیداً عقده گرفته بود و انتقام اهانت ها یرا که باثر انفاذ قانون اساسي و مخصوصاً ماده ۲۴ باو وارد شده بود از سلطنت و قانون سازان گرفت.» (۲۲).

که د محمد داود د کودتا خوځونکي انګېرنه «عقده» او «انتقام» وي؛ لکه چې سراج یې وایي په دغه حال کې د محمد داود هغه ادعا چې خلکو ته یې د ولسمشري نظام او «معقولې» دموکراسۍ له لارې خدمت کول غوښتل، هسې خبرې کېږي او اصلي مقصد یې د اعلی واک خپلول و؛ لکه چې

په معاصر مهال کې په نورو هېوادونو کې هم تحول غوښتونکو خلکو ته د خدمت په نامه پر خپل نظامونه په کودتا سره نسکوره کړې، خو بيا يې د قدرت په وخت کې د خلکو د حاکميت پرنسيپ تر پښو لاندې کړی، د محمد داود او د هغه د کودتايي ملګرو «معقوله دموکراسي» چې څه يې مفهوم مشخص او واضح کړی نه دی، په خاص ډول يوه تشه ادعا وه. محمد داود دموکرات نه و، دموکراسي چې په هر نامه ياده شي، ولسي، لبرال يا معقوله، د خلکو يا د هغو استازو له خوا حکومت به وي، چې دسر وزيران به يې يا په نېغ ډول انتخابي يا د ولس د استازو په موافقه واک ته رسېدلي وي. محمد داود نه له کودتا نه وروسته د دغسې حکومت د رامنځته کولو لپاره کوښښ وکړ او نه يې د صدر اعظمۍ په وخت کې د هغه لپاره کوښښ کړی و، هغه لا د صدر اعظم شاه محمود د دورې ځوانه دموکراسي خپلې وه او ورسره يې غير حکومتي ازاد مطبوعات چې د دموکراسۍ او مدني ټولنې حتمي برخې وې غلې کړې وې. که محمد داود په دموکراسۍ عقيده لرلای د پاچايي نظام دموکراسي به يې له منځه نه وای وړې، هغه په کودتا سره دغسې اساسي قانون له منځه يووړ چې خلک يې له ازادۍ نه بهره من کړي وو. لکه چې دمخه ويل شوي افغانان د قانوني پاچايي په لسيزې کې په نظر او عمل کې تر دې حده پورې ازاد نه وو.

محمد داود دغه ازادي او دغه دموکراسي له منځه يووړه په دې نامه چې خپله «معقوله دموکراسي» په پښو ودروي، خو «معقوله دموکراسي» او په واقع کې هيڅ ډول دموکراسي په کودتا يانې په غير قانوني عمل سره پلې کېدلی نه شي، هغه هم

ددغسې کسانو له خوا چې پرې عقیده نه لري؛ لکه محمد داود او د کودتا ملګرو يې چې په دموکراسي عقیده نه لرله، که څه هم د هغې او جمهوریت په نومونو یې کودتا وکړه.

په غیر قانوني عمل سره د قانوني حکومت نسکورول یوازې حکومت له پښو نه، نه غورځوي. تولنه هم بې ثباته او زیانمنه کوي. د سرطان کودتا که څه هم په ډېرو لږو انساني تلفاتو سره سرته ورسېده، خو څنګه چې یو قانوني نظام یې په کودتا یانې په غیر قانوني عمل سره له پښو نه وغورځاوه، ټولنه یې په ژور ډول زیانمنه کړه او پایلې یې د افغانانو لپاره ښېخې درنې شوې. یوه پایله یې دا شوه چې په افغانستان کې د قانون حکومت چې نوی د اعتبار خاوند شوی و، له اعتبار نه ولوېد او د هغه پر خلاف د شخص د حکومت فکر قوت وموند، په هغه نظام کې چې په شخص ولاړ وي، شخص د خپل پاینښت لپاره هر څه کوي او دکتاتور کېږي. په دغه حال کې مخالفان هڅول کېږي چې د هغه په نسکورولو سره په خپله واک ته ورسېږي، ټولنه بیا بې ثباته او زیانمنه کېږي. بله دا چې په کودتا یانې په غیر قانوني ډول د حکومت نیول د قدرت نیولو یوه لنډه لار وګڼله شوه، سره له دې چې دا یوه خطرناکه لاده. بله پایله یې دا شوه چې د سرطان په کودتا سره په نظامي افسرانو کې دسیاسي قدرت نیولو فکر خپور شو، په تېره وروسته له هغه چې د کودتا افسران چې نږدې ټول یې واړه او څه یې چیپیان وو، په یو وار د لوړو مقامونو خاوندان شول. اوس خو د ولسمشري نظام په افغانستان کې یو واقعیت دی، خو جمهوري نظام د افغانستان غوندې له ډېرو پرګنو نه جوړ هېواد کې د پاچایي نظام په شان داومن چتر کېدلی نه شي.

د سرطان کودتا که څه هم په لږ وخت کې او په ډېرو لږو انساني تلفاتو سره سرته ورسېده او خلکو په اولو وختو کې د هغه تود هرکلی وکړ، زیاتره افغانانان یې په ژور ډول اندېښمن کړل، حتی په خپله محمد داود هم د هغې له پایلې نه ډاډه نه و. په هماغه اول وخت کې یې مولف سراج ته ویلي و چې «ما این کار را کردیم؛ چه میشود؟ نمیدانم.» (۲۷) موږ اوس پوهېږو چې په افغانستان کې تر کودتا وروسته څه وشول، په افغانستان کې له هغه وخت نه تر اوسه ډول ډول نظامونه په پښو ودرول شول او له پښو نه وغورځول شول، څو په هیڅ یوه نظام کې هغه ثبات خوندي نه شو، کوم چې په قانوني پاچایي کې خوندي شوی و، ددغې اوږدې بې ثباتۍ سرچینه د محمد داود په سر والي د سرطان کودتا ده.

# د افغانستان لومړۍ کودتايي حکومت

د محمد داود د ولسمشرۍ په پنځو کلونو کې ډېرې پېښې وشوې چې د یو څو یې فکر کېده او نورې یې ناڅاپه او د توقع پر خلاف وې. د فکر کېدونکو پېښو په لړ کې د پاچايي دورې اساسي قانون له منځه وړل، د جمهوري نظام په پښو درول او په ملکي او نظامي ځانګو کې د سروالانو په توګه د کودتاچيانو او د هغو د پلويانو ټاکل وو. کودتايي حکومت د نوي اساسي قانون تر ایستل کېدو پورې (۱۹۷۲) هېواد په فرمانونو سره اداره کاوه، په قضايي او مدني چارو باندې پخواني قانونونه جاري وو، خو په امنيتي او سياسي موضوع ګانو کې نه يوازې د محمد داود، بلکې د نورو کودتاچيانو امرونه هم قاطع وو. په دې ډول د جمهوريت په اولو دريو کلونو کې د قانون د حکومت ځای د اشخاصو حکومت ونيوه او د چارلز دورن دغه وينا سمه وختله چې: ( When law ends, tyranny begins ) ياني (( هغه وخت چې قانون ختمېږي، استبداد پيل کېږي)) سره له دې هم څنګه چې له کودتا سره مخالفت نه و شوی، د پاچايي دورې وزيرانو او نورو له خپلو رسمي مقامونو نه پرته نور څه له لاسه ورنکړل، يوازې يو څو تنه يې په بند کې د يوې کمې مودې تېرولو نه وروسته ازاد شول. د حکومت نور مامورانو او ميرزايان په خپلو وظيفو کې پاتې شول او د حکومت په انتقال

کې ستونزه پېښه نه شوه. د پاچايي کورنۍ غړو ته وروسته له يو څه وخت نه له افغانستان نه د وتلو اجازه ورکړل شوه او هغوی په روم کې له پخواني پاچا محمد ظاهر سره يو ځای شول. په دې ډول محمد داود او نور کودتاچيان د واکمنۍ له ځرګندو مدعيانو نه بېغمه شول ، خو عبدالولي ته چې د پخواني پاچا زوم او سکه تربور و او په پوځ کې يې پلويان لرل او د واکمنۍ مدعي و ، له نظامي محاکمه کېدو نه وروسته ورته بهرون ته د تګ اجازه ورکړل شوه.

نبي عظيمي وايي چې اول نوي دولتي سروال محمد داود ورته هدايت ورکړ چې محمد ولي دې اعدام ته برابر شي او ورسته يې ورته هدايت ورکړ چې محکمه دې ورته برائت ورکړي. (۶۸) فايق دغه وينا سمه نه ګڼي او وايي چې دا د محمد نعيم په سروالي نظامي محکمه وه چې عبدالولي ته يې برائت ورکړ، که څه هم د تحقيق د هيئت کمونيستو غړو د نبي عظيمي او عبدالصمد ازهر په ګډون له عبدالولي نه دغه اقرار د هغه په کړولو سره تر لاسه کړی و، چې کوم مرګ چې د عقرب په دريمه شوی و ، هغه ده په امر شوی و.

فايق دا هم وايي چې دغو «پرچمي کمونيستانو» غوښتل عبدالولي اعدام ته برابر کړي، ځکه چې هغه « خار چشم روسان و غلامان شان بود.» (۶۹)

په هر حال محمد داود او نور کودتاچيان هغه وخت پوره ډاډمن شول، چې پخواني پاچا محمد ظاهر د ايران او پاکستان د هغو وعده شويو مرستو له منلو څخه ډډه وکړه چې له هغه سره يې د بيا پاچا کېدلو په لار کې کوله. (۷۰) د ايران پاچا محمد رضا د افغانستان د پاچايي نظام نسکورېدنې او د پاکستان

حکومت د ذوالفقار علي بهوټو په صدر اعظمي د محمد داود بیا واکمن کېدل نا ارامه کړي وو. له ایران سره د پاچایي ساتلو اندېښنه وه او پاکستان اندېښمن و چې محمد داود به اوس بیا د پښتونستان داعیه هغسې ټینګه ونیسي چې د صدر اعظمۍ په وخت کې یې ټینګه نیولې وه.

جمهوري حکومت چې په فرمانونو سره تنظیم شو، په نوي بڼه و او دوه خانګړتیاوې یې لرلې: یوه دا چې په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره مسکو پلوه پرچمیان په نوي نظام کې په تنوتلو سره د اعتبار خاوندان شول، بله خانګړتیا یې دا وه چې دغه بې تجربې ځوانان په ملکي او نظامي څانګو کې د آمرانو په توګه لوړو مقامونو ته ورسېدل. د کودتا په سبا (د سرطان ۲۷)، مرکزي کمېټه اعلام شوه، چې سروال یې محمد داود او منشي یې محمد حسن شرق وو. غړي یې هغه دولس تنه واړه نظامي افسران وو چې کودتا یې سرته رسولې وه، مرکزي کمېټې د چپیانو د نفوذ ښکارندويي کوله. دغه نوم او دغه جوړښت هغو سیاسي جوړښتونو ته ورته وو، چې اول د شوروي کمونېستانو تنظیم کړي وو چې غته خانګړتیا یې د دولتي قدرت انحصار و. د کابل مرکزي کمېټه هم یوازې له کودتاچیانو نه جوړه وه. لکه د مخه چې ویل شول زیاتره یې چپیان وو، دغې کمېټې نه تاکلې دنده لرله او نه یې په منظم ډول غونډې کولې او په پای کې هغه هغسې چې د چپیانو په قوت سره جوړه شوې وه، د هغو د نفوذ په لرېدلو سره له منځه لاړه، خو د کودتایي حکومت په لومړي پړاو کې چپي غړو له هغه نه ایډیالوجیکي استفاده وکړه، چې زر به بیان شي.

له کودتا نه دوې اوونۍ وروسته (دزمري ۱۱مه) د وزیرانو

کابینه د مرکزي کمیټې له منځني نه وروسته اعلام شوه. محمد داود د دولت سروال، د حکومت صدر اعظم او د ملي دفاع او باندنیو چارو وزیر او محمد حسن شرق د صدر اعظم مرستیال شو، نور وزیران دا وو: عبدالمجید د عدلیې، سید عبدالاله د مالیې، فیض محمد د کورنیو چارو، نعمت الله پژواک د پوهنې، پاچا ګل وفادار د سرحدونو، عبدالقیوم د معدنونو او صنعتونو، غوث الدین فایق د فواید عامې، نظر محمد سکندر د عامې روغتیا، عبدالرحیم نوین د اطلاعاتو او کلتور، غلام جیلاني باختري د کرنې، یو څه وخت وروسته محمد خان جلالر د سوداګرۍ وزیر، علي احمد خرم د پلان وزیر او وحید عبدالله د باندنیو چارو د مرستیال په توګه د کابینې غړي شول.

محمد داود د کودتا د لومړۍ ورځې په رادیویي وینا کې د خپلې صدراعظمۍ دورې وزیرانو ته «د ضعیف النفس» په خطاب کولو سره شا کړه او په دې ډول یې د دغسې کسانو له همکارۍ نه خپل حکومت محروم کړ، چې لایق او د تجربې خاوندان وو. لامهمه دا وه چې د پوځي افسرانو په برابر کې یې د غسې تبعیضي سیاست او چلند غوره کړ چې پنځه کاله وروسته یې په مرګ تمام شو. له بلې خوا د کودتا په اوله ورځ کودتا کوونکو افسرانو ته دوه رتبې ترفیع او له کودتا سره مرستو کوونکو ته یوه رتبه ترفیع ورکړل شوه. داسې هم د پوځ ټول کمکي ضابطان د رییم بریدمنان شول، په دغه کار سره په پوځ کې د کمکیو ضابطانو قحطي راغله، یا راوستل شوه او پوځ زیانمن شو. (۷۱)

دغو نویو بریدمنانو «این عطیه را ناشی از تفقد و توجه

رفیقانه طبقاتی اعضای حزب خلق افغانستان دانسته گروه گروه شامل آن حزب گردیدند.» (۷۲)

په هغه سربیره لکه چې د مخه ویل شوي، له دغو ورو کودتایي افسرانو نه ځینې یې د کابل ښار او شاوخوا د تولو پوځي واحدونو او فرقو قومندانان مقرر شول، متقاعد ډگروال غلام حیدر رسولي د پوځ د قول اردو قومندان شو او جنرال عبدالکریم مستغني که څه هم په کودتا کې یې برخه نه لرله، خو څنگه چې دیوه وړ افسر په توگه محمد داود ته منلی و، د پوځ لوی درستیز شو. په پوځ باندې د محمد داود غټ او نیغ وار دا شو چې نوي حکومت د همدغه کال په جشن کې یووېشت جنرالانو ته په یو وار او ناڅاپه تقاعد ورکړ. د مولف سراج په نظر «دربین جنرالان مذکور عده ای متخصصین، ماهران و روشنفکران بودند که خروج اوشان از اردو دفعتاً خلایی را بوجود آورد و داود خان تا وقت مرگش جای انها را پر کرده نتوانست.» (۷۳)

محمد داود لا د مخه د ملي دفاع په مقر کې یو شمېر جنرالان او قومندانان په دې سکونډلي و چې «امروز که بزور جوانان اردو رژیم فاسد شاهی سرنگون شده است، شما مردمْ هیچکدام تان یک احساس مثبتی در برابر آن از خود نشان ندادید.» (۷۴) دغو افسرانو د ډوډۍ سالون ته د «لازبسود» محمد داود په نتوتلو سره نه چیچکې کړي وې او نه یې لکه څنگه چې رواج و، هغه ته مبارکي ویلې وه.

په هغه سربېره د پوځ ځینو قومندانانو محمد داود ته هغه وخت چې د خپل گوښه توب په وخت کې هېواد ته په سفر تللی و، هر کلی نه و ویلی، نو محمد داود له دوی نه هم شاکي شوی

و؛ لکه چې له پاچا نه شاکي شوي و او ناراضو افسرانو خپل ناراضي توب لږ تر لږه په خبرو کې ښوده. د ملي دفاع وزارت د څانګو سروالانو، د هوايي قوتونو او د زغرورو قوتونو قومندانانو په هغه مجلس کې چې د ډګر جنرال غلام فاروق په ریاست د شوروي اتحاد له یوه لوړ پوړي نظامي هیئت سره د خبرو لپاره جوړ شوی و، خپل ناراضي توب هم په څرګند ډول ونښود. «مارشال شوروی ملتفت شد که اعضای افغاني بصورت عموم با چهره عبوس، لب و لنج کشال ... به مجلس حاضر شده اند... از جایش بلند شده چنین در افشاني کرد. ( آنکه رفته است بر نمیگردد، با دولت جمهوری تان همکاری کنید.)» (۷۵) له افغانانو نه یو هم حاضر نه شو، چې د هغه په خواب کې څه ووایي.

# له وطنپالو او ولسپالو سره ټکر

د محمد هاشم میوندوال پر ضد توطیه کې هم پوخ سخته صدمه ولیدله. په هغو ۴۲ کسانو کې چې د سپتمبر په ۲۳مه په دغې قضیې کې ونیول شول، شپږ تنه یې لوړ رتبه نظامي افسران، څلور ډګروالان، شپږ ډګرمنان، دوه کسه د پاچايي دورې د ولسي جرګې وکیلان او ۲۳ کسه یې سوداګر او ملي پانګه وال وو. (۷۲)

ددوی نومیالي کسان پخواني صدر اعظم محمد هاشم میوندوال، پخواني ډګر جنرال خان محمد مشهور په مرستیال، د پاچايي د وخت د هوايي ځواکونو ډګر جنرال عبدالرزاق میوند، د هوايي قوتونو قومندان سید امیر، ډګروال ماما زرغون شاه، ډګروال کوهاټ ډګرمن مهر علي، محمد عارف شینواري او فقیر محمد ننګرهاري وو. نور نظامي افسران زیاتره تورنان وو، دوی ټول وطنپال مسلمانان وو او په نوي نظام کې یې د چپیانو نفوذ چې کمونېستان یاده‌دل، د افغانستان لپاره خطر باله، چپیانو ته هم ددوی په تېره د میوندوال او خان محمد مرستیال کمونستي ضد مخینه او ملي اعتبار مالوم وو، حکومت دوی د کودتا کولو په تور ونیول. دغه تور یې هم پرې ولګوه چې دوی د یوه باندني حکومت [پاکستان] په لمسونې سره کودتا کوله. (۷۷)

دا چې دوی کودتا کوله ثابته شوې نه ده؛ ځکه چې په دې اړه هیڅ شواهد نه شته، خو په بندي خانه کې له دوی نه په کړولو سره اعتراف تر لاسه شوی چې دوی کودتا کوله، دا چې دوی یوازې ددغو اعترافونو له مخې محکوم شول او اعترافونه هم په جبر ترېنه ترلاسه شوي وو او په کودتایي لاس پورې کړې هم نه و، ښیي چې دغه تور حقیقت نه لاره او دوی په سیاسي لحاظ تورن او محکوم شوي وو. سره له دې هم شرق ادعا کوي، چې حکومت ددوی ځینې «بالفعل» یاني د کودتا کولو په جریان کې ونیول. (۷۸) خو دا یوه تشه ادعا وه چې حتی نبي عظیمي هم چې د هغه په خپل اقرار پرچمي دی ردوي او وایي چې میوندوال ده د حکومت په امر په دغه نامه چې «لاړښود» غواړي ورسره وویني له کور نه وایست او زندان ته وسپاره. (۷۹) داسې هم ډگرجنرال عبد الرزاق د جنرال رسولي له خوا په دغه پلمه له کور نه وایستل شو او زندان ته وسپارل شو چې «رهبر خواهشمند ملاقات با شما است، من آمده ام تا شما را با خود گرفته و خدمت شان برسیم.» (۸۰)

عجبه دا ده چې همدغه جنرال د همدغه «لاړښود» په دستور په خپل کور کې د هوایي خواکونو په جوړښت باندې کار کاوه. سره له دې، یا شاید له همدې امله دی د تحقیق په وخت کې ډېر وکړول شو. ده له خولې خبرې دي چې «در اثنای تحقیقات در وزارت داخله خودم را انقدر زجر و شکنجه داده و ضرب و تازیانه زدند که دو استخوان قبرغه ام شکست، دو و دشنام جزای بسیار عادي بود که همه روزه نثار من میشد.» دی دا هم وایي چې «در دوران تحقیقات اشخاص را حاضر ساخته و از من میپرسیدند که او را می شناسي، میگفتم نی، بعد از

شخص حاضر شده میپرسیدند، تو متهم را میشناسی، میگفت، بلی؛ این بلی گفتن مرد ناشناس بلای جانم میشد، تکرار با سزاهای غلیظ لت و کوبم میکردند... بالایم فریاد میزدند که پدرلعنت؛ هنوز هم اقرار نمیکنی، این طرز بازجویی روزها دوام کرد، در نتیجه تاب و توان دیگری در من باقی نماند، گفتم که من چیزی نکرده ام که اعتراف کنم، اگر شما میخواهید که چیزی بگویم تا ازین رنج و شکنجه خلاصی یابم پس شما بنویسید من حاضرم امضا کنم، در پایان کار همه گناهانم را یک بیک نوشتند و در ذیل ان ندامت و پشیمانی مرا تذکر دادند که امضا کنم، من مجبور باین کار گردانیده شدم و حاضر شدم، تا مرگ را استقبال کنم و ازین همه عذاب همه روزه رهایی یابم.» (۸۱) تر دغه وخته پورې د کورنیو چارو وزارت د سیاسي بندیانو د کړولو په غټ مرکز بدل شوی و، تحقیق هلته هسې په نامه و او له زیر خانو نه یې «په اصل کې د شکنجې، عذاب، بې خوبۍ، توهین او هر ډول بې عزتۍ نه پکې کار اخیستل کېده» په تېره په شپه کې چې د هارون په وینا «انسان مخې خناور به د بې دفاع انسانانو په ځان حواله شول.» (۸۱ الف)

دګر جنرال خان محمد چې په مرستیال یادېده، هم ډېر کړول شوی و، سره له دې چې هغه د محمد داود پخوانی ملګری و او په لوړو مقامونو کې یې وطن ته خدمتونه کړي و، د همدغو خدمتونو او له محمد داود سره د ملګرتوب په ډاډینې چې دی د کودتا په اوله ورځ هغه ته د مبارکۍ ویلو لپاره ورغی او محمد داود ورته هدایت ورکړ چې «بوزارت دفاع برو و ببین که کدام بی نظمی در آن جا رخ ندهد.» (۸۲) ده په هماغه ورځ هلته

کارونه ترسره کړل. ویل کېده چې دی به د ملي دفاع وزیر با لوی درستیز شي، خو محمد داود دی په هماغه ورځ بهرته وغوښت او ورته یې وویل چې «فعلاً شما بخانه خود بروید من شما را میخواهم.» (۸۳) محمد داود بیا ورسره ونه لیدل.
محمد داود هغه خکه له وزارت نه وغوښت چې د کودتا ملګري یې وارخطا شوي وو، چې دې خپل پخواني ملګري په لوړو وظیفو مقرروي. (۸۴) مرستیال په دې نظر و چې محمد داود «باکابینه مزخرف که تشکیل داده است، کشور را اداره کرده نمیتواند. داود خان با این اشخاص بد نام خواهد شد.» (۸۵)
ده په خپله هم محمد داود ته په دغه اړه یو یادښت استولی و.

د میوندوال موضوع تر ټولو مهمه وه، دی یو پوخ سیاس، د صدر اعظمي او ډېرو نورو مهمو دولتي وظیفو په کولو سره د ملي اعتبار خاوند، د مساوات د ګوند مشر، پیاوړی لیکوال او د سیاسي نظر یو خاوند افغان و، میوندوال په خپل شخصي لیاقت، تقوا او زیار سره خان رسولی او د کمونزم مخالف و، نو شوروي پال پرچمیان ورسره مخالف وو.

دوی لا د هغه په صدر اعظمۍ کې پرې تور لګاوه چې د امریکې (سي- آی- اې) سره لاړ لري؛ لکه چې وروسته په حفیظ الله امین پسې یې هم همدغسې پروپاګند کاوه او اوس کودتایي پرچمیانو میوندوال په دغه تور ونیوه چې د خپلو ملګرو په سروالي یې کودتا کوله. ایا ده په رښتیا کودتا کوله؟ لکه چې د مخه ویل شوي دا، چې میوندوال کودتا کوله په دې اړه هیڅ ډول شواهد نه شته. سره له دې هم صمد غوث د میوندوال د توطیې احتمال ویني او ادعا کوي چې «داسې ښکاري چې میوندوال چې د مخه په کودتا کې ښکېل شوی و، بله چاره نه

لرله، خو دا چې زړه نا زړه موافقه وکړي.» دی دا هم وايي چې پاکستان په دغې توطیې کې لاس درلود. (۸۵الف). په دې اړه شرق او فایق لږ و ډېر په یو نظر دي، خو دهغو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره چې هارون او مصطفی رسولي راوړي، ددغه «احتمال» امکان هم نه لیدل کېږي. هارون وايي چې د میوندوال کور تر څارنې لاندې نیول شوی و او میوندوال په دغه اړه محمد نعیم ته چې ورته منلی و، شکایت وکړ خو ګټه یې ونکړه. (۸۵ب)

رسولي لا وايي چې میوندوال همدا چې له کودتا نه وروسته له عراق نه وطن ته ستون شو، تر څارنې لاندې ونیول شو (۸۶) په دغه حال کې د میوندوال لپاره ګرانه څه چې حتی ناشونې ده، چې د څلوېښتو کسانو په ګډون د کودتا تجویز وکړي، دا خو لا په ځای پرېږده چې عملي کولی یې وشي. سره له دې هم د میوندوال له بندي کېدلو نه یوولس ورځې وروسته په حکومتي راډیو کې وویل شول چې میوندوال په خپلې نکټایي سره ځان ځړولی او وژلی دی. د هغو واقعیتونو په بنا چې زر به راوړل شي، دغه وینا هم حقیقت لرلی نه شي. غیر له هغه هم «ادعای دولت جمهوری در برابر انتحار میوندوال را در آن وقت هیچ فرد دارای عقل سلیم قبولدار نشد.» (۸۷) فایق د نکټایي قصه جوړه شوي ګڼي او وايي چې «یک روز قبل که من با هیئت تحقیق ازو [میوندوال] دیدن کردم، دریشی نداشت و پیراهن [و] تنبان به تنش بود، چطور با نکتایی خود را خفه کرده؟» (۸۸) فایق د میوندوال له مرګ نه یوه ورځ دمخه د محمد داود په امر د کورنیو چارو وزارت ته د هغه د لېدلو لپاره لاړ چې مالومه کړي له دغه بندي سره څنګه چلند کېږي.

دی وایي چې میوندوال د مستنطق عبدالصمد ازهر په مخ کې هغه ته ویل چې «تا حال از رویه شان [مستنطقین] خوشحال و ممنون هستم.» فایق ته لا د میوندوال د پوښتنې او ځواب پاڼه هم ورکړل شوه، چې په کې د میوندوال په قلم لیکل شوي و چې «که اگر من کدام نظر کودتا میداشتم چرا پاسپورت گرفته خارج میرفتم. باید در افغانستان میبودم حال آنکه سردار صاحب خودش مرا از رفتن منع کرد.» (۸۹) لکه چې د مخه ویل شول میوندوال له کودتا نه زر وروسته له عراق نه محمد داود ته د مبارکۍ ویلو لپاره خان رسولی او د همکارۍ وعده یې هم ورکړې وه. محمدداود هم «با جبین گشاده پذیرفته و وعده داده بود که بزودی بوظیفه گماشته خواهد شد.» (۸۹ الف). داسې ښکاري چې د امنیتي ځانګو پرچمي چارواکي وېرېدل چې میوندوال به په کوم لوړ دولتي مقام کې ددوی لپاره غټ خنډ وي. د هارون له لیکنې نه هم همدغسې مالومېږي. « ربښتیا خبره خو دا ده چې میوندوال تر وژنې یوه شپه رومبی د کوما په حال کې د زنبیل په واسطه د څارندویانو له خوا د کورنیو چارو د وزارت د زیرخانو کلا جدید (بریکوټ) ته راشکول کېده.» (۹۰) له همدې امله به و چې د هغه مړی د هغه خپلوانو ته ور نکړل شو او د کابل د عدلي طب متخصص بالمکنداس ته یې د کوټې له وره نه د لیدلو اجازه ورکړه او هغه هم د ځان له وېرې نه هغسې تصدیق ولیکه چې تر هغه غوښتل شوي و، تر ډېره وخته پورې حتی د میوندوال قبر هم ځارل کېده. (۹۱)

نږدې تولو لیکوالو د فایق او هارون په ګډون د میوندوال وژونکی عبدالصمد ازهر ښودلی، چې په دغې قضیې کې د

هیات د تحقیق مشر و، میوندوال په قوي احتمال د ک ج ب په دستور د هغه په لاس وژل شوی دی. ک ج ب به څکه ازهر ته دغه دستور ورکړی وي چې میوندوال، لکه چې د مخه ویل شوي په افغانستان کې د کمونزم د خپرېدلو مخالف و او ازهر د «فتح» په مستعار نامه د ک ج ب ایجنټ و او له فیض محمد سره په ګډه، چې هغه هم د «اکبر» په مستعار نامه د ک ج ب ایجنټ و، د کمونزم او شوروی اتحاد په ګټه اود امریکې په مخالفت کار کاوه.

ازهر د ورانګې (Ray) ولې غړی و چې ک ج ب د پرچم تر چتر لاندې جوړه کړې وه. ازهر په پولیسي ښانګه کې لوړه زده کړه په مصر کې کړې وه. په کابل کې یې د پولیسي افسر په توګه «له فعالو کارونو او فعالو عملونو سره سروکار لاره» (۹۲)
د تحقیق د هیئت نور غړي غلام فاروق یعقوبي، نصر الله عمر خېل [امرخېل؟]، غلام رسول عمر خېل، سید کاظم پرواني باقي او قطره وو. دوی ټول پولیسي افسران او د قایق په وینا د شوروي «مزدوران» او د مسلمانو افغانانو بې رحمه دښمنان وو. (۹۲ الف)

د بندیانو تائیدي راپورونه د ملي مصونیت د سروال جنرال اسماعیل له خوا وړاندې کېدل، خو چا چې د بندیانو په اړه هغو ته هدایت ورکاوه د کورنیو چارو وزیر فیض محمد او د ژندارم لوی قومندان عبدالقدیر نورستاني وو. خو په دغې موضوع کې چې د ۴۲ کسانو د ژوند او مرګ سوال مطرح لومړۍ درجه مسئولیت ددوی د آمرانو او په سر کې د دولت سروال محمد داود په غاړه وو. دا څرګنده نه ده چې دغه توطیه په اصل کې دچا وه او محمد داود ولې هغه ومنله او بیا یې د بندیانو په

برابر کې د قانون او انسانیت پر خلاف چلند مخه ونه نیوله.

د ډګر جنرال غلام فاروق په وینا له تورنانو څخه اول اتلس کسه د اعدام لپاره په نښه شوي وو. ((رفقای انقلابی داود خان که در دیوان حزب عضو بودند، اصرار داشتند که همه اینها اعدام شوند، اما رهبر چندین بار امر غور و تجدید نظر داده و هدایت میداد که تا حد ممکن جزای اعدام تخفیف شود.

در نتیجه برای بار دوم دوازده نفر و با تصمیم اخری شش نفر باعدام محکوم شدند و رهبر حکم اعدام را امضاء کرد.)) (۹۳)

څنګه چې حکومت نظامي و، د بندیانو موضوع هم نظامي محکمې (د حرب دیوان) ته وسپارله شوه، چې سروال یې ډګر جنرال غلام فاروق او غړي یې محمد سرور نورستاني، نبي عظیمي، محمد اصف الم، عبدالستار سید خیلي (پرواني)، محمد یوسف او مولاداد وو. د فایق په وینا واقعي صلاحیت د لومړنیو دریو غړو او د هارون په وینا د نورستاني په لاس و، هارون هم د فایق په شان وایي چې ((څرنګه چې په هغه وخت کې روسي مزدوران په امنیتي څانګو کې ځای پر ځای شوي وو... په نظامي محکمه کې هم همدا وحشیان ناست وو.)) (۹۳ الف)

هارون به دوی ځکه ((وحشیان)) بللي وي چې د وی یوه ډله په مرګ، بله په عمري بند او بله د بند په بېلو بېلو مودو محکومه کړه، بې له دې چې تورنانو ته یې موقع ورکړې وي، چې په محکمه کې د تورونو په برابر کې په خپله یا د قانوني وکیلانو له لارې دفاع وکړي. نو دغې تش په نامه نظامي محکمې بې له قانوني عمل طرز نه شېږ تنه په اعدام محکوم کړل، چې د محمد هاشم میوندوال په ګډون ډګرجنرال خان محمد مرستیال، وکیل سیف الرحمن، ډګروال ماما زرغون شاه،

ډګـروال سـید امیـر او محمـد عـارف (تـاجر) وو، اوه کـسان یـې د تـول عمـر لپـاره پـه بنـد محکـوم کـړل، جنـرال عبـدالرازق، ډګـروال کوهـاټ، ډګـروال امـین الله، ډګـروال ممتـاز، تـورن سـید هاشـم، جګـړن محمـد اکـرم او حـاجي فقیـر. هغـوی چـې یـې د بنـد پـه اوږدو مـودو محکـوم کـړل، غـلام حیـدر، ډګـر جنـرال نیـک محمـد سهاک، ډګـر جنـرال محمـد رحیم ناصـر، ډګـروال ګـل شـاه علـي، جګـړن نقیـب الله، ډګـروال نـور احمـد او تـورن محمـد اکـرم وو. (۹۴) د جنـت خـان غـروال، حنـان خـاخی، حـاجي الله نظـر، هـزار میـر کـوچی، الله ګـل او حـاجي مـولا ګـل پـر بنـدي کیـدلو سـربیره د هغـو شـتمني او سـرایونه هـم ضـبط شـول او نـورو وکـولی شـول « د بـدو پـه شـندلو سـره برائـت واخلـي.» خینـو لا ددوی د کورونـو پـه لټـون کـې درانـده تاوانونـه وګالـل او سـعدالله کمـالي د خپـل خلاصـون لپاره خپل د باختر سینما خرڅه کړه (۹۵).

فـایق د اعـدام ډګـر څرخـې پلـه تـه ورڅېرمـه پولیګـون او هـارون د څلـورمې زغـروري قـوې د تعلـیم ډګـر بنـیې، چـې دواړه لکـه چـې یـو خـای وي. لـومړنی د اعـدام د صحنې د یـوه عـسکر لـه خولې نـه وایـي چـې پـه اعـدام دغـه محکومـان د سـهار پـه دوو بجـو د انـضباط د تـولي لـه خـوا هلتـه ورسـول شـول. « در حالیکـه چـشم هـای اعـدام شـوندګان پـت و خریطـه هـای سـیاه بـسر و ګلوهـای شـان اویختـه، دسـت هـای شـان پـشت سـر ولچـک... شـده بـود نبـي عظیمـي اعـدام شـونده ګـان را از مـسافه ۲۰ متـر عقـب شـان سـه نفـر عـسکر کلاشـینکوفدار بانتظـار قومنـده بـه حـال امـاده بـاش در اورده بـود، سـپس در حالیکـه همـه اعـضاي هیـات تحقیـق پـولیس و محکمـه نظـامی حاضـر بودنـد، حکـم اعـدام از طـرف محمـد آصـف الـم خوانـده شـد.» د اعـدام د حکـم پـه اوریـدلو سـره

محکومانو ناري سورې او د الله اکبر اوازونه پورته کړل، دوی تر دغه وخته پورې د اعدام په حکم خبر کړل شوي نه وو، بیا تورن عظیمي چې د انضباط د تولي قومندان و په دې ډول بولی ورکړه:« د انضباط تولي خوانانو! د خاینینو په وژلو نخه ونیسئ.» (۹۲) فایق د عسکر له خولې نه دا هم وايي چې « چیزیکه درین صحنه دلخراش به نظر رسید، این بود که نبی عظیمی بالای سر هر معدوم که در حال جان کندن بود رفته با فیر تفنگچه ... بزندگي متهمین خاتمه میداد.» (۹۷)

دغه توطیه د څه لپاره وه او د چا په گټه تمامه شوه؟ د هارون په نظر چې دا یې مستعار نوم دی او له کتابگوټي نه یې ښکاري چې د پولیسي چارو متخصص او د دقیقو مالوماتو خاوند وي، د هغو له وژلو نه مطلب دا و چې « دیوې خوا کمونست مخالفین او ملي کسان وټکوي او بل پلو د حکومت زور او وحشت ښکاره کړي.» (۹۸)

امین الله دریخ د افغانستان در قرن بیستم کتاب لیکونکی بیا په دې فکر دی چې « محمد داود از وجود این اشخاص بشمول میوندوال احساس ترس میکرد و از روی قراین تصور مینمود که روزی حاکمیت وی را به مخاطره روبرو خواهد ساخت.» (۹۹)

محمد نذیر سراج چې په پوځ کې یې ۴۳ کاله خدمت کړی او په پای کې یې د خپلو تجربو پر بنسټ د اعتبار وړ کتاب میراث پرې ایښی ددغې توطیې په اړه د هغه وخت د افغانانو ذهنیت په دغه ډول ثبت کړی: « حبس و اعدام اشخاص بیگناه یک مقدمه چینی از جانب همکاران پرچمی محمد داود خان بوده است، تا اشخاصی را که در برابر مرام های خود مانع و

خطرنـاک میدیدنـد از بـین ببرنـد.»(۱۰۰) د سـردار محمـد داود پـه نامـه کتـاب لیکـونکي عاصـم اکـرم د غـومره وايـي چـې« دسیـسه از میونـدوال نبـود، بلکـې دسیـسه علیـه او بـود، مبتکرین آن کمونست ها بودند.»(۱۰۱)

دغـه تـولې وینـاوې او حکمونـه د قـدرت پـر محـور څرخـي، جمهوري پـالو حکومـت پـه وچ نظـامي زور سره ونیـوه، پـه دې نامـه چې جمهـوري يـانې د خلکـو یـا د هغـو استازي يې کړي، خـو دوی هغـه پـه واقـع کـې خپـل استازي وګرځـوه. ددې لپـاره چـې جمهوري حکومـت ددوی پـه فکـر وڅرخي، هغـه یې نظـامي کـړ چـې هغـه پـه امنيتـي چـارو کـې ددوی حکومـت کېـده، خـو لـه محمـد داود نـه پرتـه چـې پـه تـول ملـک کـې یـو پېژنـدل شـوی شـخص و، دوی افغانـانو تـه ناپېژنـدلي بې تجربـې کـسان وو، چـې تینـګ مخالفـان يې هغـه هم پـه پوخ کـې لـرل. دوی چـې قـدرت پـه کودتـا سره نیـولی وو، وېرېـدل چـې مخالفـان بـه پـه کودتـا سره لـه دوی نـه قـدرت واخلـي، نـو دوی پـه خپلـو مقـامونو بانـدې داډه نـه وو. لـه دې املـه لکـه چـې د مرکـزي کمیتـې د تحقیـق هیئـات او د نظـامي محکمـې جوړښـتونونه ښـکاري، چېیـان د کلیـدي نظـامي او ملکـي ځـانګو سـروالان او پـوره فعـال وو. چپیـان د تعریـف لـه مخـې هغـه کـسان وي چې لـه دولتـي قـدرت نـه پـه استفـادې سره خپـل ایـډیالوجیکي مخالفـان خپـې او ورسـره ائـتلاف نـه کـوي، یـا پـه ډېـرو نـادرو حالاتو کـې ورسـره ائـتلاف کـوي. دوی هـم نـه زغـم منـونکي او تنـګ نظـره کـسان شـول، خـو دوی خپـل مخالفـان همدغـسې ګڼـل. فـایق ددغـه واقعیـت پـه نظـر کـې نیولـو سره وايـي چې دغـو چپیـانو «همینکـه شخـصیت هـای ملـی و اجتمـاعی ضـد مفکـوره الحـادی خـود را مـی یافتنـد و یـا سـرمایه داری را سـراغ میدیدنـد بـه مقـصد از بـین

بردن [او] و یا به [غرض] استفاده شخصی او را به تشبثات ضد دولت متهم کرده، با نواع آزار و شکنجه او را باعتراف جبری وادار کرده، مرام خویش را بدست می اوردند.» (۱۰۲)

چې په اصل کې د دموکراسي، سوشلزم او فاشزم د کلمو په شان یوه ناڅرګنده کلمه ده، خو دلته له هغې نه مراد پرچمیان دي، خو دا چې دغه چپیان ټول د پرچم د ګوند یا ګوندګي غړي وو، مالومه نه ده. په اصل کې د ګوندي پرچمیانو پېژندنه ګرانه وه، د پرچم یو ډول غړي هغه کسان وو چې په ګوندي غونډو کې له ګډون کولو نه معاف وو، دوی د ګوند پټ غړي وو. دغومره څرګنده وه چې په پولیسي قوتونو کې پرچم تنوتلی و او دغه نفوذ په اصل کې د پرچم د ګوند د تیوري پوه میر اکبر خیبر له امله و چې د پولیسو په اکادمي کې یې د څه وخت لپاره ښوونه کړې وه. دغو پرچمیانو اول په هغو وطنپالو برید وکړ چې په پوخ کې یې نوم او اعتبار او پلویان لرل او دوی د هغو په شته والي کې خپل مقامونه په خطر کې لیدل. وطنپالان او ولسپالان د تعریف له مخې هغه کسان وي چې له خپل پلازني هېواد سره مینه لري، خپلواک یې غواړي او پر هغه باندې واکمني یوازې د خپلو وطنوالو امتیاز او حق بولي، نو دوی له چپیانو او ټولو هغو سره وران وي چې وطن ورته دغومره بې اهمیته وي چې په هغه کې د وطني حاکمیت پر ځای د هغو باندنیو حاکمیت غوره بولي چې په فکر او نظر کې ورسره شریک وي. په دې ډول دغه پرچمیان د میوندوال او مرستیال او د هغو له ملګرو سره نه جوړېدل، چې «بنا بر شهادت افسران بیطرف و روشن بین اردوی وقت از فراست و لیاقت عالی در دانش مسلکی و روحیه قابل ارج ملی برخوردار بودند.»

(۱۰۳) له دوی سره یې د هوایي قوتونو پخواني قومندان جنرال عبدالرزاق هم ونیوه چې هغه هم یو ملي افغان او د چپیانو مخالف و. په دغه لړ کې جنرال عبدالکریم مستغني هم راځي چې محمد داود ته د خپل منلي توب له امله اول په پوځ کې د لوی درستیز په مقام وګمارل شو او له څه مودې وروسته ګوښه کېدلو ته اړ او بیا په پولیند کې د سفیر په توګه واستول شو او د هغه پر ځای جنرال غلام حیدر رسولي وټاکل شو. دغو پرچمیانو د عمل دغسې کسان وخپل چې د ملي فکر خاوندان وو، په پوځ کې یې نفوذ لاره او په شوروي اتحاد باندې د حکومت اتکا یې د افغانستان لپاره خطرناکه باله. مولف صدیق فرهنګ په دې اړه وایي چې «اقدام میوندوال برای نزدیکی به رئیس دولت و امکان مداخله او بامور مربوط به سیاست خارجی این تشویش را در ذهن پرچمیان و کارفرمایان شان در مسکو ایجاد کرد که شاید او سیاست خارجی را از خط شوروی بسوی غرب میلان دهد و در هر حال از نفوذ پرچم در دستگاه دولت بکاهد، بنا بر این کوشیدند تا هر چه زود تر اورا از میان بردارند.»(۱۰۴)

د خان محمد مرستیال په اړه دغه چلند لا ډېر صدق کوي. مرستیال که څه هم متقاعد جنرال و بیا هم په پوځ کې د نفوذ او اعتبار خاوند و. فرهنګ د هغه په اړه د هغه خبرې په دې ډول نقلوي چې مرستیال «هنگام تصدی وظیفه نایب الحکومه وقرمندان عسکری ولایت مشرقی در دوره صدارت محمد داود خان در مجلسی اشتراک داشت که در حضور شاه تشکیل شده و پیشنهاد وزیر خارجه (سردار محمد نعیم) را در مورد کمک از اتحاد شوروی جهت مقابله با پاکستان در مسئله پشتونستان مطالعه کرد. در مجلس مذکور خان محمد خان

این سوال را مطرح ساخت که اگر نیروی شوروی باین عنوان بافغانستان وارد شود ، کدام قوت خواهد توانست آن را به خارج شدن مجبور سازد.»

فرهنګ زیاتوي چې «چون این سوال بیجواب ماند پیشنهاد مذکور از بین رفت.» (۱۰۵) خو مرستیال وروسته اول له نظامي ځانګې نه وایستل شو او بیا له وخت نه پخوا په کور کې کېنېنول شو او په جمهوري نظام کې اعدام شو.

اوس پوښتنه دا ده چې محمد داود ولې د خپلو طبیعي ملګرو د اعدام او خپل کېدلو لامل شو او په دغه کار سره یې په واقع کې خپل ځان ضعیف کړ؟ مولف سراج په دې نظر دی چې «محمد داود خان انقدر مسحور رفقای انقلابی شده بود که متاسفانه ابتکار شخصی را از دست داده بود.» (۱۰۵الف) دغه نظر سم دی، خو باید پرې زیاته شي، چې محمد داود د کودتا په اولو وختو کې له «انقلابي ملګرو» نه پرته بله اجرائیوي وسیله نه لرله، که څه هم ده هغوی «بچه ها» یادول خو دغو « هلکانو » «ده خولې ته نه کتل، هر یوه ځان کودتاچي باله او ده ته یې هم یوازې د کودتا د یوه ملګري په سترګه کتل.» (۱۰۲) او محمد داود ددې لپاره چې د افغانستان د جمهوري نظام د مؤسس افتخار ولري پر دغو «هلکانو» ډډه وکړه او پخوانیو فکري ملګرو ته شا کړه. ده هم د نورو دکتاتورانو په شان د قدرت په لومړیو کې د «انقلابي ملګرو» د شدت لار ونیوله، خو ده دغومره وکړل شول چې له اتلسو محکومانو نه چې «انقلابي ملګرو» یې ورته اعدام غوښتنه په پای کې شپږ تنه په اعدام محکوم کړي دغه کمښت هم ښیي چې دغه ټوله قضیه یوه جوړه شوې توطیه وه. دغه

کسان چې نږدې تول یې د ننګرهار وو، د سرطان د کودتا لومړني نیغ قربانیان شول. محمد داود هغسې چې په کال ۱۹۴۵ کې د مشرقي د تنظیمیې رئیس په توګه د کونړ یو شمېر ساپي مشران، د میر زمان خان کورنۍ او داسې هم د ملک قیس خوګیاني کورنۍ، ځپلې او پرارې کړې وې، اوس یې د دولت د سروال په توګه د ننګرهار نظامي لویان او نور وځپل او د دغه ډېر غټ ظلم د پایلو پروا ونکړه، چې زر به پرې وغږېږم.

د محمد داود د «انقلابي ملګرو» کوښښ داو چې د جمهوري حکومت آمران دوی یا نور هغه جمهوري پالان وي چې ددوی په لار روان وي. د پاچایي دورې د ورتیا پرنسیپ چې د ښې او فني اداري لپاره حتمي وي، تر پښو لاندې شو، نو والیان او ولسوالان هم دغسې ګوندیان او نور شول. د نویو والیانو په مقرري کې د محمد داود یا د کابینې تصویب حتمي نه و، د هغه په ګمارلو او ګوښه کولو کې د کورنیو چارو پرچمي وزیر فیض محمد چې څه غوښتل هغه کولی شول. د نعمت الله پژواک په مشرۍ د پوهنې له وزارت نه دهارون په وینا اتیا کسه پرچمي ښوونکي، د فرهنګ په وینا ۱۲۰ تنه او د عظیمي په وینا تر پنځوسو پورې پرچمي ښوونکي د کورنیو چارو وزارت ته معرفي شول او د ذبیح الله زیارمل په وړاندیز سم له لاسه ولسوالان وټاکل شول (۱۰۷). داسې هم د کرنې په وزارت کې د پرچمي وزیر غلام جیلاني باختري په امر تر هغو ډېر پرچمیان د ځمکو د اصلاحاتو ماموران مقرر شول. څنګه چې دوی تول بې تجربې احساساتي او ګوندي خوانان وو، د نبي عظیمي په قول هم «مایل بودند تا افکار انقلابي خود ها را در بین مردم پخش نمایند.» (۱۰۸). هارون لاوایي چې دغو «ولسوالانو په هره

کسان چې نږدې تول یې د ننگرهار وو، د سرطان د کودتا لومړني نیغ قربانیان شول. محمد داود هغسې چې په کال ۱۹۴۵ کې د مشرقي د تنظیمیې رئیس په توگه د کونړ یو شمېر ساپي مشران، د میر زمان خان کورنۍ او داسې هم د ملک قیس خوگیاني کورنۍ خپلې او پراړې کړې وې، اوس یې د دولت د سروال په توگه د ننگرهار نظامي لویان او نور وخپل او ددغه ډېر غټ ظلم د پایلو پروا ونکړه، چې زر به پرې وغوپېږم.

د محمد داود د «انقلابي ملگرو» کوښښ داو چې د جمهوري حکومت آمران دوی یا نور هغه جمهوري پالان وي چې ددوی په لار روان وي. دپاچاهي دورې د وړتیا پرنسیپ چې د ښې او فني اداري لپاره حتمي وي، تر پښو لاندې شو، نو والیان او ولسوالان هم دغسې گوندیان او نور شول. د نویو والیانو په مقررۍ کې د محمد داود یا د کابینې تصویب حتمي نه و، د هغه په گمارلو او گوښه کولو کې د کورنیو چارو پرچمي وزیر فیض محمد چې څه غوښتل هغه کولی شول. د نعمت الله پژواک په مشرۍ د پوهنې له وزارت نه دهارون په وینا اتیا کسه پرچمي ښوونکي، د فرهنگ په وینا ۱۲۰ تنه او د عظیمي په وینا تر پنځوسو پورې پرچمي ښوونکي د کورنیو چارو وزارت ته معرفي شول او د ذبیح الله زیارمل په وړاندیز سم له لاسه ولسوالان وټاکل شول. (۱۰۷) داسې هم د کرنې په وزارت کې د پرچمي وزیر غلام جیلاني باختري په امر تر هغو ډېر پرچمیان د ځمکو د اصلاحاتو ماموران مقرر شول. څنگه چې دوی تول بې تجربې احساساتي او گوندي خوانان وو، د نبي عظیمي په قول هم «مایل بودند تا افکار انقلابي خود ها را در بین مردم پخش نمایند.» (۱۰۸) هارون لاوایي چې دغو «ولسوالانو په هره

سویه او هره بڼه د ولس په تکولو پیل وکړ چې د هغې ولې نه د هلمند د نوزاد ولسوالۍ د ولسوال ظلم او بې ناموسي له لاسه یوه تن په رڼا ورځ د دار الامان په ماڼۍ کې دعدلیې وزیر د دفتر مخ ته انتحار وکړ او خان ته یې اور واچاوه» (۱۰۹) حتی عظیمي هم د هغو له زور زیاتي نه سترګې نه پټوي، خو دی دغه پړه د خپلې ایډیالوجي پر بنسټ پر «فیوډالانو» اچوي او ادعا کوي چې «انها سعی نمودند تا این جوانان پاک وبی تجربه را باانواع دسایس و حیل از خود بسازند و یا موجبات بدنامی آنها را فراهم سازند.» (۱۱۰) یوازې دا هم نه و. «ولسوالیو ته د کورنیو چارو وزیر فیض محمد متحد المال لیکونه ولېږل شول چې د جمهوریت مخالفین په ګوته کړي او والیانو ته به یې دا په ډاګه ویل چې (کوتک پسې را واخلئ!)» (۱۱۱) دوی هر هغه څوک چې نه خوښېده د جمهوریت مخالف یا امریکایي پال باله او چارواکي به یې پرې خبرول. راپور ورکول هم د پرچمیانو کار شو، د پاچایي دورې د کابل والي په همدغسې یوه راپور سره له کار نه ګوښه کړل شو. په خلکو کې ویره تر دې حده خپره شوه چې د ننګرهار د حصارک پخواني وکیل څرګند کړه چې غواړي خان په کوم نامه بندي کړي ددې لپاره چې له جمهوریت سره د مخالفت له تور نه په امان وي. (۱۱۲)

افغانان چې په قانوني پاچایي کې د ازادي څکه کړې وه، په دغو زور زیاتیو ناراضه شول. حتی په خپله د محمدداود په اره هم پوښتنې پیدا شوې، په تېره وروسته له هغه چې پرچمي لویانو پروپاګند کاوه چې کودتا، چې دوی د انقلاب په نامه یادوله، ددوی د پلویانو کار و. د خلکو په ناراضي کېدو کې اسلام پالو غښتلو ونډه واخیستله او ویل یې چې حکومت د

«کاپرانو» په لاس کې لوبېدلې دی. اسلامي جمعيت او د خوانو مسلمانو غورځنګ چې لس کاله دمخه هسک شوي وو، د دولت پرضد حرکت مخکښان شول او د جمهوريت پر ضد يې په عمل لاس پورې کړ، چې زر به په هغه وغږېږم. دلته د فايق وينا که څه هم مبالغه ييزه ده راوړم چې «مسلمانان و ناسيونالستان و مسلمانان غربګرا در صدد قلع و قمع دولت جمهوري جوان شدند.» (۱۱۳) شرق هم د جمهوريت پر ضد د ښې او کيڼ له يو موټي والي نه سرټکوي. (۱۱۴) غټ واقعيت دا دی چې چپي چاروا کو په خپلو زورزياتيو سره د خلکو د لومړيو ورځو اعتماد له لاسه ورکړ، تولنيز او سياسي کړکيچونه يې شديد کړل او ملي پيوستون ته يې سخته صدمه ورسوله. چا چې له دغو کړکيچونو نه ډېره ګټه تر لاسه کړه هغه د خلقي ګوند د پوځي چارو مسئول حفيظ الله امين و چې «با تجربه از کودتای ۲۲ سرطان کار خود را در قوای ۴ و ۱۵ زرهدار و قوای هوايی اغاز کرد.» (۱۱۵) مولف جارج ارني هم وايي چې «پيروزی کودتای ۱۹۷۳ چشم های خلقی «و تندروان اسلامي» را باين حقيقت باز کرد که دستيابی بقدرت تنها از راه استفاده از ارتش ممکن ميباشد.» (۱۱۶) د سرطان له کودتانه وروسته و چې د خلق ګوند په پوځي افسرانو کې د جلب او جذب کار پيل کړ. لويان يې په تېره نور محمد تره کي او حفيظ الله امين نور نو د کارل مارکس په دغه فکر مقيد نه وو، چې سوشلزم يوازې د صنعتي پرولتاريا او د بزګرو د شعور په ويښېدلو او پياوړي کېدلو سره ممکن کېدلی شي. په پرمختيايي هېوادونو کې ددوی په فکر سوشلزم د پوځ له لارې هم عملي کېدلی شي. په قانوني پاچايي کې هم سياسي اختلافونه په ټينګه موجود وو،

خو هغه د ازادۍ او دیموکراسۍ له برکته لفظي وو. په جمهوري نظام کې چې نظامي افسران هغه هم واړه افسران سیاسي شول د سیاسي اختلافونو ځای کودتاګانو ونیو او ټولنه نوره هم کړکیچنه او قطبي شوه.

# له اسلامي بنسټ پالو سره تکر

د پورته کړکیچ یو اړخ د جمهوري پالو او اسلامي بنسټ پالو یا اسلامستانو یا اخوانیانو ترمنځ اړیکې وو، چې له هماغه اول سر نه ترخه وو. وروستي په پاچايي دوره کې د نورو ګوندونو په شان په یوه تنظیم کې راغونډ شوي وو، چې د افغانستان اسلامي جمعیت نومیده او مشر یې غلام محمد نیازي د شرعیاتو د پوهنځي سروال و. د خوانانو تولنه یې د خوانو مسلمانو غورځنګ په نامه یادېده. دوی چې زیاتره د پوهنتون او نورو تعلیمي موسسو منسوبان وو، د سرطان تر کودتا پورې ښه پرمختګ کړی وو، خو څنګه چې دوی تر نورو ګوندونو نه وروسته سیاسي ډګر ته په منظم ډول وتلي وو، د هغو په اندازه قوي نه وو، خو په خپلې لارې باندې ټینګ ولاړ وو، چې هغه د مولانا ابوالعلی مودودي، حسن البنا او سید قطب د فکرونو له مخې ددغسې اسلامي دولت په ښو درول و چې تولنه اسلامي کړي، یانې هغه اړخونه یې پاک کړي چې ددوی په فکر غیر اسلامي شوي وو. نو ددوی غټه خانګړتیا د چپي ګوندونو په شان د ثابتو اصلونو یا ایډیالوجي له مخې حکومت کول و، بې له دې چې له نورو سره جوړه وکړي او نوي واقعیتونه په نظر کې ونیسي. دوی هم د چپیانو په شان د تولنې د ملي ارزښتونو او فکرونو مخالف وو.

(۱۱۷) په دې ډول تر زیاتې اندازې د عنعنوي سیاست پر خلاف د سیاست مخکښان د بېلو او حتی متضادو فکرونو په بنا منظم شویو ګوندونو ته منسوب وو او تنګ لازې یې هم سره بېلې او په تضاد کې وې، خو په داسې حال کې چې وطنپالان په افغان ولس متکي وو، نورو ګوندونو د خپلو ایډیالوجي ګانو له مخې باندنیو ته هم مرستې تر لاسه کولې، افغان سیاست نور نو د پخوا په شان پوره ملي نه و او دا د تولنې د کړکیچ اساسي لامل و، چې تراوسه پورې یې هم افغان سیاست په ژور ډول اغیزمن کړی دی.

ویل شوي چې اسلام پالو مشرانو د سرطان تر کودتا نه وروسته محمد داود ته څرګنده کړې وه چې غواړي د حکومت په چلولو کې ورسره مرسته وکړي، خو ده د هغو بلنه نه وه منلې. دوی محمد داود ته ځکه دغه وراندیز کړی و، چې هغه ددوی په فکر مسلمان افغان و، خو چپیانو چاپېر کړی و. محمد داود چې د پاچا امان الله په شان په عصري لارو اصلاحات غوښتل حاضر نه و له دغو اسلامستانو سره ملګرتوب وکړي، چې له دغسې اصلاحاتو سره وران وو. په هغه سربېره هغه اوس له دغسې چپیانو سره ملګری شوی و، چې له دوی سره له بیخه مخالف وو.

اسلامستانو د جمهوریت پر ضد په عمل لاس پورې کړ، د دریغ په وینا دوی د «نظامي پاڅون» طرح جوړه کړې وه چې دهغې له مخې به نظامي افسران د انجینر حبیب الرحمن په سروالي کودتا کوي، خو حکومت هغه کشف کړه او مسئولان یې ونیول. دریغ ددغې پېښې نېټه نه ورکوي، خو وایي چې د سرطان له کودتا نه زر وروسته حکومت د اسلامي جمیعت

سروال غلام محمد نیازي، د شرعیاتو پوهنځي رئیس ونیوه او د جمیعت نور مخکښان؛ لکه برهان الدین رباني، ګلبدین حکمتیار او احمدشاه مسعود پاکستان ته وتښتېدل. رباني د شرعیاتو په پوهنځي کې د پوهندوی په رتبه استاد او حکمتیار د انجینري پوهنځي او مسعود د پولیتخنیک زده کوونکی و. د همدغه کال (۱۹۷۳) په پای کې د بدخشان ولایت په درواز کې اسلام پالان جګ شول، خو حکومت هغوی زر غلي کړل. داوړو پېښبود کورنیو چارو وزارت پرچمي چارواکو ته پلمه په لاس ورکړه چې اسلام پالان وځپي. د بل کال تر نیمايي پورې حتی د عظیمي په وینا «دوه سوه» اخوانیان ونیول شول او نور د هریې پاکستان ته وتښتېدل. (۱۱۸). سره له دې هم د بل کال (۱۹۷۵)، د جولای په ۲۲مه (اسد ۱۳۴۵) او دا ځل په لویه اندازه او د پاکستان په لمسون او مرسته دوی په نظامي عمل لاس پورې کړ او د بدخشان، لغمان د ولایتونو او د پنجشیر د ولسوالۍ په مرکزونو باندې یې ودانګل. د پنجشیر د ولسوالۍ مرکز یې د یوځو ګړیو لپاره ونیوه، خو په نورو ځایونو کې پوره پاتې راغلل. پلان دا و چې ددوی پوځي پلویان به په کابل کې کودتا کوي او واک به تر لاسه کوي، خو هغوی په دغه ورځ چې د ملي جشن ورځ وه د لږ وخت لپاره د برېښنا له پارچاو کولو نه پرته نور څه کولی ونه شول او دغه پاڅون هم وځپل شو. په هیڅ ځای کې خلکو د اله ګوله کوونکو ملاتړ ونه کړ. د هغه پر خلاف خلکو او امنیتي قوتونو د جمهوریت تنګه وکړه. له یو شمېر کسانو پرته چې ونیول شول او محاکمه شول، نور اله ګوله کوونکي بېرته پاکستان ته په شا شول. دوه کاله وروسته ۲۱ تنه یې په عمري بند او څلور تنه یې په اعدام محکوم شول.(۱۱۹)

مولانا عطاء الله فیضاني چې یو متصوف روحاني او د سیاسي فکر او پیروانو خاوند و، هم ونیول شو. دریخ د هغه دنیولو دلیل کودتا بولي چې پخوا له عملي کېدلو نه کشف شوه او له هغه سره انجینر حبیب الرحمن او یو شمېر نظامي افسران هم ونیول شول. کودتا د فیضاني په لارښود د «اسلامي توحید مدرسې» په نامه د دریو مذهبي جریانونو د ائتلاف نتیجه وه. (۱۱۹ ب)، خو د فایق په وینا وروسته له هغه چې محمد داود ورته هدایت ورکړی و، چې «علمای جید و روشنفکر مترقی را... یگان یگان نزدم بیاورید.» ده مولانا فیضاني، مولوي بسم الله «دلغمان» او مولوي مسکین «د کوهدامن د فرزې» د هغه لیدلو ته بوتلل او محمد داود چې فیضاني یو متبحر شخص وموند ورته وعده ورکړه چې په مناسب وخت کې به یې د کابینې وزیر کړي، خو پرچمي چارواکو ورته دسیسه جوړه کړه او بندي کړ. (۱۲۰)

دغو تولو پېښو په اسلامي حرکت د جمهوریت په باندني او کورني سیاست کې انعکاس وکړ. لکه چې وویل شول د افغان اسلام پالو وروستي پاڅون د پاکستان د حکومت په لمسون او مرسته شوی و. ددوی مخکښان او نور چې پاکستان ته وتښتېدل، په ډېر بد حال کې وو. اول یوازې د پاکستان د اسلامي جماعت مشر او مؤسس مولانا ابوالعلی مودودي له هغوی سره مرسته کوله چې ډېره نه وه. وروسته د ذوالفقار علي بهوټو په صدر اعظمۍ د پاکستان حکومت له افغان اسلام پالونه دسیاسي ګټې اخیستلو په فکر شو او ددغه مقصد لپاره یې د افغانستان د جمهوري نظام پر ضد د هغو په روزلو او وسله وال کولو پیل وکړ. (۱۲۱) بهوټو دغه کار ددې لپاره کاوه

چې په دغه ډول د افغانستان په حکومت باندې فشار راوړي چې د پښتونستان له داعیې نه لاس واخلي. دا هغه وخت و چې بلوچانو (۱۹۷۰) انتخاباتو پر اساس د داخلي واکمنۍ او د خپلو بندي مشرانو ازادېدل او په خپله سیمه کې د پاکستاني پوځ د زور زیاتي پای ته رسول غوښتل، خو مرکزي حکومت د هغو منلو ته غاړه نه ایښووله. بلوچستان د جنګ په حال کې و او ډېر بلوچان کابل ته وتښتېدل. (۱۲۲)، د په اصطلاح صوبه سرحد پښتنو په هکله د پاکستان او افغانستان اختلاف تولو ته څرګند و، وحید عبدالله د افغانستان د باندنیو چارو مرستیال د ۱۹۷۳ کال د نومبر په اولو کې د بلوڅو او پښتنو موضوع د افغانستان د عنعنوي سیاست له مخې د خود ارادیت حق ګڼلی او د هغو دغه حق یې د افغانستان «ملي موضوع» ښوولې وه. شاید ددغې څرګندونې په خواب کې به و چې بهوټو د همدغې میاشتې په نیمایي کې د قومي لویانو په یوې غونډې کې افغانستان په دې تورن کړی و چې د پاکستان په دننیو چارو کې ګوتې وهي. ده دا هم ویلي و چې که د افغانستان پخوانی پاچا محمد ظاهر وغواړي زموږ میلمه شي، موږ به یې تود هر کلی وکړو. (۱۲۳)، د بهوټو دغه وینا چې پارونکې وه، بېخوابه پاتې کېدلی نه شوه. د بل کال په فبرورۍ کې په خپله محمد داود د هغه په ځواب کې په یوې مرکې کې څرګنده کړه چې په اصطلاح سرحدي صوبه دافغانستان خاوره وه او برتانویانو هغه په یوې تحمیلي موافقې سره له افغانستان نه بېله کړې وه. (۱۲۴)،

په دې کې شک نشته چې د پېښور په ګډون سرحدي صوبه د افغانستان خاوره وه، په اصل کې افغانستان له اباسین نه شروع شوی د لویدیځ په لور غزېدلی هېواد و، دغه سیمه د

تولسمې پېړۍ په اولې نیمايي کې اول سکانو او وروسته په ۱۸۴۹ کې انګرېزانو ونیوله. د هند برتانوي حکومت په دې هم بسیا ونه کړه او په کال ۱۸۹۳ کې يې د ډیورند په نامه توافق لیک د افغانستان په امیر عبدالرحمن باندې تحمیل کړ، په دې ډول چې د ډیورند د کرښې ختیځه خوا سیمه يې د «خپل نفوذ» سیمه وګڼله. سره له دې هم دغه توافق لیک باید په ۱۹۴۷ کې له هند نه د انګریزانو په وتلو سره باطل اعلام شوی وای، ځکه چې هغه که تحمیلي هم و د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ و او انګریزانو هغه په نا ویشلي یا لوی هند باندې د روسانو د احتمالي یرغل د دفع لپاره تجویز کړی (۱۲۵). په هر حال محمد داود هم د پښتنو او بلوڅو لپاره د خود ارادیت اصل ټینګ ونیوه په داسې حال کې چې د مرکزي کمېټې ځینو غړو ټینګار کاوه چې افغانستان باید په دغې موضوع کې له پخواني سیاست نه لاس واخلي او په سیمې باندې دخپلې خاورې ادعا وراندې کړي. (۱۲۲)

په زیاته اندازه ددغې کشالې په سر د ۱۹۷۴ تر پیله پورې د افغانستان او پاکستان اړیکې ترخه وو او هر یوه په خپلې خاورې کې دننه د بل مخالفان روزل او وسله وال کول او د ورانکارې دپاره بېرته استول. په دې ډول په خبرو سره ددغې کشالې د هوارولو هیله له منځه لاړه. دا یو تریخ حقیقت دی، چې افغان اسلام پالو له خپل حکومت سره د مخالفت په موضوع کې خپل خانونه د پاکستان د حکومت ارادې ته وسپارل او د هغه په لمسوني سره يې دننه په خپل هېواد کې د امنیت ګډو ډولو ته ملا وتړله په داسې حال کې چې افغانستان له پاکستان سره په یوې ملي بنسټیزې کشالې کې ګېر و. دا د

افغان اسلام پالو له لارې په افغانستان کې د پاکستان غځنه ځرګنده لاسوهنه وه، چې وروسته د شوروي اتحاد او ایران لپاره سرمشق وګرځېده. غیر له هغه هم اسلام پالان په خپلې ماتې سره بې اعتبار شوي وو. دغې ماتې په ډاګه کړې وه چې دوی په سیاسي چارو کې د خپلو خلکو له اعتبار نه برخمن نه دي. دوی د پاکستان حکومت ته هم بې اعتباره شول، په تېره وروسته له هغه چې محمد داود د خپل دښتي او باندني سیاست لوري واړوه او ددغه بدلون په رڼا کې ددوارو حکومتونو اړیکې ښه شول، چې وروسته به دغه تکي وسپړم. دغه افغان اسلام پالان په افغانستان باندې د شوروي اتحاد تر یرغل پورې د کوم بل حکومت په کار نه وو او تر هغو پورې ددوی حرکت چې له ماتې نه وروسته وویشل شو، په نیم ژواندي حال کې و.

د افغان د اسلامي سیاسي حرکت لومړی غټ ویش د هغه دسني او شیعه پلویانو ترمنځ و، دوی تر دغه وخت پورې سره یو موټی وو. ددوی دغه ویش تلپاتې شو، د حرکت د مخکښانو په سطح کې هم بې اتفاقي او بېلتون راغی، خوانو مخکښانو یې په تېره حکمتیار د جمهوري نظام پر ضد عملیات غوښتل او په سن پخو مخکښانو؛ لکه رباني عملیات نه غوښتل. په پای کې لکه چې دمخه ولیدل شول، د حکمتیار په دستور عملیات وشول، خو هغه دانه منله چې عملیات د هغه په امر شوي دي. حقیقت چې هر څه و له عملیاتو نه وروسته دوی په یوه بل باندې تورونه لګول او ترمنځ یې د لومړي ځل لپاره پراخې ناندرۍ پیل شوې. د پاکستان حکومت له چارواکو سره د اړیکو ټینګولو هڅو، له هغو نه د پیسو او امتیازونو د ترلاسه کولو کوښښونو او داسې هم د شخصي مقام غوښتلو هڅو د اسلامي حرکت په

توته کېدلو کې غټ رول ولوباوه په نتیجه کې افغان اسلامي حرکت چې تر دغه وخت پورې د افغانستان اسلامي جمیعت نومېده اول دوه توټې او وروسته نور هم وویشل شو. په اول ویش کې حکمتیار او قاضي محمد امین وقاد د افغانستان اسلامي حزب په نامه خانله تنظیم جوړ کړ او رباني د جمیعت نوم وساته.

درې کاله وروسته وقاد د اسلامي انقلاب په نامه نوی تنظیم جوړ کړ، خو هغه زر له منځه لاړ. د عملیاتو نا بریالیتوب دوی ټول محتاط کړل. په داسې حال کې چې رباني یې د اعتدال په لور وهڅاوه، حکمتیار د اوږدې مودې ستراتیجي وایسته او خپل تنظیم یې په تنګو کړېنو باندې روان کړ، چې دا ټول یو اوږد بحث غواړي. دلته به دا هم وویل شي چې د افغان اسلامي حرکت په ویش کې سیمه ییز او قومي میلونه هم ښکاره شول.

د مخکښانو په سطح کې حزب د پښتنو او جمیعت د تاجکو په لاس ولوېد، خو د دواړو تنظیمونو غړي د افغانستان د قومونو مخلوط وو. په جمیعت کې دننه د پنجشیري، بدخشاني او هراتي په نومونو سیمه ییز میلونه هم څرګند شول. په دې ډول سیمه ییزتوب او قوم ولیتوب په اسلامي ایډیالوجي کې ننوتل، که څه هم اسلامي ایډیالوجي په تیوري کې ورسره مخالف ده.

# د نويو سياستونو په لور هڅې

## دننه په وطن کې

د اسلام پالو پاڅونونه که څه هم وځپل شو، بې اثره پاتې نه شول. تر دغه وخته پورې ولسمشر محمد داود هم خپل دريغ پياوړی کړی او چپي وزيران له اعتبار نه لوېدلي وو. محمد داود په دې پيل وکړ چې په دننيو او باندنيو سياستونو کې بدلون راولي او د خپل حکومت لوری واړوي. د پرچمي چارواکو او داسې هم د شوروي اتحاد په هکله د پلان وزير، علي احمد خرم او د باندنيو چارو وزارت مرستيال وحيد عبدالله د محمد داود نظر د مخه اړولی و. په دغه اړه د فايق کوښښونه هم اغيزمن شول. وروستي به په پرله پسې ډول محمد داود ته ويل چې له حکومت نه د خلکو ناراضي توب د پرچمي چارواکو له امله دی چې «سرخېل» يې محمد حسن شرق دی.

له «سرخېل» نه د فايق مراد دا و چې پرچميان د شرق له لارې حکومتي مقامونو ته رسېدلي او خلکو دی هم پرچمي باله. د فايق په نظر شرق «پرچمي و کمونست مطلق است» خو شرق دغه ادعا ردوله.

په هر حال فايق چې محمد داود ته ښه منلی و، د ۱۹۷۵ کال د جولای په مياشت (د ۱۳۵۴ کال د سرطان په مياشت کې) هغه ته د حسن شرق ثبت کړی اواز اورولی و، چې په هغه کې د

محمد داود پرضد دکودتا د طرحې خبرې وې. (۱۲۷)

زر وروسته د سرطان په ۳۱مه (جولای ۱۰-۱۹۷۵) د مرکزي کمېټې په يوې غونډې کې چې دهمدغې موضوع لپاره بللې شوې وه، محمد داود له خپلو ملګرو نه په ټينګه وغوښتل چې دخپلو اختلافونو په اړه په زغرده او سپين وغږېږي، چې د هغو له مخې سمه پرېکړه کېدلی وشي. په عين حال کې يې ددغو اختلافونو له امله خپله ټينګه خواشيني ښکاره کړه. د کمېټې له غړو نه يوازې فايق جګ شو او د اوږدې وينا په ترڅ کې يې وويل چې ((منشاء تمام بی عدالتی ها و بدبختی های امروزی و اختلافات کميته مرکزی اقای حسن شرق است.)) ده د خپلې ادعا د ملاتړ لپاره يو څو مثالونه هم ورکړل. حسن شرق ته بله لاز نه وه پاتې، مګر دا چې توبه وکړي او خان وژغوري. د فايق په وينا هغه همدغسې وکړل. محمد داود چې دشرق ثبت شوی اواز دمخه اورېدلی و، پرې غوسه شو. د فايق په وينا (( در اخر محمد حسن شرق گفت من از اقای فايق صاحب وزير فوايد عامه نهايت ممنون و سپاسگذارم که مرا به خبط و خطا و اشتباهات ملتفت ساخت و از حضور پدر معنوی ولی نعنم التجا ميکنم که اشتباهات و نقصاناتيکه از من سرزده بديده عفو پدرانه بنگرد و اين درسي بود که در زندگی گرفتم، ديگر تکرار نخواهد شد.)) (۱۲۸)

محمد داود د کودتا موضوع ټينګه ونه نيوله لکه چې د ميوندوال په اړه يې ټينګه نيولې وه، هغه ممکن شوروی اتحاد په نظر کې نيولی وي؛ لکه چې تر هغه دمخه صدر اعظم نور احمد اعتمادي پرچميان په ضمني ډول آزاد پرېښي و او د هغه پر خلاف په کابل کې يې د اسلامي عالمانو پاڅون ځپلی و، سره

له دې هم د فایق په وینا «زوال کمونستان اغاز گردید.» (۱۲۸ الف)

د کابینې په تغیر کې درې چپي وزیران – غلام جیلاني باختري، عبدالحمید محتاط او نعمت الله پژواک د وزارت له مقامونو نه گوښه شول او فیض محمد او پاچا گل وفادار د باندې سفیران وټاکل شول.

د حسن شرق په برابر کې اول د مالیې وزیر سید عبدالاله د صدارت دوهم مرستیال وټاکل شو او وروسته له کابینې نه وایستل شو او په جاپان کې سفیر وټاکل شو، خو محمد داود د امنیتي وزارتونو په سر کې دغسې کسان کېنول چې د ناوړتیا له امله یې په حساس وخت کې له جمهوریت نه دفاع کولی نه شوه او نظام نسکور شو او محمد داود هم له مینځه یوړل شو. غلام حیدر رسولي د ملي دفاع وزیر او عبدالقدیر نورستاني د کورنیو چارو وزیر شو. روسلي دمخه د مرکزي قوتونو قومندان او نورستاني د ژاندارم او پولیسو قومندان و. دی اول د ترافیکو خورد ضابط و، رسولي د ټولو لیکنو له مخې چرسي او د پیرۍ او مریدۍ په لړ قایل و. دی د غلام علي شاه چې په روستاقي اغا صاحب یادېده مرید و. د عظیمي په وینا «اکثراً همراه با عبدالعزیز لوی درستیز امور کشور را رها میکرد در جبل السراج در منزل پیر خویش ... میرفت و در خانقاه وی به شنیدن موسیقي و رقص [و] سماع میپرداخت.» دغه پیر د رسولي په مریدۍ سره تر دې حده نفوذمن شو چې د عظیمي په مبالغه ییزې وینا «... در همه امور [دولتي] حتی رفتن بخارج و بورس های تحصیلي دست داشت و بیک اشاره او همه چیز بکام انسان میگردید.» (۱۲۹) په دې اړه فایق د زړه له درده په

تېنګه حکم کوي چې «امور امنیت و دفاعی کشور بنا اهل ترین وبی کفایت ترین و از نقطه نظر تقوا به کثیف ترین مردم سست عنصر سپرده شد.» دی دا هم وایي چې «بارها از ضعف اداره غلام حیدر وزیر دفاع، فجایع قدیر ضابط ترافیک و عبدالاله ویرا [محمد داود] بر حذر ساختم اما موثر واقع نشد.» (۱۳۰)

خو محمد داود نه یوازې د حکومت له لوړ پوړ نه پېژندل شوي چېپیان وایستل، له چپي ایډیالوجۍ نه یې هم په څرګند ډول فاصله ونیوله او افغان پالنه یې خپله سیاسي عقیده اعلام کړه. دغه غټ بدلون یې هم په خپلو وینااوو او کړو کې وښود او د ولسمشر په توګه یې د لومړي ځل لپاره نوې ملي لاز ونیوله.

محمد داود لا په کال ۱۹۷۴ (دغویي ۹، ۱۳۵۳) د کابل په پولي تخنیک کې د محصلانو او استادانو په یوې غونډې کې څرګنده کړې ده چې «... دشمنان انقلاب به ما نسبت کمونستی میدهند، به شما جوانان بصراحت میګویم که ما مسلمان هستیم، متهم ساختن ما بکمونست ګناه و جرم نا بخشود نیست.» د بل کال د وري په لومړۍ ورځ له خینو عربي هېوادونو او ایران نه د ستنېدو په لاز کې د هرات ښاریانو په محضر کې «د وارداتي ایډیالوجي» چې مقصد یې کمونزم و رد کړ او د ټولنې په زیان وښوده. هغه دا هم څرګنده کړه چې «ما دارای ایډیالوجی ملی هستیم» لکه چې یو کال د مخه یې د کندهار ښاریانو ته څرګنده کړې وه چې «... نظام موجود بروی اساسات ملی و ناسیونالزم استوار بوده، آنچه را دشمنان بما و رفقای ما نسبت میدهند نا درست و اتهام محض است، ما مسلمان هستیم و بخداوند عقیده و ایمان داریم.»

د افغانستان په اړه هم هغه وویل چې «بعض کشورها افغانستان را یکی از اقمار روس قلمداد میکنند، من بصورت اشکارا اعلام میکنم: افغانستان یک دولت حر و ازاد است، اقمار هیچ کشور نیست ونه ... شده میتواند. اگر دشمن مفکوره داشته باشد [که ان را قمر خود بسازد] اینقدر میگویم. این نظر خواب و خیال است و جنون.» (۱۳۱) د عمل په ډګر کې د مارکسزم او سیاسي اسلام په برابر کې د افغان نیشنلزم او ملي پیوستون د ټینګښت لپاره د مقدمې په توګه یو شمیر ګامونه هم وچت شول. د تابعیت په تذکره کې د قومي نومونو استعمال چې رواج ګرځېدلی و منع شو او د افغانانو هغه تخلصونه هم منع شول چې نسبت یې قوم یا سیمې ته کېده. دا ټول ددې لپاره وو چې افغان ولس په قومونو او نورو نومونو نه وي وېشل شوی او خلک په خپلو کې د افغان په نامه د برابرۍ او ورورۍ ژوند وکړي. د نظام د اصلاح لپاره په اخر وخت کې د استخدام دغسې لایحه هم اعلام شوه چې د هغې له مخې حکومتي مقامونه به لوړ تعلیم کړو افغانانو ته سپارل کېږي. ددې مانا دا کېده چې له دې وروسته به په حکومتي نظام کې د قانون له مخې د ورتیا پرنسیپ چلېږي، چې دا د نظام د اصلاح په لور یو اساسي ګام و. په دغه ډول ولسمشر محمد داود د سیاسي اسلام پالو او چپیانو له لرې کولو نه وروسته هغه لاړ غوره کړه چې امیر شیر علي کښلې، او پاچا امان الله پرانخه کړې وه. پاچا امان الله د ټولنې د مدني کولو لپاره افغانانو ته د لومړي ځل لپاره په وینا او عمل کې برابر سیاسي حقونه ومنل او د افغانستان هر تبعه یې افغان اعلام کړ. (۱۳۱ الف)

محمد داود د ټولنیز نیاو په لور هم ګامونه وچت کړل، د

بیمو او بانک شرکتونه یې ملي کړل او د مځکو د سمونو نوو او مترقي مالیو لایحې وایستلې. د لومړۍ لایحې له مخې دولت د مځکه وال له سلو جریبو نه زیاتې اوبه پیزې مځکې، له دوه سوو څخه ډیرې للمي یا باراني مځکې په بیه واخیستلې چې بیه به یې په پنځه ویشتو کلونو کې په قسطونو سره ورکوي او دولت به دغه اخیستل شوې مځکې بزګرو ته په قسطونو سره ورکوي. د مترقي مالیو عملي کېدلو سره یو شمېر ځمکه والو تر مترقي مالیو لاندې مځکې د درنو مالیو له امله پرې ښودلې. (۱۳۲) په افغانستان کې دا یو نوی او په ټولنیز لحاظ مهم کار و، خو هغه ددغسې مامورانو له خوا عملي کېده، چې نه مسلکي او نه د تجربو خاوندان وو. په دوی کې لکه چې دمخه یې یادونه شوې، ګوندي پرچمیان هم وو، چې د مځکو په وېش او د وېش په طرز کې یې د خپلې ایډیالوجۍ له مخې مځکه وال د «فیوډالو» په نامه سپکول او خپلې مفکورې خپرولې.

ددغو بدلونونو په لړ کې د نوي اساسي قانون ایستل او د جمهوري نظام مشروع کول و. څنګه چې د پاچایي نظام اساسي قانون لغو شوی و، چارواکو ته د زور واکۍ لار خلاصه وه؛ لکه چې دمخه ویل شوي د زور واکۍ پایله ناوړې پېښې او د ټولنې قطبي کېدل شوي و. ددغې وضع په دوام سره ملي پیوستون چې محمد داود پرې معتقد و، بې ارزښته کېده او ورسره ټولنه کړکیچنه کېدله. له بلې خوا څنګه چې جمهوري نظام له اسلامستانو سره ټکر کړی او د چپیانو د نفوذ په لړولو یې لاس پورې کړی و، غوښتل چې ولس ته نږدې وي او ژوند د ښه کړلو لپاره یې پر وجې تطبیق کړي.

د ۱۹۷۷ کال په فبرورۍ کې نوی اساسي قانون وایستل

شو او د ملي غورځنګ په نامه نوی رسمي ګوند میدان ته ووت.
محمد داود تر کودتا وروسته په خپلې لومړۍ وینا کې د پاچایي دورې
«قلابي دموکراسي» پر ځای د «معقولې دموکراسي» وعده
ورکړې وه. سره له دې هم د ۱۹۷۷ کال تر فبرورۍ پورې
جمهوري نظام؛ لکه چې دمخه یې یادونه شوې، نظامي و او
چارواکو زور واکي کوله، خو څنګه چې دقانوني پاچايي په
لسیزې کې خلکو په تېره سیاسي لوبغاړو د ازاد ژوند او قانوني
حکومت او دموکراسي څکه کړې وه او څنګه چې جمهوري نظام
د سیاسي ډلو تر فشار لاندې شوی و او محمد داود هم د ځواني
له نوت نه لوېدلی و (دی دغه وخت ۶۷ کلن و) دا یې غوره
وګڼله چې ولس ته نږدې او له فعال ملاتړ نه یې دو لسمشري
نظام بهره من وي. نو یې د عنعني له مخې له لويې جرګې نه
اساسي قانون په ایستلو کې کار واخیست او د ۱۹۷۶ په پای
کې یې د فرهنګ د لیکنې له مخې ۴۱ تنه او د محمد علم
فیض زاد د لیکنې له مخې ۲۰ تنه مخور افغانان د اساسي
قانون د لومړنۍ لیکنې په تهیه کولو وګمارل. دا په اصل کې د
یو څو قانوني ماهرانو کار و خو حکومت سره له دې چې د
پاچايي دورې اساسي قانون یې په مخ کې پروت و دغومره ډېر
کسان د هغه په تهیه کولو مامور کړل چې اجتماعي ارزښت او
اغیزه یې ډېره وي. د ۱۹۷۷ کال د جنوري په ۲۲مه د نوي
اساسي قانون لومړۍ لیکنه په خپرونو کې راووتله. وروسته
۲۲۲ تنه افغانان د لويې جرګې د غړو په توګه په خپلو محلونو
کې د خلکو په اتفاق سره غوره شول. د هغو په غوره کېدلو کې
دمعمول په شان حکومتي چارواکو لاس لاره، چې د هغه له امله

یو ځای بل ځای د اعتراض اوازونه جګ شول او ځینې چارواکي له خپلو وظیفو نه ګوښه شول. په غوره شویو غړیو سربېره ۱۳۰ تنه نور د بزګرو، کارګرو او روښانفکرو د استازو په نامه د دولت د سروال محمد داود له خوا وټاکل شول. په دغه ډول ۳۵۲ تنه غوره شوي او ټاکل شوي افغانان د کابینې د وزیرانو او د سترې محکمې د غړیو په ګډون د کابل ښار په انصاري واټ کې د عامه روغتیا کنفرانس په تالار کې سره جرګه شول او له جنوري ۳۱ نه یې د فبرورۍ تر دیارلسو پورې د جمهوري نظام لومړی او د افغانستان څلورم اساسي قانون په ۱۳۲ مادو کې وایست. (۱۳۳)

دغه قانون په لنډې مودې کې بې له کومې غټې ستونزې نه وایستل شو. د جمهوري نظام نوي او غټې تکې د ولسمشر غوره کول و، چې د همدغې لویې جرګې استازي به یو څوک د یوې ټاکلې مودې لپاره غوره کوي او ټاکلی واک به ورته مني.

محمد داود راتلونکی ولسمشر ګڼل کېده، خو د منلو طرز یې هغسې چې فکر کېده ونه شو. عمومي نظر دا و چې محمد داود به خان د ولسمشر لپاره کاندید کوي او وکیلان به یې غوره کوي، له هغه نه پرته بل کاندید نه و، یا ډګر ته وتلی نه شو. د لویې جرګې سروال عزیزالله واصفي ناري کړې چې «محمد داود کاندید نه دی او ولسمشري نه غواړي.» هغه څو ځلې همدغسې ناري کړې او هر ځل به د وکیلانو ګډ اواز پورته شو چې «موږ له داود خان نه پرته بل څوک نه غواړو.» واصفي بیا محمد داود ته مخ واړوه چې «صاحبه! خلک تا غواړي» په دغه وخت کې د خوست استازي وریښمین غږ کړ چې «جنرال غلام حیدر رسولي هم د ولسمشرۍ لپاره وړ کس دی که یې

وغواړي.» محمد داود بیا سم له لاسه غږ کړ چې «په یوه شرط کاندید کېږم چې ټول یې په اتفاق سره ومني.» دی بیا د ټولو په اتفاق سره د شپږو کلونو لپاره د افغانستان ولسمشر غوره شو. (۱۳۴) خو څنګه چې د ولسمشر د غوره کولو طرز د جوړې فکر ورکاوه د ولسمشر محمد داود اعتبار یې زیانمن کړ.

په هر حال په اساسي قانون کې د « افغانستان جمهوري دولت دموکراتیک» شلمه ماده» او د «افغانستان اداره د مرکزیت پر اصل بنا» اعلام شوه. (۲۲مه ماده). له دغو مادو څخه مقصد دا و چې د افغانستان مرکزي حکومت په ټول افغانستان باندې په خپله حکومت وکړي، خو د دموکراسۍ د اصولو له مخې په دې مانا چې ولسمشر او د ولسي جرګې غړي به د خلکو له خوا غوره کېږي، د «دموکراتیک» او «مرکزیت اصل» اصطلاح ګانې شاید د «دموکراتیک مرکزیت» د اصل له مخې غوره شوې وي، چې د شوروي اتحاد رسمي ګوند پرې بنا شوی او په دغه وخت کې په کابل کې په خاص ډول په چپیانو کې عامې شوې وې. فرهنګ وایي چې د دغه اساسي قانون په ایستلو کې د محمد داود له لیکل شویو هدایتونو څخه کار واخیستل شو او هغه شاید د کومې پټې ډلې په تېنګار و چې محمد داود نه غوښتل یا نه شو کولی هغه له نظر نه وغورځوي. (۱۳۵) له همدې امله به و چې محمد داود په دغه قانون کې هغه وړاندیز په نظر کې ونه نیوه چې له صدر اعظمۍ نه په ګوښه کېدلو کې یې د مشروطې پاچاهۍ په اړه پاچا ته کړی و. هر څه چې و د مرکزي اصل له مخې ولسمشر ته ډېر واک ورکړل شو. (اووم فصل) دی نه یوازې د دولت سروال، د اجرائیه قوې منتظم وبلل شو، د ګوند منتظم هم وګڼل شو. (۷۵مه ماده) له

بلې خوا د دولت قانون جوړونکې څانګې یا شورا ته چې له یوه مجلس یانې ملي جرګې نه به جوړه وې زیات واک ورنکړل شو. شورا د حکومت په وزیرانو باندې د اعتماد یا نه اعتماد رایه ورکولی نه شوه یوازې استیضاح یې ترینه کولی شوه. (۵۵مه ماده) پر هغه سربېره د هغې غړي به د رسمي ګوند په سپارښتنه د خلکو له خوا غوره کېږي، (۴۹مه ماده) او په کال کې به یو ځل د څلورو میاشتو لپاره غونډې کوي.(۵۷مه ماده).

دا چې ددغه قانون له مخې به ولسمشر او ورسره اجرائیوي قوه ډېر واک او قانون جوړونکې قوه لږ واک لري، شاید د پاچایي دورې د انارشۍ د مخنیوي لپاره و، خو یو ګوندي طرز د ملي غورځنګ (حزب انقلاب ملی) په لاربنود سره (۴۰مه ماده) د زورواکۍ او حتی تولواکۍ لپاره پیلامه وه. په دغه حال کې دموکراسي هسې کلمه کېدله؛ لکه په شوروي اتحاد کې چې شوې وه.

له جرګې نه وروسته نظامي حکومت لغو شو او مرکزي کمېټه رنګه شوه. د مرکزي کمېټې رنګېدل د هغې د غړو په سلا ونه شو او له دې امله هغوی ناراضه شول. (۱۳۲). مهمه دا وه چې د لویې جرګې په ختم سره عمومي هیله دا وه چې ولسمشر به خپله کابینه نوې کوي او ورکسان به پکې راولي، خو له سید عبدالاله نه پرته چې د ولسمشر نایب و تاکل شو، نور څه ونه شول. په خلکو کې د نارضۍ توب څپه خوره شوه. مولف سراج په یو څه مبالغې سره وایي چې «مردم ... بعد از دایر شدن لویه جرگه انتصابی و نظام یک حزب دکتاتوری مایوس شده و به تلاش افتید تا رژیم جمهوری را بر اندازند.» بې له شکه له یو ګوندي طرز سره سیاسي

لوبغاړي مخالف وو، نه خلک.

غلام حيدر رسولي او قدير نورستاني د ملي غورځنګ يا رسمي ګوند منتظمان وټاکل شول، خو دوی د دغه کار ور نه وو. فايق لاوايي چې «شورای عالی حزب که تحت رياست غلام حيدر در اردو اعلان شد زنګ خطر در سقوط دولت بود.» (۱۳۸)، دې خکه دا حکم کوي چې دده په وينا کوم هغه خلقيان او پرچميان چې له حکومتي څانګو نه ايستل کېدل «نزد قدير وزير داخله و غلام حيدر وزير دفاع آمده خودها را ثبت نام کرده با روحيه تازه تری از ګذشته به فعاليت سقوط دولت اغاز کردند.» (۱۳۹)، رسولي لاکوښښ کاوه چې د محمد داود خای ناستی شي. (۱۴۰)، د همدغه مقصد لپاره به و چې «هر شب وزير دفاع با وزرای داخله، ماليه و افسران عالی رتبه وزارت های داخله و دفاع در وزارت [دفاع] جلسه ميداشته باشند.» (۱۴۱)، ده لاله جرګې نه دمخه د قدير نورستاني، سيد عبدالاله او نورو په ملګرتيا يوه خاصه ډله جوړه کړې وه او په هغې باندې يې د «حزب انقلاب ملی» نوم ايښی و. (۱۴۲)، شرق وحيد عبدالله هم ددغې ډلې ملګری بولي، خو هغه په دغې ډلې کې نه و. دغه نوم وروسته په اساسي قانون کې د رسمي ګوند نوم شو. په جرګې کې د وکيل وريښمين وراندېز به رسولي نور هم هيله من کړی وي، خو زياتره وزيران له دغې ډلې سره مخالف او له ملي غورځنګ سره بې علاقې وو، نو په حکومت کې د وزيرانو په منځ کې درز راغی، ان تر دې چې اتو تنو وزيرانو حتی له خپلو وظيفو نه د ګوښه کېدلو نيت وښود. د وزيرانو د ګوښه کېدلو دغه نيت کومه عادي خبره نه وه، دوی د فايق په کور کې سره جرګه شول چې په دې اړه يو ګډ دريځ غوره

کړي او ولسمشر له دغې ډلې نه واروي، دوی بیا په دې هکله د ولسمشر ورور محمد نعیم سره د هغه په کور کې ولیدل او تر ښه یې وغوښتل چې ولسمشر د هېواد له ناورې وضع نه خبر کړي او د دغې ډلې د کړو پایلو ته متوجه کړي. محمد نعیم هغوی د ګوښه کېدلو له هوډ نه واړول، خو سپارښتنو یې په ورور باندې اغیزه ونکړه.(۱۴۳) له هغه وروسته دی او د محمد داود مشر زوی محمد عمر هم ناراضه شول او د افغانستان راتلونکې یې خره او خطرناکه وښووله. (۱۴۴) په دغه حال کې ملي غورځنګ هم د یوه سیاسي ګوند حیثیت پیدا کولی ونه شو، سره له دې هم ولسمشر محمد داود نورو هېوادونو ته په رسمي سفر لاړ چې له هغو نه د پرمختیایي پروجو او اوه کلن پرمختیایي پلان لپاره مرستې ترلاسه کړي.

# د نویو سیاستونو په لور هڅې

## - ۲ -

## له هېواد نه دباندې

### شوروي اتحاد ته سفر:

شوروي اتحاد د ۱۹۱۷ کال د اکتوبر له انقلاب نه وروسته د داخلي جنګ په دوران کې د منځنۍ اسیا په لاتدې کولو سره د افغانستان چم ګاونډی هېواد شو. شوروي اتحاد له هماغه وخت نه د ضیېق مرکزي اصل له مخې د کمونستي ګوند له خوا د هغه د عمومي منشي په سروالي چې له روسي تزار نه د زیات واک خاوند و په غیر دموکراتیکې طریقې سره اداره کېده. په منځنۍ اسیا کې ددغه نظامي زبر ځواک غټ کوښښ دا و چې د خپلې امپراتورۍ سهیلي اړخ خوندي وساتي او په چم ګاونډیو هېوادونو؛ لکه افغانستان کې د لوېدیځ په تېره د امریکې د نفوذ مخه ونیسي. سروالان یې وېرېدل چې که افغانستان د امریکې د نفوذ سیمه شوه په منځنۍ اسیا کې به ددوی واکمنۍ ته خطر پېښ شي، نو دوی له دوهم نړیوال جنګ نه وروسته د ساړه جنګ په دوران کې د نکیتا خروشچف په واکمنۍ کې له افغانستان سره د محمد داود په صدر اعظمۍ کې له ۱۹۵۲ نه راهیسې ډول ډول مرستې کولې او اوس یې د هغه په ولسمشرۍ کې هم د مرستو وعدې ورکولې. ولسمشر

محمد داود د همدغو مرستو د تر لاسه کولو او د دواړو هېوادونو د دوستۍ د مزي د ټینګولو په غرض په کال ۱۹۷۴ کې شوروي اتحاد ته په رسمي سفر تللی و.

ولسمشر محمد داود له ورسره هیئت سره د ۱۹۷۷ په اپریل کې د شوروي اتحاد په بلنه بیا مسکو ته لاړ. په دغه سفر کې د شوروي اتحاد حکومت افغانستان ته ۴۳۷ میلیون ډالر اعتبار منلی و. په ۱۹۷۲ کې د دواړو خواوو ترمنځ د سوداګرۍ دغسې قرار داد هم لاسلیک شوی و، چې له یوه بل سره د سوداګرۍ حجم باید ډېر شي او تر ۱۹۸۰ پورې شپېته سلو ته ورسېږي. د همدغه جاري کال ۱۹۷۷ تر سپتمبر پورې په افغانستان کې د شورویانو شته والی د هر بل هېواد تر ماهرانو او کسانو نه ډېر وو، خو محمد داود په افغانستان کې د شوروي ماهرانو له ډېر شته والي نه په اندېښنه کې و. حتی تر خپلې کودتا نه وروسته د دفاع وزارت د ځانګو سروالانو په یوې غونډې کې ویلي و چې «از تعداد مشاورین نظامی شوروی کاسته شود، اصرار مینمود که کارها بدست صاحبمنصبان افغاني سپرده شود.» (۱۴۲)

په دې اړه د هغه مشخص هدایت دا و چې دوه – دریمه برخه افغان افسران دې مصر او هند ته او دریمه برخه شوروي اتحاد ته واستول شي، هغه دا هم ویلي و چې د هند او مصر حکومتونو په خپلو هېوادونو کې د افغان افسرانو زده کړه منلې ده، په دې ډول چې هغوی به هلته په روسي وسلو او تجهیزاتو تمرینونه کوي. (۱۴۷) محمد داود لا په ۱۹۷۴ کې هندي جورنلست کولدیپ نیار ته په یوې مرکې کې ویلي و چې «دی د امریکې او شوروي کارپوهان نه غواړي؛ د هند کارپوهان

غواړي.» نیار دا هم وایي چې په افغانستان کې په ۱۹۷۴ کې درې یا څلور زره روسي کارپوهان په هندي کارپوهانو سره عوض شوي وو. (۱۴۸) دا او د افغانستان د «اسلامي ګاوندیو» یانې ایران او پاکستان ترمنځ د نویو اړیکو څرګند بدل او پراختیا ول او له حساسو او لوړو مقامونو نه د پرچمیانو ایسته کول په وو، چې د شوروي حکومت یې اندېښمن کړی و. د شوروي حکومت اندېښمن شوی و چې په دغو کارونو سره به په افغانستان کې د هغه نفوذ لږ شي. هر څه چې و په کابل کې یې عمالو افغان کمونېستان تنظیمول او پیاوړي کول چې دا په افغانستان کې ددوی لاسوهنه وه. (۱۴۹)

د شوروي اتحاد بلنې محمد داود ته موقع ورکړه چې عمومي منشي لیونید بریژنیف وپوښتي چې عمال یې په کابل کې دغه لاسوهنه د هغه په دستور کوي یا په خپل ابتکار کوي او په هر حال هغه د افغان - شوروي له دوستۍ سره اړخ نه لګوي. نو یې د مسکو په لاړ په الوتکه کې وحید عبدالله ته هدایت ورکړ چې ددغې موضوع د سپینولو لپاره له بریژنیف سره د یوې خانګړې ناستې ترتیب ونیسي. (۱۵۰) مولف محمد صدیق فرهنګ ادعا کوي چې محمد داود «در آن وقت از فعالیت احزاب پرچم و خلق علیه دولتش به ستوه آمده میخواست در این باره بالیونید بریژنیف رئیس دولت شوروی مذاکره کند.» (۱۵۱) فرهنګ د خپلې وینا سرچینه صمد غوث ښيي خو هغه، لکه چې پورته وویل شول، د شوروي اتحاد د ماموړانو له ورانونکو کارونو څخه غږېږي، نه د خلقیانو او پرچمیانو. پر هغه سربیره محمد داود دغسې واکمن نه و چې له خپلو افغانانو که څه هم کمونېستان وي د نور ملکونو واکمنو

ته شکایت وکړي. د غه موضوع د افغان واکمن یانې د محمد داود په صلاحیت کې وه، نه د نورو ملکونو د واکمنو.

د کریملن په ماڼۍ کې افغان - شوروي هیاتونه د اپریل له ۱۲ نه تر ۱۵ پورې د رسمي خبرو اترو لپاره سره کیناستل: د شوروي د رسمي ګوند سرمنشي لیونید بریژنیف، ولسمشر نیکولای پوتګورني، صدر اعظم الیکسي کاسیګین، په کابل کې د شوروي اتحاد سفیر الکیزاندر پوزانوف او نور. ولسمشر محمد داود، سید وحید عبدالله، محمد حسن شرق، علي احمدخرم، صمد غوث، محمد خان جلالي، په مسکو کې افغان سفیر علي احمد پوپل، عبدالجلیل جمیلي او نور. د افغانستان له خوا روسي ګوریلوف چې په فارسي ښه پوهېده د ترجماني لپاره ګمارل شوی و که څه هم افغان هیئت عبدالجلیل جمیلي غونډې د روسي ژبې تکړه ترجمان لازه هغه د خبرو په مهز کې د محمد داود ښي خواته او وحید عبدالله د هغه کیڼې خوا ته ناست وو. ددغو غونډو جریان لومړی د صمد غوث په کتاب کې راغلی، غوث د افغان پلاوي غړی او د باندنیو چارو د وزارت یو لوړ رتبه مسلکي مامور و. تر دې نږدې وختو پورې دده روایت ددغو خبرو یوازنی سرچینه وه، خو په کال ۲۰۰۲ کې جمیلي هم ددغو غونډو بهیر په خپلو لیکنو کې بیان کړ. د جمیلي روایت د غوث له روایت نه په یوې مهمې موضوع کې دغسې اساسي توپیر لري، چې په هغه سره هغه تیوري بې مفهومه کېږي، چې د وروستي په روایت بنا شوې او عامه شوې ده. تیوري دا ده چې د محمد داود پرضد د ثور کودتا د هغه لفظي تکر نتیجه وه چې د کریملن په دغو غونډې کې د محمد داود او بریژنیف ترمنځ پېښ شوی و. د موضوع د اهمیت له

نظره د دغو غونډو تفصیل ورکول کېږي.

بریژنیف د اپریل دولسم د مازیګر په لومړنۍ غونډه کې د هرکلي لنډه وینا وکړه. د غوث د لیکنې له مخې دی « په ځرګند ډول ډېر ناروغ و، تر هغه نه ډېر چې موږ په کابل کې له بېلو سرچینو نه اورېدلي و... په ډېر زحمت سره ګړېده او زیاتره به د جملې په منځ کې ودرېد؛ لکه هغه څه چې یې شروع کړي، هېره کړي وي.»(۱۵۲).

محمد داود د بریژنیف له لنډو خبرو نه وروسته په خبرو پیل وکړ: د شوروي اتحاد له هغو مرستو نه یې مننه وکړه چې له افغانستان سره یې د اووه کلن پلان په پلي کولو کې کوي. ده دا هم وویل چې د پلان وزیر خرم ته یې هدایت ورکړی چې د افغان او شوروي اتحاد ترمنځ د اقتصادي همکارۍ د انکشاف لوظنامه لاسلیک کړي.

وریسې یې زیاته کړه چې شوروي اتحاد ته د افغان ګاز د صادرولو د بیې لوړولو ضرورت یو ځل بیا تکراروي، دی له پاکستان او ایران سره د افغانستان د اړیکو له ښه کېدلو نه هم وغږېد. دا یې هم وویل چې افغانستان پرمختیایي پروژې په مخ کې لري او د هغو لپاره د دوستو هېوادونو بېغرضه مرستو ته اړ دی. محمد داود بیا کره چې د افغانستان خلک د شوروي اتحاد د مرستو درناوی کوي او دی هیله کوي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ اړیکې نور هم انکشاف ومومي. محمد داود په خاص ډول خپلو کوربنو ته داډ ورکړ چې افغانستان په خپل ناپېیلي سیاست باندې ټینګ ولاړ دی. ده دا هم وویل چې په کولمبو کې د ناپېیلو هېوادونو د مشرانو جرګه د قناعت وړ وه، خو ځینې اړخونه یې باید د دغه غورځنګ له

اساسي ارزښتونو سره اړخ ولگوي. د محمد داود دغه اشاره کیدای شوه چې کوښښ یې کاوه دغه غورځنگ د شوروي اتحاد په لور کوږ کړي. (۱۵۳)

نیکولای پودگورني د پاکستان-افغانستان د اړیکو ښه کېدل په جنوبي اسیا کې د هېوادونو د اړیکو په طبیعي کېدلو کې یو مثبت گام وباله، خو د ایران په اړه یې هیڅ ونه ویل. کاسیگین چې د خبرو بهیر ته ښه خیر و، محمد داود ته په خطاب کې وویل چې شوروي اتحاد د گاز بیې لوړلو ته د افغانستان غوښتنه مهمه گڼي او هیله کوي چې شوروي اتحاد د شوروي-افغان د اقتصادي کمیسون له لارې د دغه تکي په اړه په نږدې راتلونکي کې افغان خواته مثبت وړاندیز وکړي، خو بریژنیف لکه چې له یوه ډوب چرت نه سر پورته کړي وي محمد داود ته په خطاب کې وویل چې دده په نظر ایران ډېرې وسلې ترلاسه کوي، ده دا هم وویل: چې ایران ته نه ښایي له شوروي اتحاد نه وویرېږي؛ ځکه چې شوروي اتحاد د ایران پاچا ته د خپلې دوستۍ او سوله ییزو نیتونو په اړه پوره ډاډ ورکړی. ایا ایران د امریکې د قایمقام په شان غواړي د خلیج په سیمه کې د هغې گټې خوندي وساتي؟ که ایران دغه څه په نظر کې لري دا کوم معقول سیاست نه دی. امریکا له سیمې نه لېرې پرته ده او شوروي اتحاد د ایران چم گاونډی هېواد دی او د جنگ په وخت کې وسلې که څه هم ډېرې وي د نږدې توب په برابر کې مقابله کولی نه شي.

بریژنیف دا هم وویل چې ایران گاونډیان د هغه د وسلو له ډېروالي څخه اندېښنه لري. محمد داود په ځواب کې وویل چې ایران دده په نظر په سیمه کې پرغلیز سیاست پرمخ نه بیایي او

افغانستان د ایران د وسلو په زېرمې سره تر ګواښ لاندې نه دی او زیاته یې کړه چې دی که څه هم په نظامي چارو باندې د ایران دغومره ډېرو لګښتونو ته په ښه نظر نه ګوري؛ ځکه چې ایران بیا نه شي کولی په خپلو اقتصادي او ټولنیزو پرمختیایي پروجو باندې کافي پیسې ولګوي او ده د ایران له پاچا سره دغې موضوع په اړه په ۱۹۷۵ کې خبرې کړې دي. ده دا هم وویل چې ده په نظر ددغومره ډېرو وسلو لرل شاید ددې لپاره وي چې د ایران پاچا غواړي ایران د یوه نظامي ځواک د حیثیت خاوند او د تیرې په مقابل کې یو سپر وي. په دې ډول ایران به غواړي چې د سیمې او اسیایي چارو کې یو قوي اواز وي. له هغه نه پرته د محمد داود په نظر د ایران دغومره ډېرې وسلې مفهوم نه لري په تېره د ایران-شوروي د نښتو په ارتباط محمد داود دا هم وویل چې په دې اړه داسې کوم دلیل نه شته چې له ایران د «سیمه ییز ژاندارم» د نسبت شوي رول نه یا په لویدیځې اسیا کې د امریکې د نظامي ځواک د توسعې په تړګه له هغه نه د ډار احساس وشي. هغه زیاته کړه چې د دربیمې نړۍ هېوادونه د ایران په ګډون دغومره ډېرې جوړښتي او تشکیلاتي نیمګړتیاوې لري، چې د پرېمانه وسلو په لرلو سره هم ورته ممکنه نه ده، دغسې هیلې په اغیزمنه توګه واقعي کړي.

د کریملین مانۍ په مانښامنۍ میلمستیا کې محمد داود او پودګورني د خپلو حکومتونو د باندنیو سیاستونو اساسي کرښې روښانه کړې. پودګورني په خپلې وینا کې داسیا د ډله ییز مصونیت ورانديز ته په اشاره کې وویل چې «موږ غواړو د اسیایي هېوادنو ترمنځ سوله او همکاري وي، ترڅو ددوی ګډ

کوښښونه د اسیا په لویه وچه کې مصونیت تضمین کړي» دی د خپلو خبرو په دوام کې انتقادي شو په دې ډول چې «هرڅوک په دې پوهېږي چې د ساړه جنګ پلویان په اسیا کې هم له دیتانت سیاست سره په مقابله کې هڅه کوي.

دوی کوښښ کوي چې د اسیایي هېوادونو ترمنځ کړکیچ وساتي، دوی د خلکو په مینځ کې بې اعتمادي پیدا کوي، د دې لپاره چې هېوادونه د یوه بل پر ضد ولمسوي او په منځ کې یې جنګونه تحریک کړي. نظامي خواکونه په بلاکونو او د جنګ په هډو سره نښلوي، چې دوی په اسیا کې جوړې کړې دي. د امپیریلیستي ارتجاع فعالیتونه په منځني ختیځ کې هم دوام لري. د سولې غوښتونکو هېوادونو کوښښونه او د ازادۍ قدرت باید له دغو توطیو سره مقابله وکړي.»

پودگورني په خاص ډول د افغانستان نوم یاد کړ او وویل چې «د افغانستان جمهوریت رول چې د اسیا په زړه کې پروت دی د هغه مساعده مرسته مهمه ده، شوروي اتحاد او افغانستان په ډېرو جدي مسئلو کې چې په اسیا او د نړۍ په نورو برخو کې په اوسني وضع پورې ربط لري، ګډ دریځ لري.»

محمد داود په خپلې وینا کې د اسیا د ټولنیز مصونیت نوم وانه خیست، د افغانستان په ناپیلي سیاست باندې یې ټینګار وکړ چې د هغه په نظر د «سوله ییز ګډ ژوند دوه ارخیز درناوی، د یوه بل په چارو کې نه لاسوهنه او په سیاسي ډلو ټپلو او جنګي بلاکونو کې د نه ګډون توب پر ټینګو بنسټونو ولاړ دی.» داسې هم محمد داود د شوروي - افغان ښه ګاونډیتوب وستایه چې هغه د هغه په فکر د ګاونډیتوب روڼ والي، رښتین توب، بې غرضه او د ارزښت وړ په ټینګو بنسټونو تکیه لري،

هغه د ډیټانټ پیاوړتیا وستایله او هیله یې ښکاره کړه چې هغه په ټولو هېوادونو او لویو وچو کې خپور شي. په دې ډول چې د هغو ملي او مشروعې ګټې په نظر کې وي. د پاکستان په اړه محمد داود وویل چې له هغه سره «سیاسي اختلاف» لاهم شته چې له امله یې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې تر اوسه هم نورمال نه دي، خو هغه د هغو د ښه کېدلو په اړه هیله ښکاره کړه او وویل چې که موږ په دې بریالي شو چې هغه فضا وساتو چې د دواړو هېوادونو د مشرانو په تماس سره پیدا شوې ده، هیله کولی شو چې په نږدې راتلونکي کې به د دغه سیاسي اختلاف د حل لپاره یوه معقوله لار پیدا شي.

د بلې ورځې په غونډه کې د خبرو وار د کوربه و. بریژنیف د هیئت مشر د مخه شو او افغانانو ته یې د بیا هرکلي له ویلو نه وروسته وویل چې دې خوښ دی چې په هلسنکي کې د اروپا د مصونیت او تعاون په اړه موافقه شوې ده او دې دغه موافقه مهمه ګڼي چې له ستونزو سره سره پرمختګ بیي. ده دا هم وویل چې په امریکې او اروپا کې «نظامي کړۍ ګانې» او په رلسې چین کې «لوړتیا غوښتونکي» د نړۍ خرپړتیا وو، د لېږې کولو او د سولې د پیاوړي کولو په مخ کې خنډونه دي. هغه دا د خپل هېواد هیله وښووله چې افغانستان شتمن وي او ددغه مقصد لپاره یې د اقتصادي او تخنیکي مرستو د دوام ژمنه وکړه. بریژنیف د افغانستان د ناپیلتوب سیاست د شوروي اتحاد له نظر نه مهم او په اسیا کې د سولې د پرمختګ لپاره اساسي وباله او هیله یې ښکاره کړه چې د ناپیلتوب غورځنګ د امپریلستي فتنو او دسیسو قرباني نه شي.

په دغه وخت کې برېژنیف د صمد غوث د لکینې له مخې محمد داود ته نیغ وکتل او هغه څه یې وویل چې ترجمان ګوریلوف یې نا ارامه کړ. «خو له یوې لنډې وقفې نه وروسته یې د برېژنیف خبرې زړه نا زړه وژباړلې او هغه څه چې موږ واورېدل هم یې فکر نه کېده او هم کرېښته وو. برېژنیف شکایت وکړ چې د ناټو هغه کارپوهان چې په افغانستان کې په دوه اړخیزو تشبثاتو کې او داسې هم د ملګرو ملتونو او نورو څو اړخیزو مرستې کوونکو پروجو کې بوخت دي، ډېر شوي دي. ده وویل چې پخوا به افغان حکومت لږ تر لږه د ناټو کارپوهان نه پرېښوول چې د هېواد په شمالي برخو کې ځای پر ځای دي، خو نور نو د دغه عمل مراعات په دقیق ډول نه کېږي. هغه خپلو خبرو ته په دغه ډول دوام ورکړ چې شوروي اتحاد دغو انکشافونو ته په ښه نظر نه ګوري او غواړي چې د افغانستان حکومت له دغو کارپوهانو نه ځان خلاص کړي چې هغوی له جاسوسانو پرته نور څه نه دي او په دې پسې دي چې د امپیریلزم داعیه پرمخ بوځي.»

غوث لیکي چې د برېژنیف په دغو خبرو سره سالون کې یوه سړه څپه خوره شوه، خیني روسان په څرګند ډول ناراحته او افغانان خپه شول. برېژنیف خپلې خبرې بس کړې وې او داسې ښکارېده، چې د محمد داود ځواب ته په انتظار وي. «محمد داود په ساړه او غیر جذباتي آواز سره د برېژنیف ځواب ورکړ چې په ظاهر کې روسانو ته هغسې نه فکر کېدونکی و؛ لکه د برېژنیف خبرې چې موږ ته وې. هغه برېژنیف ته کره چې هغه څه چې همدا اوس د روسیې مشر وویل د افغانانو لپاره به هیڅکله د منلو وړ نه وي (څکه)، چې هغوی به هغه د افغانستان په چارو

کې ناوړه لاسوهنه وګڼي. محمد داود د خبرو په دوام کې وویل چې افغانستان له شوروي اتحاد سره د اړیکو قدر کوي، خو حتمي ده چې دغه ملګرتیا د برابرې ملګرتیا وي، داود خپله وینا اوږده کړه او زه د هغه خبرې ټکي په ټکي رانقلوم.»

«موږ به هیڅکله تاسو ته اجازه ورنکړو چې په موږ باندې حکم وکړئ چې څنګه خپل هېواد اداره کړو او څوک په افغانستان کې استخدام کړو دا به د افغان دولت خاص امتیاز وي چې موږ باندې کارپوهان څنګه او چېرته استخداموو. که لازمه وي افغانستان به غریب پاتې شي خو په خپلو کړو او پرېکړو کې به خپلواک وي.»

د غوث د لیکنې له مخې محمد داود ددغې غوغ او غیر ډیپلوماتیک ځواب له ورکولو نه وروسته سم له لاسه جګ شو او ټول افغانان ورپسې روان شول. محمد داود روسانو ته پوازې په سر اشاره وکړه او د سالون د وره په لور رهي شو. په دغه وخت کې بریژنیف چې لکه د شوک له حال نه وتلی وي، له خپلې څوکۍ نه په زحمت سره جګ شو. په داسې حال کې چې پودګورني او کاسیګین ورسره جوخت روان وو او ترجمان یې تر شا و، د محمد داود په لور یې ګړندي ګامونه واخیستل، داسې ښکاریده چې غواړي د خپلو خبرو جبران وکړي. وحید عبدالله او غوث چې له محمد داود سره نژدې روان وو، د روسانو حرکت ته متوجه شول، وحید عبدالله محمد داود ته په ورو وویل چې د ډیپلوماسۍ په خاطر باید له روسي مشرانو سره په مناسب ډول مخه ښه وشي او که نه دغه سفر به پوره نابریالی وي. محمد داود ودرېد او شاته یې مخ واړوه، په مخ باندې یې د خپګان نښې نه مالومېدلې او د روسانو په لور وړاندې شو او د

بریژنیف غوږ په ډلي لاس یې ونیوه. بریژنیف په موسکا سره ورته وویل چې «ماته ویل شوي چې تاسې جلالتماب غواړئ له ما سره په خانګړي ډول وغږېږئ، زه ستاسې په خدمت کې یم. موږ به سره وویننو په هر وخت کې چې ستاسو لپاره اسانه وي.» محمد داود په صاف اواز چې ټول یې واوري وویل چې « غواړم ستاسو جلالتماب په خبرتیا ورسوم چې نور نو د دغسې ناستې لپاره اړه نه شته.» محمد داود بیا د پودګورني او کاسیګین لاسونه ونیول او له سالون نه ووت، په هغه ورځ بیا د دواړو هیئتونو ترمنځ خبرې ونه شوې.

د غوث په نظر «دا په ځرګند ډول هغه قصدي تکرو چې بریژنیف غوښتل په هغه سره د محمد داود په دننیو او باندنیو سیاستونو کې د نوي بهیر په هکله د شوروي اتحاد خپګان ښکاره کړي.»

په بله ورځ د دواړو هیئتونو ترمنځ خبرې له سره ونیول شوې چې لکه د دوی په منځ کې کومه ناوړه پېښه نه وي شوې. د اقتصادي تعاون د انکشاف تړون چې په هغه کې افغانستان ته د شوروي اتحاد د اقتصادي او تخنیکي مرستې د دولسو کلونو لپاره په نښه شوې وې، د پلان وزیر علي احمد خرم او دشوروي وزیر سکاچوف له خوا لاسلیک شو. د دواړو هېوادونو ترمنځ په یوې خانګړي ځرګندونې باندې هم موافقه وشوه. دغه ځرګندونه په اساس کې د هغو ګډو ځرګندونو په شان وه چې په ۱۹۷۴ او ۱۹۷۵ کې اعلام شوې وې.

افغانستان ته د افغان هیات له ستنېدلو نه وروسته د افغانستان او شوروي اتحاد اړیکې د پخوا په شان دوام لاره. (۱۵۴)

د بریژنیف – محمد داود دغه لفظي ټکر چې تردې نږدې وختو پورې ربښتیا ګڼل کېده، مبصرانو ته موقع ورکړه چې دوی وټکوي او د ثور کودتا د دغه ټکر نتیجه وګڼي. مولف فرهنګ چې له هغه نه پرته هم په محمد داود باندې انتقادي دی، دغه ټکر د هغه «آیینه حقیقت نمای خوی و خصلت» ښوولی چې د هغه په نظر «بارها در مجالس خانواده شاهی و سایر گردهمایی ها ظاهر شده و اکنون در سطح بین المللی پدیدار گردید.» فرهنګ د بریژنیف له غرور نه ډک چلند غندي چې محمد داود باید بېخوابه نه وای پرې ایښی خو د نصیحت په ډول وایي چې د محمد داود تردید باید «باستناد بر معاهدات دو کشور به شکل مستدلل و منطقی صورت میگرفت نه با عصبانیت و ترک مجلس.» (۱۵۵)

د تاریخ لیکونکو یوه اساسي وظیفه دا ده چې مهم متنونه په خاص ډول په انتقادي نظر وګوري او دهغو قرینه او د ثبت کوونکي شخصیت په نظر کې ولري او که کېدلی شي د هغو په اړه نوري سرچینې هم ووینې. البته تر دې نږدې وختو پورې صمد غوث د دغې پېښې یوازې مالوم مشاهد راوي و، خو دا باید په نظر کې وي چې څه وخت چې په کومې پېښې سره هېواد او هېوادوال اغیزمن کېږي دکتاتوران هم احتیاط کوي، خو فرهنګ دغه مهم ټکی له نظر نه غورځولی، شاید له دې امله چې د محمد داود په اړه یې نظر هیڅکله افاقي نه و. په هر حال د کریملن په غونډو کې د افغانستان د هیئت بل غړي عبدالجلیل جمیلي په روایت دغه ټکر هغسې چې صمد غوث بیان کړی هیڅ پېښ شوی نه دی. د جمیلي د لیکنې له مخې د دوارو هیئتونو ترمنځ رسمي خبرې په دوو ورځو کې (اپریل ۱۳ او ۱۴)

او د غوث د لیکنې له مخې په درې ورځو کې (۱۲، ۱۳ او ۱۴) وشوې. دغه تو پیر د وروستي اثر اعتبار زیانمن کړی، چې له هغه نه باید په احتیاط کار واخیستل شي، پر هغه سربېره د غوث په اثر کې محمد داود د شوروي اتحاد لویانو سره په خبرو کې احساساتي او د جمیلي په لیکنې کې یو پوخ سیاست وال لیدل کېږي.

جمیلي د دوهمې ورځې (اپریل ۱۴) خبرې په دې ډول انځوروي: «لیونید بریژنیف... منشی عمومی حزب کمونست اتحاد شوروی با اغاز بیانیه خویش روز دوم جلسات را افتتاح کرد. موصوف بعد از شرح یک قسمت بیانیه خود که ۲۰-۲۵ دقیقه دوام کرد، دفعتاً با توقف متن بیانیه سربلند کرده و به شکل جدی تر و صدای بلند تر رو بطرف رئیس جمهور افغانستان کرده چنین به سخن اغاز کرد.

«اقای رئیس جمهور! شما به خوبی میدانید که کشور ما همیشه نزدیکترین دوست افغانستان بوده و در هر وقت و مرحله دست دوستی را بطرف افغانستان پیش کرده و از هیچ نوع کمکی دریغ نکرده است و حال هم بخوشی حاضریم که برای پلان جدید اقتصادی افغانستان کمک کنیم. ولی طوریکه اطلاع دارید دشمنان ما میخواهند که در این دوستی ما رخنه انداخته و انرا خراب سازند. بدین لحاظ عمال خودها را زیر عنوان پیسکور (Reace Corps) و رضاکار و غیره بافغانستان اعزام میدارند که آنها زیر عنوان کمک و همکاری اساساً در تخریب روابط ذات البینی ما میکوشند. باید حکومت افغانستان تمام این اشخاص را از افغانستان خارج کند.»»

جمیلي لیکي چې گوریلوف دغه وینا هغسې چې وه ترجمه نکړه؛ بلکې «آنقدر این مطلب را جویده ولی گوارا واژگونه جلو داد و ترجمه کرد که جانب شوروی که به لسان دری اشنایی نداشتند و جانب افغانی که اصل مطلب و کلمات را به روسی نفهمیده بودند هیچ اشتباه خرابی از ان نگرفتند.» خو ده د وظیفې له مخې وحید عبدالله ته چې د محمد داود کین اړخ ته ناست و په ورو وویل چې «معاون صاحب! ترجمه درست نیست» محمد داود جمیلي ته په یو څه تېنگه لهجه وویل چې « چه گپ است؟» جمیلي وایي چې ما ورته وویل چې « همین مطلب اخیر را ترجمان درست ترجمه نکرده است.» په دغه وخت کې بریژنیف هم جمیلي ته مخ واړوه چې « چه گپ است؟» ده ورته په یو څه تفصیل سره هغه څه وویل چې محمد داود ته یې ویلي و. بریژنیف بیا په گوریلوف باندې په لوړ اواز غږ وکړ چې وینا یې هغسې وژباړه چې کړې یې ده او ترجمان « در این مرتبه گفتار او را... مکملاً توضیح داد.» له هغه وروسته بریژنیف خپله وینا چې تر ۴۵ دقیقو نه زیات وخت یې ونیوه، ختمه کړه او د خبرو وار د محمد داود شو.

جمیلي لیکي چې محمد داود پوازې د هغو ورو یادښتونو له مخې خپله وینا پیل کړه چې د بریژنیف د وینا په بهیر کې یې برابر کړي او د هغو له مخې یې « هر یک از جملات و پاراگراف های بیانیه بریژنیف را قدم بقدم و بصورت سیستماتیک جواب دادند تا اینکه به همان تذکر جدی و یا اخطاریه دیپلوماسی منتقاد کننده بریژنیف رسیدند و با صدای نسبتاً بلند تر ... چنین گفتند.»

«جلالتماب بریژنیف؛

شما و همه خوب میدانند که افغانستان یک کشور رو بانکشاف بوده و برای رفع مشکلات اقتصادی خود به کمک تمام کشورهای دوست خود در جهان ضرورت دارد و ما همیشه از کمک های همه کشورهای دوست منجمله اتحاد شوروی صمیمانه تشکر میکنیم. بنا برین همیشه خواهشمندیم تا کشورهای دوست با کمک اقتصادي و اعزام متخصصین خود بافغانستان باما کمک کنند، ولی اگر این کمک ها و اعزام متخصصین به منزله مداخله در امور ما بحساب رود ما از بازوی آنها گرفته و تمام شان را از افغانستان بیرون می اندازیم (...) ولو که از جرمني، فرانسه، اتحاد شوروی، امریکا، بلغاریا و غیره باشند.» محمد داود د خپلې وینا وروستي برخه بیا وویله او اضافه کړه چې «البته افغانستان یک کشور غریب است ولی یک کشور مستقل و ازاد است و به هیچ کشوری اجازه نمیدهد که بنام کمک در امور داخلی اش مداخله کند. تصمیم سرنوشت افغانستان تنها بدست ملت افغان بوده و تنها مردم افغانستان حق دارند که در ان باره تصمیم بگیرند.»

د محمد داود د خبرو په پای کې کسیګین بلې خواته د توجه اړولو په مقصد له محمد داود نه د دغسې یوې موضوع په اړه نظر وغوښته چې له موضوع سره یې تړاو نه لاره، هغه وویل چې «چون شما یکی از سیاستمداران مجرب بوده و مخصوصاً در منطقه شرق میانه وهمجواری با ایران و پاکستان و هند و چین در امور دولتي و سیاسی سابقه و تجربه کافی دارید و چون دید و نظر شما منحیث سیاستمدار و رئیس جمهور افغانستان برایما ارزش زیاد دارد، ممکن است بفرمائید که شما اوضاع منطقه و احوالات کشورهای همجوار و روش

سیاسی شان را بـه چـه نظـر دیـده و تحلیـل میکنیـد ، یقینـاً شـنیدن نظر شما در این باره ارجناک میباشد.»

جمیلـې لیکـي چـې محمـد داود د دغـو تولـو هوادونـو پـه اړه د شـوروي اتحـاد پـه ګـډون «از دیـد افغانهـا و همسـایه هـا انقـدر معلومـات و توضـیحات مکفـی و لازم بـا اتکـا باعـداد و ارقـام و احصائیه هـا ارایـه کـرد کـه صـدر اعظـم اتحـاد شـوروی دراخیـر ... بـا ابـراز تشـکر و قـدردانی گفتنـد واقعـاً توضـیحات ... شـما انقـدر غنـی و حتـی [دارای] مطالـب بکـر بـود کـه از ان مـستفید شـدیم و بـه شـما میگـوییم کـه بـه مطـالبی رسـیدیم.. کـه قـبلاً نمیدانـستیم... و توضـیحات شـما مـا را بـه راه هـای بهتـر... راهنمـایی کـرده اسـت.» جمیلـې دا هـم وایـي چـې محمـد داود «بـا چنـان متانـت و سـنگینی و چنـان لهجـه... ارامـی صـحبت کردنـد کـه بکلی حیرت آور بود.»

د جمیلـې د لیکنـې لـه مخـې هغـه لفظـي ټکـر تـه بیـا چـا اشـاره هـم ونکـړه او محمـد داود د بریژنیـف د خبـرو پـه برابـر کـې هغـسې عکـس العمـل نـه دی ښـوولی چـې صـمد غـوث بیـان کـړی. ددغـه ټکـي پـه نظـر کـې نیولـو سـره دی لیکـي چـې «مرحـوم محمـد داود خـان نـه کـدام حرکـت بـی حرمتانـه از خـود بـروز داد ونـه از جـای خـود و حتـی از کرسـی خـود حرکـت کـرده و نـه سـخن را بـه ان [جا] رسـانید کـه بـه مرحـوم سـید وحیـد عبـدالله... فرصـت دهـد کـه او بـرایش اشـاره کنـد کـه بـر خواسـتن و حرکـت او از پـشت میـز مـذاکرات دور از نزاکـت اسـت و نـه هیـات شـوروی وضـعیتی کردنـد کـه باعـث بـروز مـشکلات و نارسـایی در مجلـس شـود.» دی دا هـم وایـي چـې محمـد داود د غونډې پـه پـای کـې لـه شـوروي لویـانو سـره لـه لاس ورکولـو نـه وروسـته پـه عـادي ډول لـه سـالون نـه

ووت او د هیئت غړي وریسې روان شول. د بلې ورځې (اپریل۱۵) په سبا افغان هیئت د کندهار په نامه افغان الوتکه کې نېغ د کابل په لور روان شو او شوروي مشران یې مخې ښې ته راغلي وو، دی اضافه کوي چې «من... شخصاً با ایشان قدم بقدم یکجا بودم، جز مراسم و کلمات وداعیه نورمال کلمه و جمله ای را نه شنیدم که دال برتیره گی اوضاع و یا کدورت برخوردها بکند و مرحوم محمد داود خان تا لحظه بالاشدن به زینه طیاره همان لبخند و ارامش دایمي خود را داشت.» (۱۵۲)

ما په تیلفون کې جمیلي ویوښت چې صمد غوث چې د باندنیو چارو په وزارت کې دده همکار و، ولې په دغسې مهمې بین المللي موضوع کې هغه څه په ډراماتیک ډول لیکلي دي، چې په اصل کې پېښ شوي نه دي. هغه دغومره وویل چې صمد غوث اوس کلک ناروغ دی او دده خپله لیکنه پر واقعیت بنا ده او دی پرې ټینګ ولاړ دی. دلته ددغه ټکي یادول په کار دي چې د صمد غوث او عبدالجلیل جمیلي دغه لکینې چې سره په څرګند ډول په تضاد کې دي، ددوی په قلم ددوی د خپلو لیدنو کتنو او مشاهدو محصول دي، نه دکومو رسمي څرګندونو او سندونو.

## پاکستان ته سفر:

محمد داود په دغه فکر چې د امنیت د خوندي ساتلو او هېواد ته دانکشاف ورکولو ښه لاز داده چې له پاکستان او داسې هم له ایران او د عربي هېوادونو سره د دوستي اړیکي ښه ټینګ وي. په دې اړه پاکستان د افغانستان لپاره خاص اهمیت لري، خو افغانستان لکه چې د مخه یاده شوې ده له پاکستان

سره د هغه له هسکېدلو نه وروسته د پښتنو او بلوڅو په سر سیاسي اختلاف لاړه. اختلاف له دېنه را ولاړ شوی و، چې تر اباسین پورې سیمه د افغانستان وه.

خو پېښور د دراني امپراتورۍ له وېشل کېدلو نه وروسته او د پنجاب سکهه حکومت او په ۱۸۴۹ کې د انګلیسي هند حکومت لاس ته ورغی او دغه حکومت په کال ۱۸۹۳ کې په افغانستان باندې د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې د ډیورند توافق لیک تحمیل کړ او په هغه سره یې د ډیورند د کرښې ختیځې خوا سیمه د خپل د نفوذ سیمه کړه او دغه سیمه له ۱۹۴۷ نه وروسته چې انګریزان له لوی هند څخه ووتل او هند په پاکستان او هند بدل شو، د پاکستان شوه په داسې حال کې چې دهغې اوسېدونکو بلوڅو او پښتنو ته باید د خود ارادیت د منل شوي پرنسیپ له مخې د خپل سیاسي برخلیک ټاکلو حق ورکړل شوی وای، چې غواړي خپلواک وي، یا د افغانستان وي یا د پاکستان. هغو ته دغه حق ورنکړل شو؛ لکه چې د هند حکومت په کشمیر کې خلکو ته دغه حق قایل نه شو.

افغانستان دغومره پیاوړی نه و چې ددغې سیمې په اړه خپله ادعا وراندې کړي، یا د غه پرنسیپ ته په دغې سیمې یا پښتونستان کې تحقق ورکړي؛ لکه چې پاکستان دهند په برابر کې دغومره پیاوړی نه و چې د کشمیر کشاله د دغه پرنسیپ له مخې هواروړلی وشي. هغسې چې هند د کشمیر په کشاله کې د پاکستان ادعا ونه منله داسې هم پاکستان د پښتونستان په کشاله کې د افغانستان ادعا ونه منله او په نتیجه کې له هند سره د پاکستان او له پاکستان سره د افغانستان اړیکې ترخه او ددښمنۍ شول او سیمه ناکراره شوه او اوس هم ده.

افغانستان ته د پښتونستان د کشالې یوه پایله دا شوه چې افغانستان له شوروي اتحاد سره د ېر اړخیز اړیکې ټینګ کړي. د دغه نږدې والي پایله بیا دا شوه چې شوروي اتحاد د خپلو د ېرو مرستو له لارې په افغانستان کې نفوذ وکړي او د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند چې په ماهیت کې کمونستي و رامنځته شي او وده وکړي. ولسمشر محمد داود له حکومتي مقامونو څخه د خرګندو پرچمیانو له ایستلو نه وروسته په دې فکر شو چې په افغانستان کې د کمونزم د نفوذ له ختښي کولو او افغانستان ته د انکشاف ورکولو لپاره له پاکستان سره اړیکې عادي کړي او له نورو اسلامي هېوادونو نه مرستې تر لاسه کړي. له پاکستان سره د اړیکو عادي کول د دغه مهم سیاست د پلي کولو لپاره لومړی اساسي ګام و.

له هغه نه پرته هم پاکستان د افغانستان د امنیت په خوندي ساتلو او د افغانستان د پرمختیایي پروجو د عملي کولو په برخه کې کلیېزي رول لري. هغو مره چې افغانستان او پاکستان په ډول ډول اړیکو سره تړلي دي، شاید د نړۍ بل دوه چم ګاونډي هېوادونه هغو مره سره تړلي نه وي. پر هغه سربېره په وچې سره چاپېر افغانستان د پاکستان له لارې له لویدیځې نړۍ په تېره له امریکې سره هغې اړیکې لرلی شي، چې د بل هېواد له لارې یې په هغه ډول لرلی نه شي نو له پاکستان سره د اړیکو عادي کول او پراختیا ورته ورکول د ولسمشر محمد داود د باندني سیاست مهم تکی شو.

په عین حال کې د پاکستان حکومت د صدر اعظم ذوالفقار علي بهوټو په مشرۍ چې له پښتنو او بلوڅو سره په شخړو کې ښکېل شوی و، هم غوره ګڼله چې په دغې موضوع کې

له افغانستان سره پوهاوي ته ورسېږي. بهوتو د ۱۹۷۲ کال په جون کې کابل ته د یوه رسمي سفر لپاره د محمد داود بلنه ومنله او کابل ته تر تګ دمخه یې د پښتنو لوی مشر خان عبدالغفار له بند نه ازاد کړ، خو د پښتنو او بلوڅو نور مشران لا په جیل کې وو. بهوتو درې ورځې (جون ۷ نه تر ۱۰ پورې) په کابل کې رسمي میلمه و.

دا لومړی ځل و چې د پاکستان صدر اعظم په کابل کې له افغان ولسمشر سره د خپل منځي سیاسي موضوع ګانو په اړه ګړېده. د پاکستان له خوا د بلوڅو او پښتنو د حقونو منل او د ډیورنډ د کرښې په اړه پوهاوي ته رسېدل د بحث اساسي موضوع ګانې وې. دغه موضوع ګانې په خپل حال پاتې شوې خو دواړو خواوو د یوې بلې په اړه روغ نیتي وښوده او هره خوا داډه شوه چې بله خوا غواړي چې دغه موضوع ګانې په خبرو سره فیصله شي، خو دغه کار وخت غوښته. دغه روغ نیتي ((د کابل روحیه)) ونومول شوه او د دواړو هېوادونو ترمنځ د بهر بنه والي راغی او د همدغه کال (۱۹۷۲) په اګست کې محمد داود د بهوتو په بلنه پاکستان ته لاړ او له اګست له ۲۰ نه ۲۴ پورې له خپل ورسره هیئت سره هلته پاتې شو. لاتجمني کشالې بیا هم هوارې نه شوې، خو د هڅو د هوارولو لپاره دواړو خواوو یو ځل بیا علاقه وښووله او دغه ځل د خبرو په پای کې یوه ګډه څرګندونه هم خپره شوه چې په هغې کې د ((کابل روحیې)) له مخې فیصلې ته د رسېدلو ژمنه وشوه. بل کال (جون ۵/ ۱۹۷۷) بهوتو له تهران نه پاکستان ته د تګ په لاره کې په کابل کې د لږ وخت لپاره تم شو او محمد داود ته یې وعده ورکړه چې په پاکستان کې د ګډې وډې وضع په عادي کېدلو سره به د پښتنو

او بلوڅو ټول سياسي بنديان ازاد شي. ددې لپاره چې د نورو لانجمنو کشالو د هوارولو لپاره لاز هواره شوې وي. خو د جولاى په ۵مه د هغه حکومت د هغه د لوى درستيز جنرال محمد ضياء الحق په کودتا سره نسکور او دى بندي او وروسته اعدام شو.

د جنرال ضياء الحق په کودتا سره چې د پاکستان په لنډ تاريخ کې دريمه نظامي کودتا وه، نظامي حکومت اعلام شو او سياسي فعاليتونه منع شول، خو د توقع پر خلاف نوي حکومت له افغانستان سره د اختلافونو د حل لپاره د بهوتو تر حکومت نه لاډېر روغ نيتي وښوده. د «کابل ټايمز» يې تائيد کړه او د لاپياوړي کولو لپاره يې جنرال ضياء الحق تياري وښود چې غواړي له افغان ولسمشر سره ووينې. محمد داود دى په کابل کې ميلمه کړ. جنرال ضياء د ۱۹۷۷ په اکتوبر کې کابل ته راغى او له محمد داود سره يې دوه خل په خصوصي توګه وليدل. په دواړو غونډو کې صمد غوث چې انګريزي يې مورنۍ او فارسي يې پلارنۍ ژبه وه حاضر و. دى دغه وخت د باندنيو چارو د وزارت مرستيال شوى و، په دغو غونډو کې په اصل موضوع باندې خبرې ونه شوې، خو د هغې د حل لپاره دواړو خواوو ټينګه اراده وښووله. ضياء الحق د خبرو په ترڅ کې ښکاره کړه چې دى په هغو پياوړو عاملونو خبر دى چې دواړه مسلمان ګاونډي هېوادونه هڅوي چې د ورونيو شان ژوند وکړي. ده دا هم وويل چې د افغانستان او پاکستان دښمني د دواړو خواوو لپاره خطرونه لري. موافقه وشوه چې خبرې به بيا کېږي. ګډه څرګندونه هم خپره نه شوه.

د ۱۹۷۷ کال په آخر کې د بلوچستان جنګ پاى ته ورسېد او د بل کال تر پيل پورې وضع هلته عادي شوه. محمد داود د

۱۹۷۸ په مارچ کې د یو شمیر نورو هېوادونو له سفر نه وروسته د پاکستان په بلنه راولپنډۍ ته ورسېد. تر دغه وخت پورې جنرال ضیاء الحق د پښتنو او بلوڅو ټول سیاسي بندیان د عبدالولي، غوث بخش بزنجو، عطاء الله منګل او خیر بخش مري په ګډون له بند نه خلاص کړي وو. ضیاء الحق او محمد داود د صمد غوث په ګډون بیا هم په خصوصي ډول سره ولیدل. محمد داود د خبرو په ترڅ کې څرګنده کړه چې ځینې هېوادونه هغې تودوښې ته په ښه سترګه نه ګوري، چې د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې پیدا شوې وه او دا چې د ستراتیجي له نظره په سیمې کې دغسې جریانونه شته چې ددوی هېوادونو ثبات ته زیان اړولی شي. هغه دا هم وویل چې «دغه دوه هېوادونه په یو موټي کېدو او وروري سره ممکن وکولی شي له دغو خطرونو سره مقابله وکړي او خپلې خپلواکۍ خوندي وساتي.»

محمدداود د افغانستان – پاکستان تېرو اړیکو ته له لنډې اشارې نه وروسته وویل چې «که له پاکستان سره دغه اختلاف نه وای چې ملي جذبه یې غوره کړې ده، افغانستان به هغه لازه نه وای نیولې چې یې ونیوله.» خو اوس د همکارۍ وخت راغلی او ښایي د اوس لپاره یو لوړ ګډ اقتصادي او دلتوري کمیسیون جوړ شي. جنرال ضیاء الحق د محمد داود نظرونه تائید کړل او دا یې هم مهمه وګڼله چې د دواړو هېوادونو د پخلاینې لپاره اوس دغسې پوهاوی پیدا شوی چې د هغه په رڼا کې به یو وخت نهایي فیصله وشي. محمدداود د هغه له وینا نه مننه وکړه او هیله یې ښکاره کړه چې «پښتانه به یوه ورځ ددې پر ځای چې د کړکېچ سرچینه وي یوه

موټي کوونکې کړې اوسي.»

محمد داود ته موقع ورکړل شوه چې د پښتنو، بلوڅو او د پاکستان له نورو قومي مشرانو سره هم وګوري. هغه وروسته د لاهور د شالمار په پارک کې د پاکستان ملت ته په خطاب کې د ملکي او مدني مشرانو په مخ کې وینا وکړه او ټکي یې وویل چې «ستاسې قوت زموږ قوت دی، ستاسې هوساینه زموږ هوساینه ده او سیاسي ثبات زموږ ثبات دی.»

ده د پاکستان د نامتو فیلسوف شاعر محمد اقبال هغه بیتونه په فارسي کې وویل چې د پاچا محمد نادر په وخت کې د افغانستان له لیدلو نه وروسته پیلي وو:

اسیا یک پیکر اب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد اسیا
از گشاد او گشاد اسیا

په بله ورخ د پاکستان د باندنیو چارو وزارت د افغان هیئت وبالـه. هلته آغا شاهي د باندنیو چارو سکرتر، افغان هیئت ته یو متن وسپاره چې ټکي راغلي و چې «افغانستان به د ډیورند کرښه د دواړو هېوادونو ترمنځ د بین المللي پولې، په توګه وپېژني او د پښتونستان له مسئلې نه به تېر شي او دواړه خواوې به د یوه بل هېواد په دننیو چارو کې له لاسوهنې نه ډډه وکړي او دواړه خواوې ژمنه کوي چې د یوه بل پر ضد به ددښمني پروپاګند نه کوي او دواړه خواوې به د اقتصادي او کلتوري پروګرام لپاره سره همکاري کوي او پراخوي به یې.»

وحید عبدالله د متن وروستي ټکي ومنل، خو د دوو لومړیو ټکو په اړه یې وویل چې افغانستان په دغه ډول د ډیورند کرښه

منلې نه شي او د پښتونستان له مسئلې نه تېرېدلې نه شي. هغه دا هم وویل چې دغه مسئلې به یوه ورځ د دواړو خواوو له خوا په قناعت لرونکې ډول سره حل شي او دغه اوسني خبرې د همدغو موضوع ګانو د حل لپاره د لارې هوارول دي او دواړو مشرانو لاموقع مناسبه لیدلې نه ده، چې دغه مهمې مسئلې اوس حل شي. هغه مقابل لوري ته یاده کړه چې دغه کړنه د افغان د لویې جرګې له خوا باطله شوې او یوازې دغه موسسه کولی شي، خپله پخوانۍ پرېکړه واړوي. هغه دا هم وویل چې « نه د افغانستان ولسمشر او نه بل حاضر څوک صلاحیت لري چې د ډیورند د کرښې یا د پښتونستان په اړه پرېکړه وکړي. دغسې پرېکړې یوازې د افغانستان په خلکو پورې اړه لري.»

وحید عبدالله د مقابل لوري پام دېته هم واړوه چې د پاکستان حکومت د پښتنو او بلوڅو لویانو سره د هغوی د خلکو راتلونکې په اړه تر اوسه غږېدلی هم نه دی او افغانستان پخوا له دې چې د دغه متن په اړه ګام واخلي باید په معقوله اندازه پوه وي، چې له هغو په تېره له پښتنو سره څه شی منل شوي دي. د وحید عبدالله په تبصرو سره پاکستاني ماموران یو څه تروه شول او داسې یې وښووله چې افغانان ګواکې په خبرو کې رښتیني نه دي. محمد داود د وحید عبدالله تبصرې پر ځای وبللې او ورته یې هدایت ورکړ چې «پاکستاني متن ونه مني» محمد داود بیا دغه موضوع له ضیاء الحق سره پورته کړه. «هغه وخندل او وویل چې ماموران یې له حد نه ډېر لېوال دي» هغه محمد داود ته دا هم وویل چې دوی په هغه پرمختګ پوه دي چې په موضوع کې شوی او چې وخت یې راغی د دواړو خواوو له خوا به مناسب ګامونه واخیستل شي، خو د اوس لپاره

«د دوو ورونو ترمنځ د متنونو او سندونو ضرورت نه شته.»

محمد داود وروسته په یوې مطبوعاتي مرکې کې وویل چې «په هر څه باندې بحث وشو او د وخت په تېرېدلو سره به هر څه په خپل ځای وي او وخت به د هر څه غمه وخوري.» هغه دا هم څرګنده کړه چې دواړو خواوو د یوه ګډ اقتصادي کمیسون په جوړولو موافقه کړې ده، چې د کلتوري همکارۍ ډګر به هم پراخ کړي. ده دا هم وویل چې د خبرو بل دور به په اوړي کې په کابل کې وي، خو بله میاشت په ده باندې هم کودتا وشوه. (۱۵۷)

صمد غوث چې د افغانستان - پاکستان د دغو خبرو یوازنی سرچینه ده په دې نظر دی چې دغو مشرانو به د خپلو هېوادونو ترمنځ د یوازني اختلاف [پښتونستان] لپاره د حل معقوله لار پیدا کړې او په دریو یا څلورو کلونو کې به یې له منځه وړې وای» (۱۵۸) خو څنګه چې دغه موضوع په اصل کې د پښتنو او بلوڅو د سیاسي برخلیک ټاکلو، که دغو هېوادونو موافقه هم کړې وای، چا ددې ضمانت کولی شو چې پښتانه او بلوڅ به له خپل حق نه تېر شوي وای چې هغه د هغو دخلکو له خوا د خپل سیاسي برخلیک ټاکل دي.

## ایران او ځینو نورو هېوادونو ته سفر:

په چم ګاونډیو هېوادونو کې له پاکستان نه وروسته ایران د افغانستان لپاره مهم هېواد دی. په ایران کې د ۱۹۰۷ انقلاب له امله په ۱۹۲۵ کې د ترکمني اصله قاجاري کورنۍ واکمني ختمه شوه او د ایران اصله پهلوي کورنۍ واکمني پیل شوه او نظامي افسر رضا خان پهلوي د ایران پاچا شو. خو دی

په ۱۹۴۱ کې د دوهمې نړیوالې جګړې په تودوښې کې د شوروي اتحاد او برتانیې په فشار سره له واکمنۍ نه ګوښه شو او له ملک نه په وتلو مجبور شو پر ځای یې مشر زوی محمد رضا پهلوي پاچا شو. محمد رضا شاه په ۱۹۵۳ کې د ملت پال صدر اعظم محمد مصدق سره د اختلاف له امله له هېواد نه په وتلو اړ شو، خو د پاچایي پالو نظامي افسرانو او د امریکې د (سي - آی - اې) په همکارۍ په دریو ورځو کې په ډراماتیکې ډول بېرته پاچا شو. له هغه وروسته د هغه حکومت د ځمکو او نور اجتماعي، اقتصادي او پوهنیز سمونو نه پلې کړل، په داسې حال کې چې د پولیسي او امنیتي څواک (ساواک) له لارې یې خپل مخالفان ځپل. په دغه لار کې یې د تېلو له پریمانو پیسو په تېره د اویاومې لسیزې په مینځ کې چې په نړۍ کې د تېلو بیه ډېره لوړه تللې وه، له امریکې نه یې د عصري وسلو په رانیولو سره ایران په سیمه کې په یوه نظامي ځواک بدل کړ. رضا شاه چې د امریکې دسیاست پلوي او د شوروي د سیاست او د کمونزم مخالفت کاوه، هڅه کوله چې ایران پخواني سترتوب ته ورسوي، خو د ۱۹۷۷ کال له منځ نه وروسته پاچا او حکومت یې د ایت الله روح الله خمیني په سروالۍ د ملایانو، روحانیونو او ښکته متوسطې ډلې خلکو له تینګ او پرله پسې مقاومت سره مخامخ شو، ترڅو د ۱۹۷۹ کال په جنوري کې پاچا له ایران نه په وتلو اړ شو او په بل کال کې مړ شو او د امام خمیني په سروالۍ په دغه هېواد کې دغسې یوه نوې مذهبي دوره پیل شوه؛ لکه چې لږو ډېر د پنځلسمې پېړۍ په پای کې د صفویانو مذهبي واکمنۍ پیل شوې وه. (۱۵۹) په همدغه صفوي وخت کې و چې شیعه ګري د سني توب پرځای د ایران

رسمي مذهب شو.

د افغان – ایران اړیکې د محمد داود په ولسمشرۍ کې ډېر ښه شول. دا وروسته له هغه و چې ایران ونه شو کولی مخلوع پاچا محمد ظاهر د محمد داود پر ضد ولمسوي او د بیا پاچا کېدو په لار کې ورسره مرسته وکړي. د افغانستان د جمهوري نظام له هسکېدو نه یو کال وروسته (۱۹۷۴) محمد نعیم د محمد داود د خاص استازي په توګه د وحید عبدالله په ملګرتوب له ایران، عراق، لیبیا، الجیریا، مصر، سعودي عربستان او کویټ نه لیدل وکړل او ټولو دغو هېوادونو له افغانستان سره د مرستې کولو میل وښوده؛ ډېرو یې څرګنده کړه چې له پاکستان سره د افغانستان د اړیکو ښه کېدل به د مرستو کول لاآسان کړي. ایران، عربستان، کویټ او عراق د خپلو تېلو په ډاډینې له افغانستان سره د مالي مرستو کولو ژمنې هم وکړې. (۱۵۹ الف)

د ۱۹۷۵ کال په اپریل کې په خپله محمد داود ایران ته په رسمي سفر لاړ. په دغه وخت کې لکه چې دمخه یې یادونه وشوه، په نړۍ کې د تېلو بیه لوړه تللې وه او ایران افغانستان ته ددوه ملیارد ډالرو کریډټ ومنه چې یو ملیارد او اوه سوه میلیون به یې د هرات، کندهار، کابل رېل وې په غزولو او پاتې اوه سوه میلیون به په اوه کلن او نورو پروجو لګېږي. افغان رېل وې به د ایران له رېل وې سره نښتې وي چې د عباس بندر پورې رسېږي. ددغې رېل وې غټ اهمیت دا و چې افغانستان به یې د یوه ګوښه شوي او په وچه محاط حال نه ایستلی او په پاکستان باندې له اتکا نه تر زیاتې اندازې ژغورلی وي. له ایران نه تر افغانستان پورې د رېل وې لومړنۍ سروې د یوې فرانسوي

کمپنۍ له خوا د لسو ملیونو ډالرو په بدل کې هم تر سره شوه، خو د ۱۹۷۷ له منځ نه وروسته چې د ایران په قم او تبریز کې د محمد رضا شاه پر ضد د مظاهرو په نتیجه کې په سلګونو ایرانیان د امنیتي قوتونو له خوا تلف شول او د مظاهرو لړۍ اوږده شوه د رپلوې غزولو لومړی پړاو ودرول شو. د تهلو د بیې په لړېدلو سره د ایران مرسته هم په شک کې شوه. پر هغه سربېره د ایران د امنیتي وضع په خرابېدلو سره په ایران کې د شوروي اتحاد یا د امریکې د مداخلې اندېښنه هم پیدا شوه. سره له دې هم د ایران او افغانستان دوستي د ټینګېدلو په حال کې وه، په تېره وروسته له هغه چې ایران په خینو ورو سرحدي پېښو کې روغ نیتي وښوده او افغانستان په ۱۹۷۷ کې د هلمند د اوبو په سر د شوي تړون سندونه لاسلیک او مبادله کړل. (۱۲۰)

د ۱۹۷۸ کال لومړۍ میاشتې د محمد داود لپاره د ډیپلوماسۍ ډېر فعال وخت و. محمد داود په دغه وخت کې د یوه هیئت په مشرۍ مصر، لیبیا، یوګوسلاویه، هند، سعودي عربستان او کویټ ته هم په رسمي سفر لاړ. په خینو هېوادونو کې یې د خپلو پرمختیایي پروجو په تېره د اوه کلن پلان د پلي کولو لپاره مرستې وغوښتلې او ډېرو په تېره عربستان او کویټ د غتو مرستو وعدې هم ورکړې. د مصر ولسمشر انور سادات محمد داود ته دا هم وویل چې روسانو په مصر کې د ۱۹۷۰ په لسیزې کې هم په ملکي او هم په نظامي څانګو کې د واکمنو په شان چلند کاوه. (۱۲۱) په افغانانو کې اوس هم ویل کېږي چې د افغان هیئت یوه غړي، محمد خان جلالر د محمد داود د سفرونو راپورونه مسکو ته ورکړل، خو جورنلست نیار وایي چې افغان کمونیستان له دغو خبرو نه تر هغو چې محمد داود فکر

کاوه لا ډېر خبر شوي وو. د رحیم رفعت په نامه د محمد داود یو ترجمان د هغو جاسوس و او هغه په شپاړسو مخونو کې د دغه سفر راپور بېرک ته ورکړ او هغه د وظیفې له مخې «خپلې دغه مونډنې مسکو ته انتقال کړې.» (۱۲۲) رفعت هم د باندنیو چارو په وزارت کې د شاه محمد دوست په شان پټ پرچمي وچې مهم حکومتي رازونه یې د کارمل له لارې (ک.ج.ب) ته رسول. دوی او داسې هم نورو پټو پرچمیانو ملکي او نظامي څانګو کې ګوندي وفاداري تر ملي وفادارۍ نه غوره ګڼله.

## د امریکې متحدو دولتونو سره اړیکې:

له پاکستان، ایران او مهمو عربي هېوادونو سره د اړیکو نه پېدل د افغانستان او امریکې متحدو دولتونو په اړیکو هم اغېزه وکړه. افغانستان له امریکې سره لنډ تاریخ لري. د پاچا امان الله په واکمنۍ کې محمد ولي د پاچا د څانګړي استازي په توګه اروپا ته له سفر نه وروسته امریکې ته په سفر لاړ، خو څنګه چې افغانستان په دغه وخت کې د امریکې په دیپلوماتیکي نقشه کې مهم ځای نه لاره، د محمد ولي سفر ګټه ونکړه. امریکې په کال ۱۹۳۴ کې د فرانکلین روزولت په ولسمشرۍ کې افغانستان په رسمي ډول وپېژنده. سره له دې هم په کابل کې یې د سفارت له پرانیستلو نه ډډه وکړه. د نړۍ وال دوهم جنګ په منیځ کې یې د افغانستان دستراتیجیکي اهمیت په درک سره خپل لومړنی سفیر د کورنیلیوس انګرت په نامه په کابل کې هستوګن کړ. له جنګ نه وروسته امریکا د ولسمشر ترومن د څلور ټکو تر پروګرام لاندې افغانستان ته د مرستو ورکول پیل کړل او د موریسن کنودسن په نامه یوې امریکایي

کمپنۍ د هلمند په ناوه کې د اوبو او کرنیزې پروژې هم پیل کړې، خو امریکې د پنځوسمې لسیزې په وروستیو کلونو کې افغانستان ته شا کړه او له پاکستان سره یې توده ونیوله. دا هغه وخت و چې افغانستان له پاکستان سره د پښتونستان د کشالې په سر لانجه لرله او امریکا په دغې مسئلې کې د پاکستان خوا ونیوله. پاکستان امریکې ته ځکه خان نږدې کړی و، چې د امریکې تر څارنې لاندې یې د سنتو او سیټو په نظامي تړونونو کې ګډون کړی و، چې د هغو اصلي مطلب په نظامي تړونونو سره د شوروي اتحاد چاپېرول و. افغانستان اړ شو چې شوروي اتحاد ته مخ واړوي. سره له دې هم څنګه چې له افغانستان سره د امریکې اړیکې ټکور وو او د امریکې له خوا د افغانستان خاورې ته هیڅ خطر نه و، افغان لویانو په افغانستان کې د امریکائیانو د شته والي لپاره کوښښ کاوه او امریکې هم له افغانستان سره په خاص ډول په پوهنیزو او کرنیزو ساحو کې مرستې کولې. (۱۲۲ الف) امریکې د قانوني پاچایي په لسیزې کې له افغانستان سره تر هرې بلې دورې نه ښه اړیکې ټینګ کړې وو.

امریکې د افغانستان د جمهوریت په هسکېدلو سره د یو شمېر نورو لویدیځو حکومتونو په شان انتظار وکېښ. په دغه وخت کې افغان چپي چارواکو کوښښ کاوه ددواړو هېوادونو تر منځ اوبه خړې کړې په داسې حال کې چې محمد داود او ورور یې محمد نعیم کوښښ کاوه. امریکا په افغانستان کې ټینګ حضور ولري. په کابل کې د امریکې نوي سفیر، تیودور ایلیټ، دواړه ډاډه کړل چې امریکا د افغانستان د خپلواکۍ او د نابیلتوب د سیاست درناوی کوي او غواړي په خپلو مرستو

سره د افغانستان په ثبات کې برخه ولري. د ۱۹۷۴ کال په نومبر کې د امریکې د بانډنیو چارو وزیر هنري کسینجر افغانستان ته په رسمي سفر راغی. هغه محمد داود ته ډاډ ورکړ چې امریکا غواړي، د افغانستان له اقتصادي او اجتماعي پرمختیایي پروګرامونو سره مرسته وکړي. هغه هم ډاډ ورکړ چې امریکا د افغانستان خپلواکي، ناپیيلتوب او ثبات ته ارزښت ورکوي. ددوی د خبرو غټه موضوع د افغانستان - پاکستان اړیکې وو. د پاکستان صدر اعظم ذوالفقار علي بهوتو کسینجر ته شکایت کړی و، چې افغانستان د پاکستان دبې ثباته کولو لپاره د پاکستان مخالفان (پښتانه او بلوڅ) روزي او د ورانکارۍ لپاره یې بېرته پاکستان ته استوي.

په دغه وخت کې د افغانستان – پاکستان اړیکي ترخه وو. محمد داود د اوږدې شرح په ترڅ کې وویل چې پښتانه او بلوڅان د پاکستان حکومت د زور زیاتي له امله افغانستان ته پناه راوړي او څنګه چې افغانستان « ددوی خپل هېواد » دی نو یې منو او ددوی جنګیالان بیا د خپلو خاورو د دفاع لپاره خپلو وطنو ته ځي، نو ددوی د کشالې چاره داده چې پاکستان له دوی سره زور زیاتی ونه کړي. محمدداود دا هم وویل چې افغانستان په هیڅکله ددوی د مشروعو هیلو له ملاتړ نه لاس وانه خلي؛ ځکه چې دوی زموږ د هر نژدې خپلوان دي. محمد داود د خپلو خبرو په پای کې زیاته کړه، چې د ګډو دوستانو روغ نیتي په ګټور وي چې دواړه هېوادونه د خبرو میز ته وهڅوي. کسینجر له دغه نظر نه خوښي ښکاره کړه، چې افغانستان له پاکستان سره د خبرو له لارې د کشالې هوارول غواړي. ده دا هم وویل چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ

درستي به د ثرې په دغې مهمې سیمې کې د سولې او ثبات له ټینګښت سره مرسته وکړي او د امریکا حکومت به یې هر کلی وکړي. (۱۲۳)

د کسینجر له سفر نه وروسته د ښوونځیو د درسي کتابونو، د کابل پوهنتون د پراخولو، کلیوالي پرمختیا، اطرافي ښوونځیو، په اطراف کې د روغتیایي مرکزونو د پرانستلو او د هلمند ناوې کې د نهرونو ایستلو په هکله د امریکې د مرستو په باب ددوارو خواوو ترمنځ موافقت لیکونه لاسلیک شول. صمد غوث وایي چې د امریکې مرسته که څه هم ډېره نه وه، د هغې له سره نیول کېدل د افغان مشرانو د خوښۍ سبب شو. امریکې تر ۱۹۷۸ پورې څه کم ۵۳۳ میلیون ډالر ولګول چې له هغو نه یو اویا سلنه یې بې عوضه بخشش و. (۱۲۴)

محمد نعیم بل کال (۱۹۷۲) امریکې ته وبلل شو. د سفر اساسي موضوع د نشه یي موادو په هکله وه. افغانستان په ۱۹۴۷ کې د امریکې د کانګرس په غوښتنه د کوکنارو کرل منع اعلام کړي و. خو دغې موضوع اوس ستونزې لرلې په تېره په بدخشان کې چې د کرنې مځکې د لږوالي له امله بزګرو د کوکنارو له کرلو نه پرته بله چاره نه لرله. حکومتي پولیس هم دغومره ډېر او قوي نه و، چې د کوکنارو د کرلو مخه ونیسي. افغانستان دغومره شتمن هم نه و چې بزګرو ته د کوکنار د نه کرلو په بدل کې نغده ورکړي. یو شمېر هیوادونو د جرمني او امریکې په ګډون د ملګرو ملتونو موسسې ته پیسې ورکولې چې افغان پولیس وتوانوي چې د کوکنارو د کرلو مخه ونیسي. په عین حال کې د باندنیو چارو په وزارت کې یوه اداره

پرانیستله شوه چې د کوکنارو د کرلو مخنیوي لپاره لارې چارې وسنجوي. په دې اړه ښه پرمختګ هم وشو خو د ثور کودتا یې مخه ونیوله. (۱۲۵)

کسینجر د دوهم ځل لپاره په ۱۹۷۲ کې د افغانستان په بلنه کابل ته راغی، ده د افغانستان–پاکستان د اړیکو له ښه والي نه د امریکې خوښي ښکاره کړه او د امریکې مرستو د یادولو په ترڅ کې یې د هلمند ناوې پروژه وستایله. په هغې ګډې څرګندونې کې چې د هغه د سفر په پای کې خپره شوه «د افغانستان په اقتصادي او اجتماعي پرمختیا کې د امریکې د برخې اخیستلو علاقمنې» تائید شوه. د امریکې دغه علاقمنې افغانانو ته له دېنه هم جوته وه چې د امریکې حکومت خپل دوست شتمن عربي هېوادونه [عربستان او کویت] په ټینګه هڅول چې له افغانستان سره د هغه پرمختیایي پروژو کې مرسته وکړي. کسینجر د امریکې ولسمشر بلنه هم محمد داود ته وسپارله چې امریکې ته په سفر لاړ شي. (۱۲۲)

محمد داود چې افغانستان یې د صدر اعظمي په وخت کې په فکر نه کېدونکي اندازه شوروي اتحاد ته نږدې کړی و، د ولسمشرۍ په دوره کې په دې لټه کې شو چې له هغه نه یې لیرې کړي بې له دې چې د هغه پر ضد کوم سیاست غوره کړي او د ناپېیلتوب سیاست پرېږدي. د جمهوریت په دوره کې یې په دې پیل وکړ چې افغانستان د پاکستان، ایران، عربي او لویدیځو هېوادونو پر لور پرمخ بوځي او د هغو په روغ نیتیو او پولي مرستو سره هېواد ودان کړي، خو ددغې متوازن باندني سیاست پرمخ بیولو کې چې د افغانستان لپاره په اصل کې دهغه د جغرافیوي موقعیت له امله تر هر بل سیاست نه غوره

دی، د ثور کودتا محمد داود هغه‌سې نابریالی کړ؛ لکه دده کودتا چې صدر اعظم محمد موسی شفیق یې نابریالی کړی و. سره له دې هم د محمد داود د سفرونو ونډو وله چې افغانستان بو خپلواک هېواد او په خپل ناپېیلي سیاست باندې ټینګ ولاړ دی. په دغه چلند سره د افغانستان بین المللي حیثیت نور هم لوړ شو. د سفرونو عملي اړخ د پرمختیایي پروژو لپاره د کریډټونو او مرستو جلبول و، چې د هغو په اتکا د پلان وزیر علي احمد خرم اوه کلن پرمختیایي پلان ایستلی او په ۱۹۷۲ کې یې په پلي کولو پیل کړی و. دغه پلان د ژوندانه د ټولو اړخونو لپاره پروژې لرې. لویه برخه یې د کاکرو مخکو اوبه کول او زراعتي کول او اصلي او تخنیکي پوهنې ته وده ورکول و. منظور دا و چې افغانستان به د پلان تر پایه پورې د خوړو موادو له نظر نه په خان بسیاوي او د بېلو بېلو څانګو لپاره به په کافي شمېر تعلیم کړي مسلکي افغانان ولري. خو دا چې دغه پلان به په ټولنیز ډول تر کومه حده پورې عملي شوی وای، یقیني نه وه. د هغه لګښت په باندنیو کریډټونو او بې عوضه مرستو سره کېده او هغه یقیني نه و؛ لکه د ایران بلله دا چې د پلان د پلي کولو لپاره افغانستان په کافي شمېر مسلکي او تخصصي کدرونه نه لرل او له دې امله څیني هېوادونه؛ لکه امریکا د افغانانو په سروې قانع نه وو. (۱۲۲ الف)

# د جزا قانون، په کودتا باندې کودتا او د محمد داود پای

د افغانستان د جمهوري حکومت لپاره په دې چې په کودتا سره واک ته رسېدلی و او په باندنیو او دننیو ډګرونو کې یې خپل لوري اړولي و، د امنیت خوندي ساتل په اوله درجه مهم و. چاروا کو ته مالومه وه چې د خلق او پرچم مسکو پلوه ګوندګي پرخای پاتې او اسلام پالان او ملت پالان خپل شوي وو. د لومړنیو پوازې مالوم کسان چې وزیران وو، یا له کار نه ګوښه کړل شوي یا سفیران شوي و. په پوځ کې یې هم یو څو مالوم چپي افسران په غیر مهمو پوستونو وګمارل او نور یې پر خای پرېښوول، نو حکومت هغوی پارولي و بې اثره کړي نه و. دا په دغسې وخت کې و چې منظم پوځ چې شمېر یې څه کم یو لک و، په زیاته اندازه سیاسي شوی و. د نبي عظیمي په یو څه مبالغه ییزې وینا «در ان موقع اردوی افغان خواسته یا ناخواسته در سیاست داخل شده بود. اردوی که روزی در ان خواندن اخبار اصلاح و انیس جرم تلقی میشد، اکنون با نفوذ دسته جات گوناگون سیاسی و تبلیغ اندیشه ها و ایدیالوجی های رنگارنگ ... دیگر نمیتوانست مانند گذشته در بند انضباط و دسپلین اهنین نظامی باشد و یا مجبور با طاعت کور کورانه و اجرای او امر دولت ها و حکومت خاصتاً که در راس اردو وهیات رهبری اشخاص بیسواد و بی معرفتی مانند

غلام حیدر رسولی قرار داشت.» (۱۲۷) یوازې د پوځ واره افسران سیاسي شوي نه وو، په خارندویانو کې هم سیاست تو تللی و. د همدغو واقعیتونو او نورو له امله به و چې حکومت د جزا قانون وایست او په څرخي پله کې يې د یوه عصري محبس په نامه د خپو ودانیو په ودانولو پیل وکړ. دواړه تدبیرونه نوي او وېرووونکي وو.

د جزا قانون د پنځه سوه او درويشت مادو په لړلو سره د جزايي موضوع ګانو په اړه یو جامع او بې ساري قانون و. ددغه قانون ۵۲ مادې يوازې د امنیت د خوندي ساتلو لپاره ځانګړې شوې وې. په ۲۲۱ ماده کې يې حکم شوی و چې «شخصیکه سازماني را بنام حزب، جمیعت، هيات یا گروه ايجاد، تاسیس، تنظیم یا اداره نماید که هدف آن منقلب ساختن یا ازبین بردن یکی از ارزش های اساسی ملی قبول شده سیاسی، اجتماعی، اقتصادي و کلتوري دولت باشد یا برای ترویج و گرایش آن بهر وسیله که باشد تبلیغات یا نشرات نماید، حسب احوال به حبس طویلیکه از ده سال بیش نباشد محکوم میگردد.» د جمهوریت په وخت کې له رسمي ګوند نه پرته بل هیڅ ګوند قانوني نه و، خو سیاسي ګوندونه شته وو او په پټه يې فعالیت کاوه چې د دغه قانون د ۲۲۹ مې مادې له مخې په دې ډول محکوم وو: «د پټ جمیعت هر غړی په حبس چې له یوه کال نه زیات نه وي، یا (په) نقدي جزا چې له دولس زره افغانیو نه تجاوز ونه کړي محکومېږي.» ددغه قانون له مخې ټول موجود ګوندونه او سیاسي جمیعتونه پټ او د محکومیت وړ ګوندونه کېدل، په یوې مادې (۲۲۹، دریمه برخه) کې يې راغلي و چې «هر جمیعت چې خپل ټول یا یو قسمت فعالیتونه

په پټه توګه تر سره کې او یا یې هدف نه مغایر وي او یا خپل غرض په دروغجنو یا ناقصو اظهاراتو په وسیله د مربوطو مقاماتو څخه پټ کې یا اساسنامه د فعالیت په وسیله یا د غیرو نومونه یا وظیفې یا د خپلو غونډو موضوع ګانې پټې کې د پټ جمیعت په حکم کې وي.» د توجه وړ ده چې په دغه قانون کې سیاسي ګوندونه په څرګند ډول منع شوي نه دي، بلکې په ضمني ډول منل شوي دي، خو بنکاره غونډې د ۲۳۰ مادې له مخې په دې ډول محدودې او د قانوني تعقیب وړ دي چې «که پنځه یا تر هغې نه زیات کسان په یوه عمومي محل کې د امنیت د اخلال په مقصد غونډه وکې او د امنیتي قواوو له خوا ورته د تیتدلو امر وشي د هغوی هر یو چې امر ورته ابلاغ شوی او ور څخه سر تا وکې د حالاتو سره سم په لنډ حبس یا نغدي جزا چې دولس زره افغانیو نه زیاته نه وي محکومېږي.» (۱۲۸)

ددغو او نورو مادو پر اساس چې تولې یې دقیقې نه دي او پولیس ته یې د هر واک ورکاوه، ګوندي فعالیتونه د پولیس تر تعقیب او د محکمو تر حکم لاندې راتلل. په دې ډول سیاسي ګوندونه په تېره د پرچم او خلق ګوندګې له مرګ سره مخامخ وو. د وروستیو د پاتې کېدلو یوه لاره په نظامي افسرانو کې په پټه فعالیت کول او بله یې سره یو موټی کېدل شول. ددغو ګوندګیو یا ګوندونو په اړه په بل اثر کې د ثور د کودتا په نامه پوره ګرېدلی یم. دلته به دغومره ووایم چې دغه دواړه ګوندونه چې په واقع کې مسکو پلوه کمونستي ګوندونه وو د افغانستان خلق دموکراتیک په نامه د ۱۹۶۵ کال د جنوري په اوله ورځ په کابل کې تاسیس شوي و، خو دوه کاله وروسته په ۱۳۴۶ (۱۹۶۷) کې دوه ټوټې شو، چې یوه یې د ببرک کارمل په مشري

د پرچم او بله یې د نور محمد تره کي په سروالۍ د خلق په نامه یاده شوه. هر ګوند ګي د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند د نامه ادعا کوله، خو له لس کاله بېلتون او مخالفت نه وروسته د عراق، هند او شوروي کمونستي ګوندونو په سپارښتني سره بېرته یو شول.

دغه یو موټي والی واقعي نه و، د عظیمي په وینا «از همان اغاز وحدت بصورت میکانیکي بوجود آمده بود، زیراکه هر دو حزب حوضه های حزبی خود را بطور جداګانه دایر میکردند و سازمان های نظامی خویش را از همدیگر مخفی نګاه میداشتند. اعضای هر دو حزب مخلوط نشده بودند.» په هر حال د بیا یو موټي شوي ګوند عمومي منشي نور محمد تره کي غوره شو او ببرک کارمل د ګوند دوهم شخص شو.(۱۲۹)

خو پولیس د جزا قانون سره سره یاشاید د هغه له امله ګوندي غونډې په خپل حال پرېښوولې، که څه هم د هغه د زیاترو لویانو د پټو غونډو راپورونه ورته رسېدل، چې د عامه نظم او په خاص ډول د جزا د قانون پر خلاف وو.

عاصم اکرم لاوایي چې «داود خان از فعالیت ها و سخن های ضد دولتی کمونست ها مطلع بود.» (۱۷۰) محمد داود شاید فکر کاوه چې افغانان به دده په اقتصادي او اجتماعي سمونو سره راضي او حکومتي مخالفان بې اثره وي.

په دغه وخت کې په کابل کې یو امریکایي ډالر تر پنځه دېرش افغانیو پورې بښکته شوی و، چې دا د افغانی په برابر کې د ډالر بېساري ټیټه بیه وه. سره له دې هم حکومتي ضد پروپاګندونه اوفعالیتونه کېدل. سیاسي ډلې لکه بښتنې پال اسلام پالان، شعله یان یا ماوستان او ستمیان یا افغان دښمنان

په پټه فعال وو. خلقیانو او پرچمیانو هم ورانی کاوه. په نتیجه کې اول په اطراف کې امنیتي ضد کړه او ترورونه وشول. مجید کلکاني چې د ساما عیار ډوله چپي ډلې مشر و، کابل ته نژدې په کوهدامن کې فعالیتونه پیل کړل، لږو ډېر په هغه ډول چې حبیب الله کلکاني د پاچا امان الله پر ضد کول. حکومت هغه ونیولی ونه شو، خو دېته یې اړ کړ چې له هېواد نه بهرون شي، تر هغه د مخه متقاعد جنرال میر احمد شاه په یوې نابریالی کودتا لاس پورې کړی و.

په دغه وخت کې (۱۹۷۷) په کابل کې اوازه شوه چې د زمان خان په ښارګوټي کې په څو روایتونو اوه اویا او په یوه روایت پنځه سوه جسدونه کشف شول. « د زمان خان کلا... د عصبي لاعلاجه روحي ناروغانو لپاره متخصصین ورګمارل شوي او د کورنیو چارو وزارت مربوط وه عدلي طب د مرګ علتونه وهل، د لاسونو او پښو او حتی د خینو ملاماتول، یخني، سوء تغذیه او د خوړو نشت والی وباله.» دغه مړي له کفن او اسلامي سنتونو نه پرته خښ شوي وو. د چارواکو له کوښښونو سره سره چې دغه پېښه خپره نه شي، هغه خپره شوه. محمد داود په دغې تراجیدي سره په زور ډول غمجن شو، خو څوک محاکمه نه شول او د حکومت اعتبار ته سخته صدمه ورسېدله. (۱۷۱) دغه فکر عام شو چې امنیتي چارواکي د اساسي قانون په شته والي سره هم خلک په ډول ډول کړوي او د مرګ غېږې ته سپاري.

په خینو ولایتونو کې د بدامنۍ وړې پېښې عامې وې او «داود خان او دده دولت پرضد پروپاګند او شپه لیکونو [خپرېدل] دود موندلی و.» (۱۷۱) په دموکراتو او سر خلاصو

تولنو کې دغسې پروپاګندونه عادي او بې اثره وي، خو په پښتو ټولنو کې هغه د حکومتي ناتواني، د چارواکو د ناوړتیا، د مخالفانو د زړه ورتیا او ورانۍ نښې او د غټو پېښو پیلامه وي. په افغانستان کې له هغه وروسته د بدامنۍ ناوړې پېښې یو په بل پسې راغلې، ترڅو په پای کې حکومت د ثور په کودتا سره نسکور او ولسمشر داود د خپلې کورنۍ له غړو او یو شمېر وزیرانو سره له منځه یووړل شو او په هېواد کې د ناارامۍ او مرګ ژوبلې یوه اوږده دوره پیل شوه.

د ۱۹۷۷ کال په اګست کې د اریانا هوایي شرکت پیلوټ؛ انعام الحق ګران، د کابل په مایکرو رویانو کې د خپل اپارتمان په مخ کې په شپه کې ترور یانې ووژل شو. په یوه روایت وژونکي په ده باندې د ببرک کارمل ګمان کړی و، چې هغه هم په هغه بلاک کې اوسېده. هر څه چې و، وژونکی نیولی ونه شو او د وژونکي ریښتیني مقصد مالوم نه شو. د جبل السراج د سیمنټو د فابریکې سروال، شیر آغا هم په خپل کور کې ترور شو. دی د محمد داود د ملي کلب د وختو ملګری و. د نومبر په میاشت کې مرجان نومي ښوونکي د پلان وزیر علي احمدخرم په داسې حال کې چې له یوه جاپاني هیئت سره په خبرو بوخت و، د توپانچې په زور له دفتر نه وایست او د محمد داود د لیدلو لپاره یې د ارګ په لور وان کړ، خو په لاز کې یې د خلکو په ګڼه ګونه کې په توپانچې سره وواژه او په خپله وتښتېد. دا یوه پوره حیرانوونکې او په افغانستان کې بېساري پېښه وه. مرجان وروسته په خپله حکومت ته تسلیم شو، خوځنګه چې په تحقیق کوونکو پولیسانو کې پرچمیان – یعقوبي، باقي، نبي، اتمر، همکار او قطره تر نورو ډېر وو « د مرجان په تش حبس قناعت

وشو.) که څه هم د هغه په اقرار هغه دغه وژنه کړې، خو هغه یې د امریکې د ولسمشر په هدایت د ګلبدین حکمتیار او وکیل محمد اعظم شینواري په مرسته کړې ده. د مولف هارون په نظر دا

«د ک ج ب یوه محاسبه شوې وژنه وه.» (۱۷۳)

لکه چې د مخه مې ویلي، خرم لومړنی وزیر و چې محمد داود ته مشوره ورکړې وه، چې له شوروي اتحاد نه فاصله ونیسي او له عربي او لویدیځو هېوادونو سره افغانستان نږدې کړي. محمد داود که څه هم د خرم د ښخېدلو په وخت کې له امریکا او شوروي اتحاد نه شکایت وکړ، د شوروي اتحاد په هکله یې وویل چې «د شوروي اتحاد مرستې هم ددرې په شخصي غرضونو کې نغښتې دي.» (۱۷۴)

د جمهوري نظام وروستۍ ډېر اثرناک ترور د خلق دموکراتیک ګوند تیوري پوه میر اکبر خیبر و، چې د ۱۳۵۷ د وري د میاشتې په ۲۸مه (اپریل ۱۷ ، ۱۹۷۸)، د کابل ښار د دولتي مطبعې مخامخ سړک کې د مازیګر مابنام تر منځ له یوه روان روسي جیپ نه پرې ډزې وشوې. دغه ترور د پرچم ګوندګي ډلته په اصل کې د خیبر او کارمل ترمنځ د اختلاف نتیجه وه. چې په غالب احتمال د کارمل د نږدې ملګرو نور احمد نور او امتیاز حسن له خوا عملي شو. ما دغه موضوع او داسې هم د ثور د کودتا بهیر په یوه بل اثر کې د ثور د کودتا په نامه پوره بیان کړی چې هغه به له دغه اثر نه وروسته خپور شي. دلته به دغومره ولیکم چې د خیبر د ښخېدلو مراسم او فاتحه د خلق دموکراتیک ګوند لخوا په دغسې لوړ شان سره واخیستله شوه چې دواړه د قدرت نیولو او حکومت ته د چیلنج ورکولو په مانا

وو. حکومت څو ورځې وروسته د جزا قانون له مخې د ګوند یو څو د سر کسان بندي کړل او تر تحقیق لاندې ونیول، په داسې حال کې چې دغه ګوندي لوېان د تره کي او کارمل په ګډون په جیل کې و، حفیظ الله امین د خلق د ګوندګۍ د نظامي څانګې آمر، د کودتا قومنده ورکړه. د ثور په اوومه او د اپریل په ۲۷مه کودتا بریالۍ شوه او جمهوري نظام نسکور شو. په کودتا سره د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند د نور محمد تره کي په سروالۍ په واک شو. دلته به یوازې دغه ټکی وسپړو دل شي چې د جمهوریت امنیتي خواکونه ولې د امنیت په ساتلو کې پاتې راغلل او د ثور کودتا چې فکر یې نه کېده، بریالۍ شوه.

د ثور کودتا د سرطان کودتا په شان نظامي کودتا وه؛ ملکي او ولسي خلکو پکې هېڅ برخه نه لرله. هغه ډېر و تبه حیرانوونکې او نه فکر کېدونکې او حتی ناڅاپي پېښه وه. عملي کېدل یې هم هغومره چې د نظام د امنیتي خواکونو د ناوړتیا او په خپله د محمد داود له خوا د غوڅ تصمیم د نه نیولو له امله و، نه هغومره د کودتاچیانو د فعالیت له امله که څه هم هغو خپل ماموریت په پوره زړه ورتیا سره تر سره کړ. د امنیتي خواکونو یاني د پوځ، ځارندوی او د ملي مصونیت سروالان په ترتیب سره غلام حیدر رسولي، عبدالقدیر نورستاني او محمد اسماعیل فرمان وو.

فرمان که څه هم محمد داود او نظام ته ربنتینی و، په حساس او بحراني وخت کې اغیزناک کار ترسره کولی ونه شو، علت یې شاید داوې چې دده په ملي مصونیت اداره کې کمونېستانو ځای نیولی وو او چارواکو ته د هغو پېژندل او له مقامونو نه لېرې کول ګران وو. (۱۷۵) د ځارندوی لوی

قومندان تورن جنرال محمد طاهر د هارون په وینا «زړو بې کفایته غیر مسلکي منصبدار و چې فقط د پرچمي څارندویانو د لاس غرګی و.» (۱۷۶) د څارندویانو لوی آمر عبدالقدیر نورستاني که څه هم د کورنیو چارو وزارت ته په وړتیا سره رسېدلی نه و، د نظام د تینګښت لپاره هلې ځلې کولې. د خلق دموکراتیک ګوند لویانو په اړه یې راپورونه په منظم ډول تهیه کول او ولسمشر ته استول.

د نور محمد تره کي، ببرک کارمل، حفیظ الله امین او داسې هم د شوروي اتحاد سفارت یې تر څارنې لاندې نیولي و او د کمونستي لویانو په اړه یې غوڅ عمل غوښته. هغه لا په یوه روایت ویلي و چې «اګر صلاحیت میداشتم همین امروز کمونست ها را ګرفتار و از دم تیغ میکشیدم باز هر چه شده بود میشد.» (۱۷۷) خو محمد داود غوڅ عمل نه غوښته.

د امنیت د خوندي ساتلو په برخه کې د ملي دفاع وزیر رول تر نورو ډېر مهم و، خو هغه لکه چې د مخه ویل شوي، د دغه مقام وړ نه و. د پوځي افسرانو هم ښه نه ایسېده. په اړه یې ځینې لیکنې حیرانوونکي دي؛ لکه د هارون دغه وینا چې «د غوسې او غضب په وخت کې به یې په منصبدارنو خوله لګوله او یا به یې د هغه غوږ په خوله چیچی.» (۱۷۷ الف)

رسولي بدې هم اخیستې، ډګروال عبدالقادر یې د بدو په بدل کې د دفاع وزارت د مسلح له سروالي نه لېرې کړ او د هوايي خواکونو د ارکان حرب رئیس وټاکه، هغه بیا له دغه مقام نه په استفادې سره د نظامي الوتکو له لارې د ثور په کودتا کې په غوڅه توګه کار واخیست. د رسولي په وخت کې چپي افسرانو په پوځ کې ښه وده وکړه، تر دې حده چې د فرهنګ په

وینا «عناصر پرچمي و خلقي توانستند در دوره قدرت او از راه های مختلف از جمله ارتشا مواضع شان را تقویت نمایند.» (۱۷۸) د وزیرانو په سویه هم له هغه نه سر تکول کېده، خو هغه په تل محمد داود ته داډ ورکاوه چې «کاملاً بر اردو کنترول دارد و هیچ گونه خطری از این ناحیه متصور نیست.» (۱۷۹)

رسولي محمد داود ته رښتیني هم نه و او غوښتل یې د هغه ځای ونیسي. د عاصم اکرم په وینا «در اواخر دوره جمهوریت جنرال غلام حیدر رسولي کودتای را در نظر گرفته بود چه بنظرش قدرت در حال از هم پاشیدن بود و فکر میکرد چون «رهبر» دیگر وظیفه خود را بطور دلخواه ایفا کرده نمیتواند باید او را عوض کرد ورنه حکومت بدست کمونست ها می افتد.» (۱۸۰) په دغه وخت کې د محمد داود حال د پاچا امان الله د پاچایۍ له وروستي حال سره ورته و. د محمد داود ځینو لوړ رتبه چارواکو د پاچا امان الله د چارواکو په شان په پټه ورانۍ او برالاغوره مالي کوله. دېوخ ځینو ناڅرګندو کمونستي افسرانو ددغه حال په درک سره د کمونېستانو ددغې مفکورې له مخې چې موخې ته د رسېدلو په لار کې د هر څه کول اخلاقي وي یا غیر اخلاقي جایز دي، په غوره مالي کولو او بدو ورکولو سره رسولي ته خانونه نږدې کړي وو. د رسولي مسلکي او شخصي ناوړتیا د کودتا په ورځ ثابته شوه چې حتی د سلیم عقل بر خلاف د لوی درستیز جنرال عبدالعزیز په ملګرتیا د نظامي قومندې مرکز پرېښود او په داسې حال کې چې له عسکري قطعو سره یې اړیکې شکېدلې وو، اول د قرغې فرقې او بیا د ریشخورو فرقې د فعال کولو په لور لاړل، ترڅو د کودتاچیانو لاس ته ورغلل او هغوی دواړه ووژل. که له دوی او

داسې هم محمد داود سره د امنیت خوندي ساتلو فکر په اساسي ډول وای د ښا ارامۍ د لومړیو تنبو په څرګندېدو سره به یې د قومندې یو پټ مخابراتي مرکز جوړ کړی وای. په هغه سربېره محمد داود د امنیتي چارو په اړه د خپل ورور محمد نعیم او حتی خپل مشر زوی محمد عمر او نورو خپلوانو مشورو ته هم غوږ نه نیوه، په داسې حال کې چې په خپله یې د پرمخ تللي عمر (دی دغه وخت ۷۹ کلن و) له امله امنیتي چارې په فعال ډول اجرا کولی نه شوې. له دې امله هم و چې محمد داود د شرق په وینا «یک مرحله ابتدایی عدم کفایت قلب و تصلب شرائین و خستگی گرفتار شده بود.» (۱۸۱) د دغو تولو عاملونو له امله به وې چې محمد داود په دغه وخت کې په یوه روایت د تصوف تر اثر لاندې تللی او وینې توېول ته یې زړه نه کاوه. (۱۸۲)

نو دی که څه هم «از فعالت ها و سخن های ضد دولتی کمونست ها مطلع بود، لیکن باوجود آن در مورد آنها تصمیم خود را به تعویق مي انداخت.» (۱۸۳)

نو ولسمشر محمد داود څه وخت چې عامه امنیت له خطر سره مخامخ و، له غوڅ عمل کولو نه هغسې ډډه وکړه؛ لکه پاچا محمد ظاهر چې دده پر ضد جنرال عبدالولي له عمل کولو نه اړولی و. په دې ډول د یوه د نه عمل کولو نتیجه د سرطان کودتا او د بل د عمل نه کولو پایله د ثور کودتا شوه چې په هغو سره افغانان په چنګیزي ډوله مصیبت واوبښتل او سیمه او نړۍ هم ناکراره شو.

# محمد داود

هغه سړی چې محمد داود (۱۹۰۹ – ۱۹۷۸)، د شلمې پېړۍ افغانستان پېښو باندې اثر کړی. بل افغان نه دی کړی، که څه هم لوړه زده کړه یې نه وه کړې. محمد داود له لس کاله (۱۹۲۳ – ۱۹۷۳) کوښښ توب نه پرته له خوانۍ نه تر پایه پورې څلوېښت کاله په ملکي او پوځي ساحو کې په زغرده حکومت کړی دی د عسکري قومندان، فرقه مشر، د مرکزي قواوو قومندان، د کورنیو چارو د وزیر، د ملي دفاع وزیر او د صدر اعظم په توګه او له یوې وقفې نه وروسته د افغانستان د لومړي ولسمشر په توګه. ده چې په اتلس کلنۍ کې په رسمي کار پیل کړی؛ په درویشت کلنۍ کې د فرقه مشري مقام ته ورسېد یا ورسول شو. په کندهار او فراه کې نایب الحکومه او عسکري قومندان هم و؛ لکه چې په لوی ننګرهار یا د هغه وخت په مشرقي کې یو خل اعلی حاکم او پوځي قومندان او بل خل پوځي قومندان او د تنظیمي رئیس و.

محمد داود تر ۱۹۴۷ پورې د خپل سکه تره صدر اعظم محمد هاشم تر سیورې لاندې کار کاوه. محمد هاشم د خپلې واکمنۍ کورنۍ له هسکېدو نه تر ۱۹۴۷ پورې اوولس کاله د صدر اعظمۍ چارې په دغسې لوړ اختیار سره اجرا کړې چې؛ لکه د افغانستان پاچا وي. هغه خپل دغه سکه وراره ته هم پوره اختیار ورکړی او ده هم د خپل تره په شان خپلې دندې په دغسې

غوځه توګه اجرا کولې چې د هغه له امله په خلکو کې د «لیوني سردار» په نامه یاد شو.

په دې ډول محمد داود چې د پاچا محمد ظاهر تربور او اوښې هم و، له دغسې بې خنډه لوړ دولتي واک سره روږدی شو چې له هغه نه پرته ژوند ورته کیف نه لاره.

محمد داود د خپلې صدر اعظمی په لسیزې کې وخلېد (۱۹۵۳ - ۱۹۶۳)، په دغې دورې کې لوړواک د یحیی خېل واکمنې کورنۍ دوهم نسل ته د پاچا محمد ظاهر، صدر اعظم محمد داود او د باندنیو چارو وزیر محمد نعیم په سروالي انتقال کړی و، خو محمد داود یې واقعي چلوونکی و. داسې ښکاري چې محمد داود غوښتل په دغې دورې کې د پاچا امان الله سمونیزې کرنلارې د جاري واقعیتونو په نظر کې نیولو سره پلي کړي. محمد داود هم د محمد ظاهر او نورو په شان د پاچا امان الله په وخت کې د زده کړې لپاره فرانسې ته استول شوی و. په دغه ډول د هغه نرۍ لید له محلي توب نه وتلی او پراخ شوی و، لکه په نولسمې پېړۍ کې چې د امیر دوست محمد، امیر شیر علي، او امیر عبدالرحمن نرۍ لیدونه په ګاونډیو هېوادونو کې په اوسېدلو سره پراخ شوي وو.

د محمدداود ملي ارمانونه د پاچا امان الله ارمانونو ته او د حکومت کولو طریقه یې د امیر عبدالرحمن او محمد هاشم طریقې ته ورته وه. په بله ژبه محمد داود سمونپال او زورواک ټینګ افغان و، خو پښتو یې نه ویله یا ویلی نه شوه او که څه هم ټینګ مسلمان و د پاچا امان الله په شان یې له پیرانو، ملایانو او مذهبي لویانو سره نه لګېده او هغوی یې د پرمختګ او عصري توب په وړاندې خنډونه ګڼل.

صدر اعظم محمد داود د خپلو لایقو وزیرانو په مرسته یو لړ اقتصادي، پوهنیز، اجتماعي او د نظامي سمونونه پلي کړل، د هغو لپاره یې له شوروي اتحاد، امریکې او نورو هیوادونو نه کریدتونه او هم بې عوضه پولي مرستې تر لاسه کړې. دا هغه وخت و چې شوروي اتحاد له دوهمې نړیوالې جګړې نه وروسته د ساړه جنګ په بهیر کې د سوله ییز ګډ ژوند په فضا کې افغانستان ته په اسانو شرطونو سره کریدتونه ومنل. اقتصادي سمونونه په دوو پنځه کلنو پلانونو سره عملي شول، چې په هغو سره د نورو پرمختیاوو په ډله کې لویې لارې کرېږ او کانکریت شوې او انتقالات او تګ راتګ ګړندي شو او د ملي پیوستون لپاره لار هواره شوه.

په دغې لسیزې کې عصري پوهنې د علي احمد پوپل په وزیرۍ د عادي، مسلکي او تخنیکي موسسو په ډېرېدو او د کابل پوهنتون په پراخېدلو سره ښه وده وکړه. د دغه انکشاف په نتیجه کې ډېر نوي کدرونه په دولتي ادارو او د پروجو په عملي کولو کې په کار ولوېدل. د پوهنې د پراختیا له امله و چې تعلیم کړې ښځې په بانکونو، روغتونونو او ښوونځیو کې په کار بوختې شوې. د تعلیم کړو ښځو شته والی او ډېروالی و، چې په کال ۱۹۵۹ کې د هغو مخ لوڅې او په ټولیز ډول د ښځو غورځنګ شونکی شو. په دغه کال کې پاچا محمد ظاهر، صدر اعظم محمد داود، وزیران او نور لوړ رتبه ملکي چارواکي او نظامي افسران له خپلو مخ لوڅو ښځو سره په کابل کې د عمومو په محضر کې څرګند شول. د هغو دغه کړه په ټول هیواد کې د نورو افغانانو لپاره سر مشق او د ښځو مخ لوڅې په خوښې او رضا سره نه په جبر سره عام شو. یوازې د کندهار په

ښار کې د ښځو په مخ لوڅۍ سره ناارامي پېښه شوه، خو هغه د هغه ولایت د نایب الحکومه محمد صدیق وزیري د پارونکي چلند نتیجه وه، چې هغه هم په نظامي قوې سره د یو څه وینو په تویولو سره زر وځپله شوه. په دې ډول د ښځو لپاره د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره ممکنه شوه چې د نارینه وو په ملګرتوب په اداري، سیاسي او اجتماعي ساحو کې برخه واخلي او د وطن پرمختیا چټکه کړي.

تر دغه وخته پورې پوځ چې په زیاته اندازه د شوروي اتحاد په کریډت او مرسته په عصري وسلو او پرسونل سره پیاوړی شوی و، د ناارامۍ په وړاندې ډاډمن سپر شوی و. په اصل کې د پوځ د پیاوړتیا په قوت و چې صدر اعظم محمد داود د خپل حکومت لوری د شوروی اتحاد په خوا اړولی و، که څه هم د افغانستان او شوروي اتحاد دولتي نظامونه او حتی اجتماعي او فردي ژوند لارې سره په څرګند اختلاف او حتی په تضاد کې وې. د افغانستان په تاریخ کې دا لومړی ځل و چې افغانستان له شوروي اتحاد سره ډېر نږدې شو. امریکا او نورو لویدیځ حکومتونه حاضر نه وچې په افغانستان باندې حتی وسلې خرڅې کړي. دوی د پاکستان خاطر ساته چې د سنټو مرکزي تړون موسسه (CENTO) او سیټو یا د سهیل ختیځې اسیا تړون موسسه (SEATO) نظامي اتحادیو غړی شوی و. دغه اتحادیې د امریکې په سروالي د هغې پراخې نظامي کړۍ برخې وې چې له هغو نه مطلب د شوروي اتحاد احاطه کول و.

دغو هېوادونو د پښتونستان په مسئله کې هم د پاکستان ملاتړ کاوه، په داسې حال کې چې صدر اعظم محمد داود د پښتونستان داعیه په ټینګه پرمخ بیوله. شوروي اتحاد په اصل

کې د دغه سیاست په درناوي چې په هغه سره یې د خپلې امپراتورۍ سهیلي اړخ مصون ګاڼه افغانستان ته مرستې او کریډیټونه منل، که څه هم افغانستان په نړیواله سطح کې د مثبت ناپیلتوب سیاست پر بنسټ عمل کاوه. خو له پاکستان سره د پښتونستان د کشالې په سر خړ پړتیا، د پاکستان لخوا د پولې تړل کېدل او د شوروي اتحاد له لارې د سوداګرۍ مالونو او نورو اړینو انکشافي څیزونه راوړل او له شوروي اتحاد سره د هر اړخیزو اړیکو ډېرېدل. په پای کې صدر اعظم محمد داود دېته اړ کړ په کال ۱۹۶۳ کې له صدر اعظمۍ نه خان ګوښه کړي. محمد داود تر دغه وخته پورې په خپلو اصلاحي کړنلارو سره افغانستان په شلمې پېړۍ کې داخل کړی او د پاچا امان الله ارمانونه یې د وطن د ابادۍ په اړه تر ډېرې اندازې واقعي کړي و.

اساسي داده چې صدر اعظم محمد داود یو پیاوړی دولت، باثباته ټولنه او د وطن د ودانولو کړنلارې نه میراث پرېښوولې او د قانوني پاچایي په لسیزې کې په یو څه بدلون سره نور هم ورته انکشاف ورکړل شو، خو د حیرانۍ ځای دی چې ولسمشر محمدداود له صدر اعظم محمد داود نه په اساسي ډول تغیر کړی و؛ لکه پاچا امان الله چې د اروپا په شپږ میاشتني سفر سره تغیر کړی و. همدغو تغیرونو دواړه نابریالي او هیواد یې په زوور ډول زیانمن کړ. د محمد داود د ولسمشرۍ پېښې په دغې لیکنې کې بیان شوي دي، دلته به یې اساسي ټکي په بیا ویلو سره وړاندې شي.

محمدداود په خپلې کودتا سره دغسې یو قانوني نظام له منځه یووړ، چې په لویې جرګې سره تاسیس شوی او په ملي

انتخاباتو سره تثبيت شوى و. ده په دې ډول قانون او قانوني نظام تر دې حده بې اعتباره کړل چې د هغه د كودتا پر ضد هم څو كودتاګانې وشوې او په پاى كې د ثور په كودتا سره دده نظام هم نسكور شو. محمد داود خپله كودتا هم په دغسې وروافسرانو سره تر سره كړه چې زياتره يې مسكو پلو كمونېستان وو. ده خپل كودتايي حكومت هم د هغو په ملګرتوب پيل كړ او په دې ډول يې مسكو پلو كمونېستانو په تېره پرچميانو ته اعتبار او حيثيت وركړ. ددغه چلند پايله دا شوه چې د اساسي قانون په نشتوالي سره دغه پرچميان په امنيتي څانګو كې د قدرت خاوندان شي او د خپلې ايډيالوجۍ له مخې د وطنپالو، اسلام پالو او په عمومي ډول د خپلو مخالفانو او رقيبانو پر ضد دسيسې وكړي. د محمد هاشم ميوندوال او خان محمد مرستيال د كودتا په پلمه يې تر ځلوېښتو ته ډېر پوځي، ملكي او اجتماعي افغانان په اعدام او بندي توب سره بې اثر كړل؛ لكه چې د غلام محمد نيازي په مشرۍ يې ډېر اسلام پالان بندي او يو څو تنه اعدام كړل او د هغو نور لويان يې اړ كړل چې وطن ترک كړي او پېښور ته واوړي. ولسمشر محمد داود د حكومت په چلولو كې د صدر اعظمۍ د وخت ملګرو ته هم د «ضعيف النفس» په خطاب كولو سره شا كړه په داسې حال كې چې هغوى د قانوني پاچايۍ په نظام كې وطن ته خدمت كولو ته دوام وركړى و. په همدغه لړ كې ولسمشر محمد داود د پوخ يو شمېر مسلكي جنرالان پخوا له وخت نه متقاعد كړل. ددغو ټولو چلندونو پايله دا شوه چې محمد داود خپل طبيعي پلويان او ملګري له لاسه وركړي او خپله ولسمشري ناتوانه كړي. په دغه حال كې هم ولسمشر

محمد داود په خپل خان دغومره ډاډه و چې د خپل ورور محمدنعیم او مشر زوی محمدعمر مشورو ته هم غوږ ونه نیوه او هغوی یې هم ناراضي کړل. ورور یې تر دې حده مخالف شوی و چې د هغه پر ضد یې کودتا غوښتله. محمد داود چې په خپلې صدر اعظمۍ کې په عمومي ډول د پاچا محمد ظاهر او وزیرانو په ملګرتوب حکومت کاوه افغانستان په هر لحاظ وړاندې ولاړ، خو افغانستان د هغه په ولسمشرۍ کې په ژور ډول کړکیچن شو. دا په دې املې و چې محمد داود زورواک و او له دموکراسۍ او د موکراتانو سره یې نه لګېده او تر دې حده د دولتي واک لېوال و چې هغه ته د بیا د رسېدلو لپاره یې له کمونیستانو سره اتحاد وکړ او یو قانوني نظام یې په کودتا سره نسکور کړ، نو ویل کېدلی شي چې د محمد داود په سروالۍ د سرطان کودتا د افغانستان د پرله پسې بې ثباتۍ سرچینه ده.

سره له دې هم د محمد داود وژنه هغه هم د هغه د کورنۍ له غړو او نورو سره غټ جنایت او لویه ملي تراجېدي وه. محمد داود د وژلو وړ نه، بلکې د درناوي وړ افغان و، په دې چې هغه خپل فامیل ته، خپلو خلکو ته او خپل هېواد ته وفادار و او خپل ټول بالغ عمر یې افغانانو ته په خدمت کې په پاک نفسي سره تېر کړی و، که څه هم د خدمت طریقه یې د زور واکي وه.

پای

# د ځینو اثرونو لنډه پېژندنه

د محمد داود دولسمشرۍ په اړه دوه اثرونه د هغه د نږدې ملګرو او نورو یې د نورو دي. د هغه له نږدې ملګرو څخه یو هم محمد حسن شرق دی. د «کرباس پوش های برهنه پا» په نامه د هغه اثر له ۱۹۳۱ څخه پیل کېږي او تر ۱۹۹۱ پورې رسېږي. په دغه اثر کې د عنوانونو پر ځای چې د بحث موضوع څرګندوي، یوازې عددونه راوړل شوي چې د بحث موضوع ترېنه نه مالومېږي. د محمد داود د صدر اعظمۍ په اړه یوازې څلور عددي عنوانونه هغه هم په دولسو مخونو کې لري، په داسې حال کې چې په دغو کلونو کې په افغانستان کې ډېرې پېښې شوې او ده ته به هغه مالومې وي، ځکه چې دی په دغه وخت کې دمحمد داود د قلم مخصوص مدیر یا منشي و.

شرق د محمدداود ولسمشري هم یوازې په پنځوس مخونو کې بیان کړې ده. شرق د دوارو برخو لیکنې په عمومي ډول له خپل یاد نه کېښلي، نه د سندونو، رسمي پاڼو یا حتی د هغه وخت د یادښتونو یا جورنال له مخې، نو ځکه هغه مستند او دقیق نه دي؛ جورنالستیکي او د ازاد ذاهن او ازاد قلم محصول دي؛ لکه چې ما په خپل دغه اثر کې ځای پر ځای راوړي، دهغه د ځینو پېښو روایت سم هم نه دی. ده خپلې سرچینې هم چې کله کله ورته اشاره کوي، په ناڅرګند ډول ذکر کړې دي. په هغه سربېره دده په دغه اثر کې دده خپل نظرونه پوره څرګند توب لري. سره له دې هم په دري سوه مخونو او لوېې

قطع کې دده دغه اثر مهم دی؛ ځکه چې په هغه کې زموږ د مهال افغانستان سیاسي پېښې بیان شوي. پر هغه سربېره محمد حسن شرق د افغانستان لومړی صدر اعظم دی، چې د خپل وخت پېښې یې بیان کړي. ده په واقع کې په دغه برخه کې نوښت کړی دی. څومره به ښه وي که نور دولتي لوړ چارواکي هم د خپل وخت پېښې بیان کړي او د شرق په شان خپلو لیکنو ته ابدیت ورکړي.

د محمد داود د ولسمشرۍ په اړه بل اثر د «رازی را که نمیخواستم افشا گردد» په نامه د غوث الدین فایق دی چې د سرطان په کودتا کې کلیزې او د نوښتګرې رول لوبولی او بیا د فواید عامې وزیر شوی دی. دی لا خپل خان «مبتکر اصلی انقلاب ۲۲ سرطان» بولي. هر څه چې و دی محمد داود ته منلی و او ده هم هغه ته خپلې انتقادي خبرې په زغرده کړې، که څه هم هغه نه دي منلې یا تولې نه دي منلې. د فایق اثر په وړه قطع کې په دوو سوو مخونو کې دی؛ لکه چې د هغه له سرلیک نه هم ښکاري، ده خپل اثر ددې لپاره کښلی چې د محمد داود د ولسمشرۍ د پېښو په اړه حقایق روښانه شي، چې د هغه په نظر نورو اړولې دي. په دې اړه دی په خاص ډول د شرق او نبي عظیمي اثرونه یادوي چې دده په نظر سم نه دي. فایق تر ډېرو سرلیکونو لاندې لنډ لنډ بیانونه کړي او خپل مطلبونه په ساده ژبه ادا کوي او له شرح ورکولو نه ډډه کوي. د سرطان د کودتا بهیر په قانع کوونکي ډول بیانوي. دده اثر هم د شرق د اثر په شان د یاد او ذهن محصول دی، خو څنګه چې دی لنډ او په غوڅ ډول ګرېږي، لیکنه یې هم ساده او رڼه او له ابهام او پېچلتوب نه عاري ده.

له اثر نه یې ښکاري چې دی ټینګ وطنپال او افغانپال او له وطن دښمنو او ولس دښمنو سره په ټینګه وران دی. فایق د ولسمشري د پېښو په اړه د زیاتو مالوماتو خاوند دی، خو څنګه چې خپل اثر یې له خپل یاد نه لیکلی له نیمګړتیاوو نه خالي هم نه دی. متقاعد ډګروال اقا سعید د فایق د اثر په اړه یو انتقادي کتابګوټی لري، په نامه د «رازی را که فایق افشا نکرد». وروستي خپل کتابګوټی هغو پېښو ته وقف کړی چې فایق په خپل کتابګوټي کې راوړي، خو زیاتره انتقادونه یې سطحي دي، خو دواړه اثرونه په ګډه د محمد داود د ولسمشري هغه پېښې چې بیانوي ښې روښانه کوي او لوستونکو ته موقع ورکوي چې هغه ښې درک کړي.

د هارون په قلم «داود خان د کی جی بی په لومو کې» کتابګوټی هم د محمد داود په اړه یو مهم اثر دی. هارون د لیکونکي مستعار نوم دی او ژبه یې کندهاري پښتو ده. داسې ښکاري چې هارون د څارندوی کوم افسر و؛ ځکه چې د کتابګوټي غټه برخه یې جنایي موضوع ګانو ته ځانګړې کړې. دا یوازنی کتابګوټی دی چې په افغانستان کې د (ک ج ب) او د هغې د افغاني ملګرو له تخریبي فعالیتونو نه ګړېږي، په تېره د افغانستان په شمالي سیمو کې. دغه سیمې له پخوا نه روسانو ته د توجه وړ وې، په کال ۱۹۷۷ کې په کریملن کې د بریژنیف - محمد داود لفظي ټکر د هغه غټ او څرګند مثال دی. د هارون اثر د شورویانو تر یرغل پورې رسېږي، خو دهغه د بحث موضوع ګانې پر له پسې نه؛ بلکې انتخابي او لنډې دي او ژبه یې هم رښه او ساده ده. هارون که څه هم په خپله د مهمو مالوماتو خاوند دی، داثر غټه سرچینه یې د «ع» په نامه کوم بل شخص

دی، دوی دواړه هر څوک چې دي د یوه دقیق او اعتبار وړ اثر خاوندان دي. که څه هم هغه وړ دی، که ددوی نوموړنه مالوم وای د کتابګوټي اعتبار به یې لا ډېر وای.

بل اثر چې د محمدداود د ولسمشري په اړه مهم مالومات ورکوي د «رویدادهای نیمه اخیر سده بیست در افغانستان» په نامه د محمد نذیر کبیر سراج دی، سراج په پوځ کې له اوږده خدمت نه وروسته په ۱۹۷۷ کې د ډګر جنرالۍ په رتبه خان ګوښه کړ. دی به د ښه استعداد خاوند و چې د پاچا محمد نادر له وژل کېدلو نه وروسته چې له منظم تحصیل نه محروم شو له کاتبي نه خان جنرالۍ ته ورسوه. دده اثر نه یوازې د پوځي پېښو په اړه مهم دی د هېواد د نورو پېښو په اړه هم مهم دی. څنګه چې دی د مطالعې خاوند و او کوم ګوند ته منسوب هم نه و، په اثر کې یې کوښښ کړی چې متوازن، افاقي او رښتیا ویونکی وي.

دی که څه هم له تاریخي افغانستان نه په لنډ ډول غږېږي خپل اثر یې په اصل کې د شلمې پېړۍ دوهمې برخې پېښو ته ځانګړی کړی. د محمد داود د ولسمشرۍ پېښې پکې په خاص ډول بیان شوي، څنګه چې دی د واکمنې کورنۍ غړي له نږدې نه پېژني او په خپله یې هم په پوځ کې مهمې دندې ترسره کړي او د تقوا او مطالعې خاوند هم و، اثر یې مهم او د اعتبار وړ دی. مهمه دا ده چې په خپل اثر کې یې پېښې په دغه ډول راوړي چې خپله پکې څرګند نه وي، نو ویل کېدلی شي، چې محمد نذیر کبیر سراج یو ارزښتناک او د اعتبار وړ اثر په میراث پرې ایښی دی.

د محمد داود په اړه ځانګړی اثر د عاصم اکرم دی په نامه

د «نگاهي به شخصیت، نظریات و سیاست های سردار محمد داود» په څلور سوه مخونو کې. د اکرم دغه اثر په زیاته اندازه د محمد داود صدراعظمي، ولسمشري او شخصیت ته وقف دی. د مالوماتو سرچینه یې هغه مرکې دي چې له نورو سره یې کړې. په دغه اړه یې له خپرو شویو اثرونو نه هم استفاده کړې ده. عاصم اکرم په تاریخ کې د فرانسې له سوربون پوهنتون نه د ډاکترۍ شهادتنامه تر لاسه کړې، خو دایې لومړنی څېړنیز لوی اثر دی، دغه اثر هم په زیاته اندازه امنیتي او سیاسي پېښو یا سیاسي تاریخ ته ځانگړی شوی. د پېښو نور اړخونه هم تر بحث لاندې نیسي. له دې امله دا یو گټور او په خپل نوع کې یو بېجوړې اثر دی.

بل اثر چې د محمد داود کودتا هم په کې بیان شوې د نبي عظیمي له خوا په نامه د «اردو و سیاست در سه دهه اخیر افغانستان» دی، له شپږ سوه نه په زیاتو مخونو او نوي قطع کې دا پنډ کتاب دی چې په کې له پوخي پېښو نه سربېره سیاسي او امنیتي پېښې هم بیان شوي دي، خو دغه اثر له خپرېدلو نه وروسته لاتجمن شو.

د لاتجمنۍ غټ دلیل یې دا دی چې دغه اثر د پرچم گوند په پلوۍ کښل شوی او د افاقي نه دی، یا ټول افاقي نه دی. د لاتجمنۍ بل لامل یې دا دی چې هغه د عظیمي په نامه نورو یاني نورو پرچمیانو لیکلی دی، له دې امله هغه یا هغه ټول د اعتبار وړ کېدلی نه شي، خو له نظر نه غورځېدلی هم نه شي؛ ځکه چې په دغه پنډ کتاب کې د وطن ډېرې سیاسي، نظامي، امنیتي او اجتماعي پېښې بیان شوي، نو له هغه نه باید په احتیاط سره د دغه څه په نظر کې نیولو سره استفاده وشي، چې

هغه په اصل کې د ګوندي غرض لپاره د ګوندیانو له خوا لیکل شوی او نبي عظیمي یې هسې په نامه یا تر زیاتې اندازې پورې په نامه لیکوال دی.

بل اثر چې د محمد داود صدراعظمي او ولسمشرۍ هم پکې بیان شوې د «افغانستان در قرن بیستم» په نامه د امین الله دریخ دی. دا په اصل کې د اوسني افغانستان عمومي سیاسي تاریخ دی، چې له معتبرو چاپي کتابونو له مخې له شپږ سوو نه په زیاتو مخونو کې په نوې قطع کې لیکل شوی او خپور شوی دی، دا د دریخ لومړنی مالوم لوی اثر دی چې کوښښ یې کړی ښېښې په کې په افاقي ډول بیان کړي او عامه افغانان له خپل تاریخ نه خبر کړي.

یادښتونه:

۱. صباح الدین کشککي، دهه قانون اساسی، غفلت زدگی افغان ها و فرصت طلبی روس ها، ناشر شورای ثقافتی جهاد افغانستان، پشاور، ۱۳۶۵ / ۱۹۸۲، ۱۲. شهرت ننګیال، شاه سابق محمد ظاهر شاه، ناشر، مرکز نشراتی میوند، پشاور، ۱۳۷۹ / ۲۰۰۰، ۳۰ - ۳۱. امین الله دریخ، افغانستان در قرن بیستم، انجمن نشراتی دانش، پشاور، ۱۳۷۹ / ۲۰۰۱، ۳۷۳. میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر، ناشر احسان الله مایار، ویرجینا، ۱۳۶۷ / ۱۹۸۸، ۴۷۵.

۲. فرهنګ، یاد شوی اثر، ۴۷۵.

۳. کشککي، یاد شوی اثر، ۱۲.

۴. دریخ، یاد شوی اثر، ۳۷۳.

۵. فرهنګ، یاد شوی اثر، ۴۷۴.

۵ الف. کشککی، ۱۳.

۶. محمد حسن شرق، کرباس پوشهای برهنه پا، چاپ شخصی، ۱۹۹۱ ، ۸۲.

۶ الف. شهرت ننگیال، شاه سابق محمد ظاهر شاه، مرکز نشراتی میوند، پشاور، ۲۰۰۱م، (۲۹)م.

۷. دریغ، ۴۲۹.

۸. دریغ، ۴۲۲.

۹. عاصم اکرم، نگاهی به شخصیت، نظریات و سیاست های سردار محمد داود، انتشارات میزان، ورجنیا، ۲۰۰۱، ۱۹۳.

۹ الف. کشککی، ۸۲. دریغ، ۴۴۲. فرهنگ، ۵۲۲.

۱۰. شرق، ۹۲.

۱۱. سراج، ۵۹، ۲۰.

۱۲. شرق، ۹۰.

۱۳. غوث الدین فایق، رازی را که نمی خواستم افشا گردد، ناشر کتابفروشی فضل، پشاور، ۱۳۷۹ / ۲۰۰۱، ۱۵.

۱۴. شرق، ۹۲.

۱۵. شرق، ۸۸.

۱۶. شرق، ۸۹.

۱۷. شرق، ۸۹.

۱۸. فایق، ۲۰.

۱۹. فایق، ۲۱.

۲۰. فایق، ۲۰.

۲۱. فایق، ۲۰.

۲۲. فایق، ۳۲.

۲۳. فایق، ۲۳، ۳۶، ۳۸، ۳۷.

۲۴. فایق، ۵۰-۵۲.

۲۵. شرق، ۱۰۱.

۲۶. شرق، ۱۰۳.

۲۷. شرق، ۱۰۷.

۲۸. شرق، ۹۹.

۲۹. فایق، ۴۴.

۳۰. فایق، ۴۵-۴۶.

۳۱. فایق، ۵۲.

۳۲. فایق، ۵۴.

۳۳. شرق، ۱۰۸.

۳۴. فایق، ۲۰.

۳۵. شرق، ۱۰۹.

۳۶. فایق، ۵۸.

۳۷. فایق، ۲۰.

۳۸. شرق، ۱۰۹.

۳۹. فایق، ۲۰.

۴۰. فایق، ۲۰.

۴۱. فایق، ۲۰.

۴۲. فایق، ۲۱.

۴۳. فایق، ۵۵-۵۷.

۴۴. شرق، ۱۱۰.

۴۵. فایق، ۲۱.

۴۶. فایق، ۲۲.

۴۷. عبدالغفار فراهي، افغانستان د دیموکراسۍ او

جمهوریت په کلونو کې، ۱۹۲۳-۱۹۷۸ ، څېړوونکی سپېدې، امریکا، ۲۰۰۱ ، ۲۲۵.

۴۸. فراهي، ۲۳۳.

۴۹. شرق، ۱۱۱.

۵۰. فراهي، ۲۲۳. دریخ، ۵۳۹-۵۴۱.

۵۱. فایق، ۲۲-۲۵.

۵۲. شرق، ۱۱۲-۱۱۵.

۵۳. تنگیال، ۸۱. دریخ، ۵۴۸. فراهي، ۲۲۲.

۵۴. سراج، ۴۹.

۵۵. فراهي، ۲۴.

۵۲. فراهي، ۲۵.

۵۷. فراهي، ۲۵.

۵۸. فراهي، ۲۲.

۵۹. فراهي، ۲۴.

۵۹ الف. فرهنگ، ۴۹۳.

۵۹ ب. پاچا محمد ظاهر د محمد داود د پخلا کولو لپاره شخصي کوښښ هم وکړ، خو نتیجه یې ورنکړه. د محمد داود د کورنۍ نفر خدمت عبدالکریم قصه عجیبه معلومېږي. دده په وینا پاچا یوه ورځ «... در کنار بستر محمد داود نشسته و شروع بمالیدن پاهای او کرد. وقتی محمد داود بیدار شد و پادشاه را در بالین خود دید بسوی پادشاه نگاهی غضب آلود کرد و از جایش برخاست و بدون مبادله حرفی با او اتاق را ترک کرد.» کشککي، ۱۵. تنگیال، ۴۴.

۶۰. فراهي، ۱۱۴.

۶۰ الف. تنگیال، ۷۰.

۲۱. سراج، ۲۵.
۲۲. سراج، ۲۲.
۲۳. سراج، ۲۷. عاصم اکرم، ۱۹۳.
۲۴. سراج، ۲۸.
۲۴ الف. تنګیال، ۷۸.
۲۴ ب. عبدالحمید مبارز، حقایق و تحلیل وقایع سیاسی افغانستان، ۱۹۷۳-۱۹۹۷، مرکز نشراتی حمید نور، پشاور ۱۹۹۷/۱۳۷۲، ۱۱. تنګیال، ۱۵.
۲۴ ج. تنګیال، ۷۹. مبارز، ۱۷.
۲۵. فراهي، ۱۹۷.
۲۶. سراج، ۲۸.
۲۷. سراج، ۷۲.
۲۸. عظیمي، ۱۱۳.
۲۹. فایق، ۷۱.
۷۰. مبارز، ۱۷.
۷۱. عظیمي، ۹۳. دریخ، ۵۴۸.
۷۲. دریخ، ۵۴۸.
۷۳. سراج، ۷۸-۷۹.
۷۴. سراج، ۷۸.
۷۵. سراج، ۸۵.
۷۶. فایق، ۹۴. شرق، ۱۲۰.
۷۷. دریخ، ۵۸۴. سراج، ۸۲، ۸۵.
۷۸. شرق، ۱۲۰.
۷۹. عظیمي، ۱۰۲.
۸۰. سراج، ۸۸.

۸۱. سراج، ۸۹.
۸۱ الف. هارون، ۲۵-۲۲.
۸۲. سراج، ۷۵.
۸۳. فایق، ۱۰۵.
۸۴. سراج، ۷۷.
۸۵. سراج، ۷۹.
۸۵ الف. عبدالصمد غوث، د افغانستان سقوط، بین المللي دفاعي خپرونکی، واشنګټن، ۱۹۸۸، ۱۸۹.
۸۵ب. هارون، ۲۵.
۸۶. غلام مصطفی رسولي، شهادت محمد هاشم میوندوال سر آغاز فاجعه افغانستان، دانش کتابخانه، پشاور، ۲۰۰۱/۱۳۷۹، ۲۷۱.
۸۷. سراج، ۸۲. فراهي، ۲۳۸.
۸۸. فایق، ۱۰۰.
۸۹. فایق، ۱۰۰.
۸۹ الف. سراج، ۸۷. میوندوال مؤلف رسولي ته د سراج د روایت پر خلاف له خپل نیول کېدو نه دمخه ویلي و چې: «زمانی به نزدش رفتم. داود خان بدون ارتباط موضوع به من گفت که بعضاً انسانهای نزد من می آیند که میخواهم رویش را بخورم.» ګومان نه کېږي چې دا به د محمد داود خبرې وي.
۹۰. هارون، ۲۲.
۹۱. هارون، ۲۲.
۹۲. واسیلي میتروخین، ک ج ب په افغانستان کې، د کرستین او سترمان او اوډ وستاد په زیار او پیلامه، د ساړه جنګ د بین المللی تاریخ پروجه، د پوهانو لپاره د وډرو ولسن

مرکز، واشنګټن، فبروري ۲۰۰۲، ۱۵۳.
۹۲ الف. فایق، ۹۵.
۹۳. د قول نقل، سراج، ۸۷.
۹۳ الف. هارون، ۲۵، ۲۷.
۹۴. عاصم اکرم، ۲۲۲.
۹۵. هارون، ۲۷.
۹۶. فایق، ۹۷.
۹۸. هارون، ۲۵.
۹۹. دریخ، ۵۹۰.
۱۰۰. سراج، ۸۷.
۱۰۱. اکرم، ۲۱۳.
۱۰۲. فایق، ۹۲.
۱۰۳. دریخ، ۵۸۹.
۱۰۴. فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر، ج ۲، امریکن سپیدی، ورجنیا، ۱۹۹۰، ۱۱.
۱۰۵. فرهنګ، ج۲، ۱۱.
۱۰۵ الف. سراج، ۹۲.
۱۰۶. هارون، ۲۲.
۱۰۷. هارون، ۲۱. عظیمي، ۱۰۱. فرهنګ، ۲، ۱۲.
۱۰۸. عظیمي، ۱۰۱.
۱۰۹. هارون، ۲۱.
۱۱۰. عظیمي، ۱۰۱.
۱۱۱. هارون، ۲۰.
۱۱۲. هارون، ۲۰.
۱۱۳. فایق، ۹۳.

۱۱۴. شرق، ۱۲۱.

۱۱۵. عظیمي، ۱۱۷.

۱۱۲. جارج ارني، افغانستان گذرگاه کشور گشایان، مترجمان، سید محمد یوسف علمي و حبیب الرحمن هاله، انتشارات میوند، پشاور، ۱۳۷۲ / ۱۹۹۷، ۷۳.

۱۱۷. محمد حسن کاکړ، طالبان او اسلامي بنسټ پالنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه - جرمني، پېښور، ۲۰۰۴، ۲۳۷-۲۲۴.

۱۱۸. صمد غوث، ۱۸۹. نبي عظیمي، ۱۱۰.

۱۱۹. دریخ، ۵۹۱.

۱۲۰. فایق، ۲۷.

۱۲۱. غوث، ۱۹۰.

۱۲۲. غوث، ۱۱۴.

۱۲۳. غوث، ۱۱۲.

۱۲۴. غوث، ۱۱۳.

۱۲۵. محمد حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او ډیپلوماتیکي تاریخ، ۱۸۲۳-۱۹۰۱، برل خپرونکي موسسه، لیدن، ۲۰۰۲، ۱۱۷-۱۹۲. ډیورنډ، د واحد ملت د بېلتون کرښه، د مقالو ټولگه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه – جرمني، ۲۰۰۷/۱۳۸۶، پېښور.

۱۲۲. غوث، ۱۱۳.

۱۲۷. فایق، ۱۱۸.

۱۲۸. فایق، ۱۲۱.

۱۲۸ الف. فایق، ۱۱۹.

۱۲۹. عظیمي، ۹۸.

۱۳۰. فایق، ۱۳۷.
۱۳۱. فایق، ۱۲۹-۱۳۱.
۱۳۱ الف. محمد حسن کاکړ، د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه - جرمني، پېښور، ۱۳۸۴ / ۲۰۰۵.
۱۳۲. دریخ، ۵۲۳.
۱۳۳. محمد علم فیض زاد، جرگه های بزرگ ملی افغانستان (لوی جرگه ها) شخصی چاپ؟، پېښور؟، ۱۹۸۹/۱۳۶۸، ۳۱۱-۳۵۱، فرهنگ، ۲، ۳۵-۳۸. دریخ، ۵۲۵-۵۲۷. فرهنگ د جرگې د ټولو غړو شمېر ۳۴۹ تنه او دریخ یې ۳۵۱ تنه ښیي.
۱۳۴. فیض زاد، ۳۰۹.
۱۳۵. فرهنگ، ۲، ۳۷.
۱۳۶. شرق، ۱۴۳.
۱۳۷. سراج، ۱۰۱.
۱۳۸. فایق، ۱۳۹.
۱۳۹. فایق، ۱۳۸.
۱۴۰. شرق، ۱۳۱.
۱۴۱. فایق، ۱۳۲.
۱۴۲. شرق، ۱۳۱.
۱۴۳. فایق، ۱۳۹-۱۴۲.
۱۴۴. شرق، ۱۳۲.
۱۴۵. غوث، ۱۷۳.
۱۴۶. سراج، ۸۵.
۱۴۷. سراج، ۸۳.

۱۴۸. کلدیپ نایار، د افغانستان په اړه راپور، د متحدو خپرونکو شرکت، دهلي، ۱۹۸۱، ۱۲۲.

۱۴۹. غوث، ۱۷۲.

۱۵۰. غوث، ۱۷۴.

۱۵۱. فرهنګ، ۲، ۲۸.

۱۵۲. غوث، ۱۷۴.

۱۵۳. غوث، ۱۷۵.

۱۵۴. غوث، ۱۷۴-۱۸۱.

۱۵۵. فرهنګ، ۲، ۲۹.

۱۵۶. د عبدالجلیل جمیلي دغه اته مخیزه لیکنه لومړی په افغان - جرمن .کام او وروسته د ۲۰۰۲ کال د مارچ په میاشت کې په کابل کې په اراده نومې خپرونې کې خپره شوې وه. په خپله جمیلي د هغې یوه نسخه ماته تر هغه دمخه عبدالغفار فراهي هم د هغې یوه کاپي را استولې وه. زه دلته له دواړو محترمانو نه مننه کوم.

۱۵۷. د پاکستان او افغانستان د هیئتونو د خبرو سرچینه یوازې د صمد غوث کتاب دی، چې هغه ما دلته په خپله ژبه په لنډ ډول بیان کړی. ۱۲۷-۱۴۸.

۱۵۸. غوث، ۱۴۷.

۱۵۹. نیکي کیدي، د انقلاب ریښې، د اوسني ایران تاریخي تحلیل، د ییل پوهنتون، ۱۹۸۱. سندرا ماکي، ایرانیان، فارس، اسلام او د یوه ملت روح، د پنګون خپرونه، ۱۹۹۲.

۱۶۰. غوث، ۱۴۸-۱۵۱.

۱۶۱. غوث، ۱۵۱-۱۵۲.

۱۲۲. نیار، ۱۴.

۱۲۲ الف. د افغانستان - امریکې د لومړي سیاسي پړاو اړیکې په دغه کتاب کې پوره او په مکمل ډول بیان شوي دي، لیون پولاده او لیلا پولاده، د افغانستان پاچايي او متحد دولتونه، ۱۸۲۸-۱۹۷۳، خپرونکې په اوماها کې د نبراسکا پوهنتون، لنکن، نبراسکا، ۱۹۹۵.

۱۲۳. غوث، ۱۵۳-۱۵۵.

۱۲۴. غوث، ۱۵۲.

۱۲۵. غوث، ۱۵۷.

۱۲۶. غوث، ۱۵۸.

۱۲۶ الف. شرق، ۱۲۱-۱۲۸. اکرم، ۲۸۷-۲۹۲.

۱۲۷. عظیمي، ۱۱۸.

۱۲۸. د جزا قانون، رسمي جریده، د افغانستان د دولت رسمي خپرونه، ۱۳مه گڼه، پرله پسې لمبر ۳۴۷، تله ۱۵، ۱۹۷۶/۱۳۵۵، کابل.

۱۲۹. فرهنگ، ۲، ۳۰. عبدالقدوس غوربندي، نگاهی به تاریخ حزب دموکراتیک خلق افغانستان، چاپ شخصي، سوید، ۱۳۷۹/۲۰۰۰. محمد حسن کاکړ، افغانستان د شوروي یرغل او د افغان ځواب، د کلیفورنیا پوهنتون خپرونه، لاس انجلس، لندن، ۱۹۹۵، ۵۸-۲۴. دریخ ۵۹۵. عظیمي، ۱۱۹.

۱۷۰. اکرم، ۳۰۵.

۱۷۱. دریخ، ۲۰۲. هارون، ۷۹.

۱۷۲. هارون، ۷۸.

۱۷۳. هارون، ۸۱.

۱۷۴. هارون، ۸۰.
۱۷۵. غوث، ۱۹۲.
۱۷۶. هارون، ۸۲.
۱۷۷. دریخ، ۲۰۰.
۱۷۷ الف. هارون، ۸۲.
۱۷۸. فرهنگ، ۲، ۴۲.
۱۷۹. دریخ، ۲۰۰.
۱۸۰. اکرم، ۳۱۸.
۱۸۱. شرق، ۱۴۴.
۱۸۲. اکرم، ۳۱.
۱۸۳. اکرم، ۳۰۵، ۳۱۷.

نذیر، کبیر سراج، رویدادهای نیمهٔ اخیر صدهٔ بیست در افغانستان، اریانا پلورنځی، فرانکفورت، ۱۹۹۷م، ۴ م

***

# منابع


جارج ارني. افغانستان، گذرگاه کشور گشایان. مترجمان. سید محمد یوسف علمی و حبیب الرحمن هاله. انتشارات میوند. پشاور. ۱۳۷۲ ۱۹۹۷

عاصم اکرم. نگاهی به شخصیت، نظریات و سیاست های سردار محمد داود. میزان. ورجنیا. ۲۰۰۱ امین الله دریخ. افغانستان در قرن بیستم. انجمن نشراتی دانش. پشاور. ۱۳۷۹ ۲۰۰۱

عبدالغفار فراهي. افغانستان د ديموکراسي او جمهوريت په کلونو کې. ۱۹۲۳ - ۱۹۷۸. سپيدي. امريکا. ۲۰۰۱

غوث الدین فایق. رازی را که نمیخواستم افشا گردد. کتابفروشی فضل. پشاور. ۱۳۷۹ ۲۰۰۰

محمد علم فیض زاد. جرگه های بزرگ ملی افغانستان (لوی جرگه ها) و جرگه های نام نهاد تحت تسلط کمونست ها و روس ها. چاپ شخصي؟. پشاور؟. ۱۳۶۸ ۱۹۸۹

میر محمد صدیق فرهنگ. افغانستان در پنج قرن اخیر. ناشر احسان الله مایار. ورجنیا.

۱۳۶۷ ۱۹۸۸ افغانستان در پنج قرن اخیر . جلد دوم. امریکن سپیدي. ورجنیا. ۱۹۹۰

صباح الدين كشككي. دهه قانون اساسی. غفلت زدگی افغان ها و فرصت طلبی روس ها . شورای ثقافتی جهاد . پشاور. ۱۳۶۵ ۱۹۸۲

محمد حسن كاكړ. افغانستان او اسلامي بنسټپالنه. د افغانستان كلتوري ودې ټولنه – جرمني. پېښور. ۱۳۸۴ ۲۰۰۴

د پاچا امان الله واكمني ته يوه نوې كتنه. د افغانستان كلتوري ودې ټولنه - جرمني. پېښور. ۱۳۸۴ ۲۰۰۵

د افغانستان سياسي او ډيپلوماتيكي تاريخ ۱۸۲۳ـ ۱۹۰۱ . برل خپرونكي موسسه. ليدن. ۲۰۰۲

افغانستان د شوروي يرغل او د افغان خواب. كليفورنيا پوهنتون خپرونه. لاس انجلس. ۱۹۹۵

نيكي كيدي. د انقلاب ريښې. د اوسني ايران تاريخي تحليل. ييل پوهنتون. ۱۹۸۱

سندرا ماكي. ايرانيان. فارس. اسلام او د يوه ملت روح. پنگوين خپرونه. ۱۹۹۶

واسيلي ميتروخين. ک ج ب په افغانستان كې د كرستين او سترمان او اوډ وستاد په زيار. ترجمه او پيلامه. د ساړه جنګ د بين المللي تاريخ پروجه. وډرو ولسن مركز. واشنگټن. ۲۰۰۲ «دې كتاب پښتو ژباړه اوس اوس د دانش خپرندويې ټولنې له خوا خپره شوې ده»

ليون پولاده او ليلا پولاده. د افغانستان پاچايي او متحده دولتونه. ۱۸۲۸ـ۱۹۷۳ . نبراسكا پوهنتون. لنكن. نبراسكا. ۱۹۹۰

شهرت ننگيال. شاه سابق: محمد ظاهر شاه. مركز نشراتي ميوند . پشاور. ۱۳۷۹ ۲۰۰۱

گلد بېناپار. د افغانستان په اړه راپور. متحده خپروونكو شركت. دهلي. ۱۹۸۱

عبدالحميد مبارز. حقايق و تحليل وقايع سياسي افغانستان. ۱۹۷۳ـ۱۹۹۷ . مركز نشراتي حميد نور. پشاور. ۱۳۷۶ ۱۹۹۷

محمد حسن شرق. كرباس پوشهای برهنه پا . چاپ شخصي. هند . ۱۹۹۱

غلام مصطفی رسولي. شهادت محمد هاشم ميوندوال سر اغاز فاجعه افغانستان. دانش كتابخانه. پشاور. ۱۳۷۹ ۲۰۰۱

عبدالقدوس غوربندي. نگاهی به تاريخ حزب دموكراتيک خلق افغانستان. چاپ شخصي. سويد . ۲۰۰۰

عبدالصمد غوث. د افغانستان سقوط. بين المللي دفاعي خپرونكي. واشنگټن. ۱۹۸۸

نذير. كبير سراج. رويدادهای نيمهٔ اخير صدهٔ بيست در افغانستان. اريانا پلورنځى. فرانكفورت. ۱۹۹۷م. ۴ م

ناچاپ شوې ليكنه د عبدالجليل جميلي. مرحوم محمد داود خان. اولين رئيس جمهور افغانستان و جريان مكمل و واقعی سفر رسمي ۱۹۷۷ او به مسكو

# انځورونه




ولسمشر محمد داود له خپلې میرمن زینب او لونو
زرښت، شینکۍ او درخانۍ سره
د عاصم اکرم له کتاب څخه



صدراعظم محمد داود او د شلمې پېړۍ ستر مبارز

خان عبدالغفار خان

د عاصم اکرم له کتاب څخه



صدراعظم محمد داود له ولسمشر ایزنهاور او باندنیو چارو وزیر
فاستردس سره په کابل کې په کال ۱۹۵۸ کې
د عاصم اکرم له کتاب څخه



صدراعظم محمد داود د شوروي اتحاد له مارشال بولګانین سره
په ۱۹۵۵ کې د دوستي د تړون د لاسلیک په حال کې،
له خروشچف او محمد نعیم او نورو لوړو چارواکیو سره



ولسمشر محمد داود د کابینې له غړیو سره



د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي محصلانې په کال ۱۹۶۰ کې



کابل، مارچ ۲۰۰۹

د افغان افسرانو له خوا د ارواښاد

محمد داود جنازه هدیرې ته د سپارلو په لور



کابل، مارچ ۲۰۰۹: د ارواښاد محمد داود جنازه خاورو ته سپارلو
یوه منظره



کابل، مارچ ۲۰۰۹: د ارواښاد محمد داود جنازه په دارالامان کې
د محمد داود غونډۍ کې د ښخولو په حال کې



کابل، مارچ ۲۰۰۹: د محمد داود په غونډۍ کې د ارواښاد محمد داود جنازه خاورو ته د سپارلو په حال کې